# فولکلور او فولکلوري ادبیات

Ketabton.com

پوهنوال احمد شاه زغم

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابل پوهنتون
د ژبو او ادبیاتو پوهنځی
پښتو څانګه

# فولکلور او
# فولکلوري ادبیات

لیکوال:
احمدشاه زغم

۱۳۹۴ ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: فولکلور او فولکلوري ادبيات

لیکـــوال: احمدشاه زغم

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنگي څانگه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

ډیزایـن: ضیاء ساپی

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۶۲)

يادونه: د چاپ حقوق له ملي تحريک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسوليت ليکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیك لړ

## سرلیك مخ

مخکینی خبرې.......................................................... ۱
تقریظ.......................................................................... ۳
تقریظ.......................................................................... ۵
تقریظ.......................................................................... ۷
ارزونه.......................................................................... ۸
سریزه (مقدمه)................................................................. ۹

لومړی څپرکی (فصل)
پښتوفولکلوریك ادبیات

۱- کلتوراوفولکلور.......................................................... ۱۰
۲- فولکلورپیژندنه.......................................................... ۱۱
۳- فولکلورپه لغت کې...................................................... ۱۵
۴- فولکلورپه اصطلاح کې.................................................. ۱۷
۵- دفولکلوردموادو راټولولولارې- چارې.............................. ۲۰
۶- دلومړی څپرکې دموضوعاتولنډیز..................................... ۲۶
۷- دلومړی څپرکې پوښتنې.................................................. ۲۸

دویم څپرکې (فصل)
دفولکلوریکو موضوعاتولنډیز

۱ – د فولکلوري موضوعاتو ډلبندي (تصنیف) :.......................... ۲۹
۴- فولکلوردولسي زیرمې په توګه.......................................... ۳۵
۵- دفولکلوریاولسي ادب ارزښت........................................... ۳۷
۶- ددویم څپرکي دموضوعاتولنډیز.......................................... ۴۰
۷- ددویم څپرکي پوښتنې.................................................... ۴۳

دریيم څپرکی (فصل)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفولکلورپېژندلوپس منظر

۱- فولکلورپېژندنه په لندن کې.......................................................۴۷
۲- فولکلورپېژندنه په شوروي کې.......................................................۴۸
۳- فولکلورځېړنه په شمالي اروپاکې.......................................................۴۸
۴- فولکلورپېژندنه په ایران کې....... ............ ........................................۴۹
۵- دفولکلورپس منظرپه لرغوني آریاناکې.......................................................۵۰
۶- په افغانستان کې دفولکلورپس منظر.......................................................۵۴
۷- په پښتو ژبه کې دفولکورټولونې پس منظر.......................................................۵۴
۸- دفولکلورپه برخه کې دلویدځوالواوختیځوپوهانونظر.......................................................۵۷
۹- ددرېیم څپرکي دموضوعاتولنډیز.......................................................۶۳
۱۰- ددرېیم څپرکي پوښتنې.......................................................۶۷

څلورم څپرکی (فصل)

پښتو فولکلوریك ادبیات

۱- دپښتوفولکلوري ادبیاتوډولونه.......................................................۶۸
۲- دفولکلورځانګړتیاوې.......................................................۷۱
۳- منظوم ولسي ادبیات.......................................................۷۳
۴- منثورولسي ادبیات........... ...........................................۷۴
۵-الف- نظوم (عامي اوخاصي)سندرې ...... .....................................۷۴
۶- دڅلورم څپرکي دموضوعاتولنډیز.......................................................۱۰۴
۷- دڅلورم څپرکي پوښتنې.......................................................۱۰۷

پنځم څپرکی (فصل)

دپښتو فولکلوریکوادبیاتوډولونه

۱-الف- ولسي نظمونه.......................................................۱۰۹
۲-ب- فولکوري نثر.......................................................۱۱۲
۳- د- ولسي نثرشکل.......................................................۱۱۳
۴- اسلم اونیکخته.......................................................۱۱۴
۵- مرداونامرد.......................................................۱۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶- دمنځپانګې له مخې........................................................................ ۱۲۱
چاربيته........................................................................................ ۱۲۱
۷- سروکي اوبيتونه............................................................................ ۱۲۴
۸-اتڼ............................................................................................ ۱۳۱
۹- بابولالې..................................... ........................................ ۱۴۰
۱۰- مصره ټپه او.......................... ........................................ ۱۴۳
۱۱- دپنځم څپرکي د لنډيز.......... ........................................ ۱۵۱
۱۲- دپنځم څپرکي پوښتنې.......... ........................................ ۱۵۳

شپږم څپرکي (فصل)

فولکلوري مقولې

۱- اسطوره اوځانګړنې.............. ........................................ ۱۵۴
۲- نکل.................................. ........................................ ۱۵۴
۳- هنراوفن.............................. ........................................ ۱۵۷
۴- دخلکوهنرونه (محتوااوشکل) له م................ .......... ۱۵۸
الف- دشکل له مخې.................. ........................................ ۱۵۸
۹- دشپږم څپرکي دموضوعاتولنډيز........................ ...... ۲۰۹
د شپږم څپرکي پوښتنې.................. ........................................ ۲۱۳
۱۳- نتيجه.................................. ........................................ ۲۱۵
۱۴-نوموني اصطلاحات........................ ........................................ ۲۱۶
وړانديزونه................................ ........................................ ۲۱۷
۱۵- ماخذونه.............................. ........................................ ۲۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) كال په پیل كې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه كړې وه چې د دې كال په بهیر كې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې كوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد كال د كب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ كې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې كړل.
ملي تحریك په یاده غونډه كې ژمنه وكړه چې د (۱۳۹۴ ل) كال په بهیر كې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې كوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه كار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ كړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی كوي. دا اثر چې ستاسو په لاس كې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه كړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته كړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیكوالو، ژباړونكو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر كې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا كړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی كړی، د زړه له كومې مننه كوي او كور ودانې ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مخکينۍ خبرې

الهي د خپل حبيب له برکته
دا ساده انشار رنګينه د رحمان کړې

په هيواد کې له درې لسيزو را وروسته ، يو ځل بيا د هيواد د اصيل فرهنګ د رغولو لپاره له ټولو خلکو سره مينه پيدا شو ، د علمي موسسو ، په سر کې د کابل پوهنتون ټول درسي او ممد درسي مواد له منځه تللي و ، خو يو ځل بيا يې د رامنځته کولو هوډ ونه وشول. په دې لړ کې په پښتو څانګه کې همدغه فرهنګي مينه او تلوسه را تانده شوه او دغو مضمونونو ياد بيارا تازه شو ، چې پخواد دغې څانګې اصلي مضمونونه ول او په څانګه کې تدري سيدل. د دغه مضمونونو په ليکه کې د پښتو فولکلوريکو ادبياتو مضمون، چې له نورو با اهميته آثارو سره توره ايره شوي و ، يو ځل بيا مارا ټول او تاليف کړل. ما چې په ۱۳۸۲ کال د نوموړي مضمون د تدريس چارې په غاړه واخيستې ، څانګې را نه وغوښتل څو د دغه مضمون د تدريس لپاره چې هيڅ درسي مواد نه و ، مواد را ټول کړم ما دغه وړاندېزو مانه او دلوړو زده کړو ورزارت د انسجام د کميسون له لارې مې مفردات برابر او کار مې پيل کړ. دليکو ل پاره يې ډېر او پوخوانې او او سنيو اثارو با تجربه خلکو ته مراجعه وکړ او ورسره کورو وکلي ته هم لاړم او د فرهنګ د قيمتي هار دغه ملغرې مې څه ناڅه سره وپېلې. د دغه کتاب په ليکو کې ډېرو دو ستانو وس کړي او مرستې يې نه دي رانه سپمولي هغه استادانو ، دوستانو او خوړ و محصلانو چې له ما سره په دې کار کې مرسته کړي ، په ځان پور ګنم چې نومونه يې واخلم او کوروداني ورته وو ايم. د څانګې ټولو درنو استادانو په سر کې استادانو وزيري ، سيار صاحب ، يزال صاحب استاد جاج ، استاد صابر خان ، حقپال صاحب ، لورين صاحب ، اجمل خان ، استاد رفيق ، استاد انور جان ، مکمل صاحب ، داکتر صاحب مجاور احمد زيار ، داکتر صاحب زيور او ډاکټر زرغونې زيور ، اڅک صاحب ، د ادبياتو پوهنځي رئيس ښاغلي استاد کبير

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظامي او د نشراتو له رئیسې استاد ریحاني.. او د دري څانګې استادانو ، پوهاند صاحب قیوم قویم ، داکتر صاحب بنووال ، پوهاند صاحب حسین یمین ، د ساینس پوهنځي رئیس ډاکټر صاحب تنیوال ، د وترنري پوهنځي رئیس ډاکټرصاحب ایوبي ، د ساینس پوهنځي استاد غوري صاحب د ادبیاتو پوهنځي د آلماني څانګې آمر محترم استاد بهبود او استاد ډاکټر صاحب نسیمي ، د ټولنیزو علومو استادانو پوپل صاحب او ډاکتر پنجشیري او د شرعیاتو پوهنځي استاد نورزايي صاحب او نورو استادانو او همدارنګه د شپې برخې د څلورم ټولګي خوږو محصیلینو وحید الله جان ، رفیع الله جان او ګران ورور خالد جان ، د ورځې برخې ګرانو محصلینو هارون جان ، بختیار احمد ، د B-B-C راډیو کارکونکې ناجیه جانې ، موسی جان ، فرید جان ، حیدر جان ، زمري جان ، جاوید جان وزیري او ډیرونورو درنو دوستانو په سر کې د پښتو څانګې د څلورم کال اول نمره او سرتاج محصل ښاغلي صفي الله جان او په تیره د نشراتو محترم مدیر حسین جان او نوید جان او نورو ، چې له ما سره د دې اثر د لیک ، چاپ ، ډیزاین ، او انځورونو د برابر ولو او جوړلو په کار کې پوره مرستې او همکاری کړي ، ترې ډیره مننه کوم.

څو دې توان رسي د ښو لپاره وس کړه<br>
له تیارو او تورتمونو څخه بس کړه

دا تاسو او دا کتاب<br>
پوهنوال احمد شاه (زغم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تقريظ:

تحقيق و تفحص در زمينهء مسايل فولکلوري و شناخت ، از مباحث بسيار مهم ميباشد ، به دليل اينکه بسيار از جوانب زنده گي انسانها در آقشار فولکلوري بازتاب يافته است ازآن تاريخي که جورج فريز انگليسي در قرن ۱۹ م به نوشتن کتاب شاخه طلايي (Golden bough) در راستاي موضوعات فولکلوري پرداخت و اهميت اين ساحه را ايضاح نمود تا امروز در کشور هاي مختلف و در ميان ملل گوناگون علاقه مندي به گرد اوري اثار فولکلوري ، ترتيب و تنظيم آرشيف نمودن و سپس تحليل و بررسي داشته هاي فولکلوري روبه تزايد است. در افغانسان توجه به گرد اوري آثار فولکلوري ، به بخصوص ضرب المثل از زمان امير حبيب الله خان به اثر تلاش محمود طرزي شروع شد و ماحصل کار هاي انجام شده در اين زمينه در جريده سراج الاخبار افغانيه انتشار يافت اين سعي و تلاش در توالي زمان ، پاياي خود را از دست نداد . مخصوصا پس از حصول استقلال کشور (سال ۱۹۱۹ م ) کار در ساخت فرهنگي قوت يافت و در انجمن ادبي کابل به مسايل فولکلوري نيز عطف توجه صورت گرفت. بحث و بررسي در اين مورد تا سالهاي ، ۱۳۳۰ و . ۱۳۴ به گونه ابتدايي به پيش ميرفت ، مخصوصا از دهه چهل برخورد جدي تر علمي تر به موضوعات فولکلوري صورت گرفت و نتايج تحقيقات و امکان نظر محققان اين ساحه در کنفرانسها ، سيمينارها ، کتابها و مجله ها و روزنامه انعکاس يافت. نظر به اهميت اين بخش فرهنگ ، مضمون فولکلوري شناسي در بعضي از ديپارتمنت هاي چند پوهنځي پوهنتون کابل و بعضي از پوهنتون هاي و لايات ، تدريس ميشود. به اساس يک ضرورت مبرم درسي ، محترم پوهندوي احمد شاه زغم استاد ديپارتمنت پښتو در پوهنځي ادبيات پوهنتون کابل ، به تجرير کتاب درسي « پښتو فولکلوريک ادبيات»

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرداخته است این کتاب علاوه بر مقدمه ، هدف و اهمیت مضمون پس منظر مضمون ، دارای شش فصل و نتیجه ، اصطلاحات ، پیشنهاد و ماخذ میباشد ، محترم پوهندوي زغم در هر فصل مباحث مختلف را به نحو دقیق مطابق به معیار هاي کتب درسي در مقیاس پوهنتونها مورد تحلیل قرار داده و در پایان مطالب هر فصل پرسشها يي را مطرح کرده است.در این کتاب بر علاوه توضیح لغات و اصطلاحات مربوط به فولکلور ، طریق و روشهاي جمع اوري مواد فولکلوري مشخص گردیده است هم چنان انواع ادبي فولکلوري را به صورت جداگانه به بررسي گرفته ماهیت هر کدام را با چگونه گي ارزشمندي ان در گمچیمخ ائبیان فولکلوري ایضاح نموده از هر کدام نمونه هاي ذکر کرده و به تشریح چاپ و تبین انها مبادرت جسته است بنا بر ان کتاب درسي محترم پوهندوي زغم براي ارتقاي موصوف به رتبه علمي پوهنوال ، کاملاً مناسب و کافي است.

با احترام

پوهاند دکتور عبدالقیوم قویم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تقريظ:

کتاب درسي (پښتو فولکلوريک ادبيات) که براساس پلان مطروحه درسي ديپارتمنت پښتو توسط محترم پوهندوي احمد شاه زغم براي ترفيع به رتبه عملي پوهنوال تاليف و تدوين شده است از مضامين اساسي ديپارتمنت ميباشد ، چه ادبيات فولکلوريک يک بخش مهمي از ادبيات جامعه را احتوا کرده معرف حقيقي داشته هاي فرهنگي و ادبي مردم ميباشد .

ادبيات فولکلوريک از لحاظ قدامت بر ادبيات تحرير و از اينکه حيقيت دانش نخستين افراد جامعه را دارد و نيز از انجايي که ادبيات فولکلوريک از تاريخ و فرهنگ ديرينه اجتماع نماينده گي کرده يک بخش ارزنده ميراث فرهنگي را تشکيل داده است در زمينه مختلف علوم مورد استفاده قرار گرفته در عرصه هاي گوناگون ، تحقييقات تاريخي و فرهنگي را ياري ميرساند ، مردم شناسي باستانشناسي و نژاد شناسي ادبيات فولکلوريک پښتو که تاريخي کهن داشته و داراي غنامندي خاص خود است پژوهش در موضوع دقت و تلاش ويژه يي را ايجاب ميکند .

محترم پوهندوي زغم در زمينه ادبيات فولکلوريک پښتو تحقيقات دقيق و ارزشمندي را انجام داده مواد دخول درسي را در همه ساحه هاي ادبيات فولکلوريک پښتو فراهم اورده است ،موصوغ در موضوعات مختلف مربوط به فولکلور از قبيل تعريف لغوي و اصطلاحي فولکلور ، فولکلور وکلتور ،ارزش فولکلور ، بخشبندي موضوعات فولکلور ، نظر دانشمندان غرب و شرق درباره فولکلور و اهميت پاسداري از آن ، مضله هاي فولکلوريک و عرصه هاي مطالعه ادبيات فوکلوريک به حد کافي تحقيق کرده بالنوبه در پيرامون ادبيات فولکلوريک پښتو و مشخصات ان ، مقوله هاي ادبيات فولکلوريک پښتو ، ادبيات منظوم و منشور فولکلوريک پښتو تحقيقات جامع و بررسي انجام داده است ، و اين همه در معرفي وشناخت ادبيات فولکلوريک پښتو بسنده و کافي است ، از انجايي که لازمه يک کتاب درسي است اين اثر در پايان هر بخش

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصه بحث و توام با پرسشها در زمینه را هم احتوا کرده شرایط یک کتاب درسي مرجع را پوره نموده است تا انجا که این اثر علاوه از استفاده به حیث مواد درسي براي سایر علاقمندان این رشتهء ادبیات منبع خوبي بوده میتواند چون محترم پوهندوي احمد شاه زغم در کار تحقیق و ندوین این اثر خوب موفق بوده و وي یکي از ضرورتهاي دیپارتمنت را در بخش تهیه مواد درسي بر اورده ساخته است مستحق ترفیع به رتبه علمي پوهنوال میباشد ، البته با چاپ آن نه تنها سهولت در کار تدریس بلکه هم چنان استفادهء عام از ان میسر میگردد ، به امید موفقیتهاي بیشتر نگارنده در پژوهشهاي اینده ء شان.

با احترام

پوهاند دکتور محمد حسین یمین

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تقريظ:

ددرسي کتابونو ليکل د ځانګي يو اهم ضرورت دي خوله نيکمرغه اوس د ځانګي استادانو دغه ضرورت ته خپله ډيره پاملرنه را اړولي ده او د درسي کتابونو ليکلو ته يې متې را نغاړلي دي څو دغسي ستو نزې د پاي ټکي کيږدي . ښاغلي پوهندوي احمد شاه زغم چې د ځانګي يو تکړه او با تجربه استاد دي له کلونو کلونو راهيسې يې دغه مضمون په برياليتوب سره تدرس کړي دي او په دې برخه کې يې کره او ښه پاخه مواد د دغه درسي کتاب د ليکلو په اړوند د خپل څو کلن تدريس پرمهال را ټول کړي دي دا دي اوس يې د يو درسي کتاب په توګه خپلو زده کوونکو او نورو مينه والو د استفادې له پاره وړاندې کړي دي . دغه کتاب د يوې جامع سريزې ، شپږوڅپرکو ، پايلې ، وړانديزرونو او دکره ماخذونوڅخه په ګټې اخستينې سره د زده کوونکو او در نو لوستونکو ته وړاندې کړي دي . د کتاب بله ځانګرتيا دا ده، چې د درسي کتاب ليکنې ټول معيارونه په نظر کې نيول شوي دي ، په دې معنې، چې ليکوال د هر څپر کي په پاي کې د زده کوونکو د ښه پوهاوي په خاطر هر څپرکي د موضوعاتو لنډيز راوړي دي او په پاي کې يې پوښتنې هم طرحه کړي دي چې د درسي کتاب ليکينې يوه مهمه برخه تشکيلوي . تر هر څه د مخه زغم صاحب ته د دغه کتاب د ليکلو مبارکي وايم او د لوی څښتن څخه ده ته د لاڑياتو علمی اوادبی برياليتوبونو هيله کوم . څرنګه چې محترم استاد زغم دغه کتاب د پوهنوالۍ علمي رتبې د لوړيدو لپاره کانديد کړي دي ز ه دپوهنوالۍ علمي رتبې ته د لوړيدو لپاره د نورو شرايطو په نظر کې نيولو سره دغه اثر کافي او پشپړ ګنم او د پوهنتون د خپرونو له رياست څخه په درنښت هيله کوم ،چې دغه کتاب ژر تر ژره د چاپ په زيور ښکلي کړي .

په درنښت

پوهاند محمد صابر خويشکي

د پښتو ځانګې استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ارزونه:

د پوهاندوی احمد شاه زغم( د پښتو فولکولوري ادبيات ) يوهنيز او څېړنيز اثر مې سر تر پايه وکوت او وارزاوه په دغه اثر کي اړوند سکالو( موضوع ) ښه تراڅېړل شوې او د څېړندود (ميتودولوژي ) تول اړخونه او ارونه پکي سمبال شوي او يو لړ نوي تکي پکي ګټه اخيستل شوي ، چه د کتاب په پاي کي ښوول شوي دي. استاد احمد شاه زغم ډير هڅه کړي دي ، چي دغه اثر د يو درسي کتاب په توګه له تيوريکي پوله ښه ترا وڅيري او چمتو کاندي ، د وګني او ګرني (عاميانه او شفاهي ) . په بله وينا ، (ولسي ادب ) پر ټولو خپلونو ( ژانرونو ) يې رڼا واچوي او ډ ليندي يې کړي او له تدريسي آرونو ( اصولو ) سره سم يې واو ډي او ترتيب يي کړي. زه پر خپل وار د ښاغلي استاد زغم دغه نو ښتګرانه او ګټور اثر لوړ ارزوم او پوهنوالي علمي رتبې ته دلوريدو او چاپ لپاره غوښتنه کوم او د استاد زغم د لازياتو بريو او بريا و وپه هيله يم.

پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سريزه: (مقدمه)

فولکلور پېژندنه په عمومي ډول د ټولنو د عامو و ګرو د طبعيت پېژندنه ده. په ځانګري ډول پښتو فولکلور، د پښتو او افغاني ټولني د ګنو ولسونو پراخ دو دونه او ولسي ژوند انځوروي. فولکلور که مادي دي او که معنوي ، د دي ولس ستره شتمني ګڼل کيږي، د دې لپاره چي فولکلور د ولسونو مال دي نو د فولکلور پېژندل ، را ټولول ، ځاي پر ځاي کول يو حتمي خبره ده. پښتو فولکلوريک ادبيات کتاب ،چې ما اوس برابر کړي دي ، د دې ځانګي تدريسي کتاب دي، چې د ځانګي د اړتيا له مخي برابر شوي دي. دغه کتاب شپږ څپر کي لري، چي په هر څپر کي کې اړوندې موضوع ګانې په لنډه او کره دول تشريح شوي او په هر فصل کې لنډيز او پوښتنې هم راغلي دي. هڅه مې کړي دغه کتاب د اوسني کتاب ليکنې په علمي او تدريسي معيارنو سره سم ولیکم او د ځانګي تدريسي ستونزې حل کړم.

فوکلور انګلیسی کلمه ده چی په ۱۸۴۶م کال w.J-thoms لومړی ځل لپار وکاروله ،له هغه ادواو له هغه وروسته په نوروارو پانی اوآسیانی هیواد اوله هغه رواسره سم په پښتوادب کی هم استعمال شوه.

فولکورته یه پښتوژبه کی (ولسی پوهه) ،پرته درعجیکی کی ورته (خلیقات )،پـه فارسی –دری کی د(فرهنګ مردم )اوپه نوروژبوکی نورنومونه ورته اخستیل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړي څپرکی

## پښتو فولکلوریک ادبیات

### ۱- کلتور او فولکلور :

کلتور ، ثقافت یا کلچر (Culture) یا فرهنګ د ملتونو د تهذیب او تمدن نښانه ده ، د ملتونو د کلتور پوړی (سطحه) هغه وخت مونږ ته ښه څرګند یږي چې د هغو خلکو په فولکلور ښه و پوهیږو او د هغوي فولکلور سره ښه بلدتیا ولرو . کلتور یا ثقافت د انسان د ارتقائي ژوند او عمل یو مجموعي پانګه ده ، چې د انساني ژوند له پیل څخه تر اوسه پورې ورو ورو راغونډه او خوندي شوه ده. د کلتور په دي لویه تاریخي مجموعه کې لاندي اجزاوې شاملې دی:

۱- «د ولسي ژوند نظام (Social Process) ۲- تمدن ا و تهذیب (Civilization) ۳- روایات ژبه (Communication) هر ډول اداري ولسي ټولني ، هر ډول ټولنیز دودونه ، کیسې ، دم ، درود ، جادو ، اقتصادي ، اداري تنظیمونه ، تعلیم ، تربیت ، ادب ، قانون ، فلسفه ، اخلاقیات ، علوم او فنون ، موسیقي ، نقاشي ، لوبي او لنډه دا چې د ولسي ژوند د هر اړخ سره متعلق عمل چې د تاریخي دور له ابتدا نه وروسته راپدې خوا روان دی ، د کلتور یا ثقافت په دایره کې شمارلې شي» (۲،۵:۲۴) فولکلور پخپله د کلتور یو توک (جز) دي. د کولتور جاج (مفهوم) بیخي ارت او هر اړخیز دي ، سیمه ایز کیداشي ، مګر کلتور کله-کله د یو هیواد له پولو هم وراوړي. که دلته ځیني ترمینو لوژیکي توپیرونه هم په پام کې ونیسو ، بیا هم په هیڅ ډول فولکلور د کولتورله ډګره وتلای نشي ،سره له دې که فولکلور په یوه الواک (نظر) یواځې په وګړني ادب ، دود و دستورپورې تړلی هم وګڼو ، کلتوراو ثقافت پراخ مفهوم لرلی شي ، کلتوردیوې ټولنې ټوله مادي او معنوي شتمني رانغاړي ، په کلتورکې د ژوند پراخه اړخونه ځلونه کوي. همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کلتور اغيزې د ژوند په بيلابيلو برخو او اړخونه کی کوي او ځلونه ډ اگيزه دي ، له همدې امله ده چې د کلتور خيرنه او په هغه پوهيدل په هرې ټولنه کې ځانته ارزښت پيدا کوي. د يو ليکوال خبره :

کلتور د يوې ټولنی عمومي کړه وړه ،اعمال ،مهارتونه ، عقيدې ، او سلوک راچاپيروي او فولکور د يوې ټولنی د کولتور تکاملي پروسه ده ، او له کولتور سره په اړيکه کې دی.» (۱:۲۱).

دا سې هم ويلي شوي چې کولتور د انساني ټولني د ژوند عمومي اړخونه رانغاړي او فولکلور د ژوند يوه پراخه برخه پا يه بله وينا:

کولتور د کل او فولکلور په کې ،د ستر جز مثال لري ، ټولنې فولکلوري پديدې د يوې ټولنې د کولتوري ميراثونو زيږنده او د کلتور جز دي او يوله بله سره نه شلېدونکي دي. د ملتونو او قبايلو د کلتوري ميراثونو د تاريخي بهير مطالعه د هماغه ملت او قوم د ټولنيزو او قبيلوي روابطو او نورو اړ خونو ښه رڼا اچوي.

کولتور د متمدنې ټولنې د انسانانو د ژوند د کليت مطالعه او پلټنه ده او فولکلور په کليت کې د ټاکنو مثال لري ، کولتور د يوه بڼ ټولو گڼوونو او بوټو ته پاتې کيږي او فولکلور په بڼ کې د خاصو ، خاصو و نو او ځانگرو گلانو او بوټو ننداره ده. کلتور د يو هيواد ، ملت او ټولنې د خلکو د ثقافت عمومي کچه او اندازه څرگندوي ، يعنې د هغو خلکو چې په يوه ملت پورې اړوند دي د اروايوهنې ښه بيلگه کېدا شي ، د ساري په ډول د پښتو ميلمه پالنه د دوي د عام کولتور نماينده گي کوي ټولي معنوي او مادي شتمنۍ د کلتور په دايره کې راځي.

## ۲- فولکلور پېژندنه :

که د لويې نړۍ په غيږ کې د انسان د کرامت او لوړتيا درجه د هغو په کلتور کې نغښتې وبولو نودا خبره د دې معني لري چې يوه ټولنه په ثقافت او کلتور ژوندی ده او ژوندۍ به وي. فولکلور او دودونه د ثقافت يو درون د او په زړه پورې اړخ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يو ملت ثقافت تر ډيرې اندازې پورې د هغه له فولکلور څخه ښه څرګنديږي فولکلور د ملت تير ژوند پر بيلا بيلو اړخونو ښه رڼا اچوله شي او د راتلونکي ژوند د ښه والي لپاره ښې او په زړه پورې لارې چارې په ګوته کوي (۱۰:۸۳ )
د فولکلور له کلمې سره بلد تيا که څه هم نوې خبره ده خو د ولسي ادب له روحيې سره آشنايي بيا بل مفهوم لري ځکه ولسي ادب او ولسي ژوند له ډيرو زمانو له انسان سره مل دي. د فولکلور کلمه کابو يوه پيړۍ کيږي چې مروجه شوې ده اما د ولسي ژوند اهميت او سابقه خورا لرغونې ده دلته به د فولکلور او يا ولسي توب په برخه کې ځيني نظريات را واخلو ګڼ شمير پوهان پدې اند دي چې د وروسته پاتې هيواد له تاريخ نه د دغو هيوادنو فولکلور ډير مخکې دي او دا ځکه چې د وروسته پاتې هيواد و تاريخ ياد نورو په لاس کښل شوي دي او يا د کوم ځانګړې غرض له مخې ليکل شوي دي.
پوهان دا خبره هم ورسره عبرګوي چې که تاريخ د يوه ملت يا د يوې ټولنې د موجوديت يوازې سطحي او قشري پته راښيي. نو فولکلور مورږ د هغو له روح سره آشنا کوي او د خلکو مفکورې ، جذبات او آرزوګانې پکې منعکس کيږي.
۱- که يو ملت د خلکو د ژوند بهير ته ښه چمتو شو په زغرده ويلای شو چې عنعنه دود او دستور د هماغه ملت د خلکو په ژوند کې آن تر ديني مناسکو ليک لوست او تاريخ مخينه لري ، مثال په ډول د عربو د جاهليت په دوره او يا زمونږ د هيواد د خلکو تر مسلمانيدو د مخه د هغو يا دغو هيواد و خلک د يولړ عنعوي موازينو درلودونکي و ، دو ي ټولو د عنعنوي ، ولسي نرخونو او روايتونو له مخې سره ژوند کاوه ، عقيدې او باورونه يې درلودل ځکه وايو چې ولسي نرخ ، ولسي عنعني يا په جامع ډول فولکلور د يوې ټولنې د ژوند هنداره ده ، داسې هنداره چې د هماغه ټولنې د خلکو ژوند په ښه توګه پکې منعکس شوي وي.
۲- پرهان دا هم زياتوي ، که څوک وغواړي چې د يوې ټولنې د ژوندانه په بهير او دغه راز د هغې ټولنې د خلکو په افکارو ، عقايدو ، انګيرنو او پدې بر سيره د هغې ټولنې په تاريخي دريځ او نورو اړخونو ځان پوه کړي او د هغې ټولنې په فولکلور کې ژوره اړ هر اړ خيزه مطالعه وکړي. د يوې ټولنی او يا يو ولس د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فولکلور له مطالعې پرته د هغې ټولنی او ولس د پیژند لو په باب هلې ځلې روښانه نتيجه نه لري.
۳- له پورته یادونو څخه زموږ مطلب دادي چې ، په فولکلور او ولسی توب کې د ژوند اصلي روحیه نغښتې ده.
۴- څرنګه چې د فولکلور زیاته برخه ولسي یا شفاهي ادب جوړوي ، نو هنر هم را چاپیروي. شیلر او سپنسر عقیده درلوده چې د هنر انګیزه د لوبو له انګیزې څخه را پیدا شوې ده او د نړی ستر ادب پوه ماکسیم ګورکي (Maxim Gorki) به ویل د لفظي هنر پیل په فولکلور کې دی. حتی د لرغوني یونان ، د عربو او د ختیځ د ګڼ شمیر هیوادو ډیر و سترو لیکوالو آثار په فولکلور بنا شوي دي. د فارسي – دري ادبیاتو د ادب ځلانده ستوری ابو القاسم فردوسي نړیوال شهکار شهنامه د فولکلور یک داستان ښه لري همدارنګه د پښتو ادب پلار خوشحال خان (۱۱۰۰-۱۰۲۲) ډیر ښه ادبي شهکار دستارنامه هم یو له مهمو پښتو فولکلوریکو اثاررو څخه ګڼلي شوی ده چې د پښتون ولس د طبیعت ځلانده هنداره ګڼل کیدای شي.
۸- د دي لپاره چي نن ورځ د فولکلوریکو څیړنو ساحه یوازې د هنر او ادبیاتو په برخه کې نه محدودیږي او له دې څخه ډیره جامع ده چې اساطیر ، افسانې ، منظومی. کیسې. متلونه ، ګډا ، لوبې ، کوډې ، خرافات. کرکې او کرنې ، انګیرنې ، سندرې ، ترانې ، سرودونه .. رسم او رواجونه ، ولسي فوانین ، ټولنیزې لارې چارې ، نجوم ، کلیوالي طب او ... رانغاړي او سره له دې چې د ټولني په اتنو ګرافیکي ( )* جوړښت پورې اړه پیدا کوي ، خو له فولکلور سره یې له ارګانیک پیوند او تړاو څخه سترګې نشو پټولای.

## اتنوګرافی:

۲- که څوک وغواړي د فولکلور په ريښتني معني ځان پوه کړي باید د هغې یا د عې ټولنې اتنیکي (قومي) ځانګری هم هیري نه کړي نو د دغو دواړ کلمو او اصطلاحاتو په سم د ټولنې سسمه پیژند نه ممکنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- ټولنيز ارزښتونه: د دې لپاره چې زموږ او يا د يوې ټولنې فولکلوري مواد د وخت څپيړې په مخ ونه وهي (لکه چې مخکې زموږ د ټولنې يې برباد کړه) او يا په بله وينا د زمانې له تو فانونو او سيلابونو مو. ژغورلي وي او له خاوورو سره خاورې شوي نه وي ، نو فولکلور پوهانو ته بويه چې تروسه وسه پورې دغو معنوي ټولنيزو ارزښتونه ته ځانګړې پاملرنه وکړي. ځانته زحمت ورکړي او فولکلوري ولسي شتمني د زمانې له ګردودونو څخه پاکه کړي او تلپاتې ژوند ورببښي ، ثبت يې کړي ، تحليل او سره را ټوله يې کړي.

۸- په ټولنه بر لاسي رژيمونه او اړوندې ټولنې ، په هيوادنو بآندې مسلط اوبر لاسي رژيمونه او حکومتونه د ولسي پانګې په ساتنه او لوټونه کې خورا اغيزمن ګامونه پورته کولای شي بايد وخت تر وخته فرهنګي اړونده موسسې + دولتي مقامونه + مدني ټولني + روښان فکره پښت او آن نړيوالې فرهنګ پالې ټولنې داکار خپله دنده و بولي او د فرهنګي ميراثونو په راټولولو او بيا ساتنه کې لوي لاس وکړي.

۹- اقتصادي پياوړتيا او کمزوري اقتصادي کمزورتياوې د هيوادونو دفرهنګي ميراثونو د لوټونې يو بل لوي عامل کيداي شي د بيلګې په توګه زموږ په هيواد کي چې داڅو کلنو نا تار زموږ د اصلي فرهنګ خوندي کولو ته يې زيان رسولي دی.

نه يوازي دا چې زموږ د ټولنې مادي خو اووې يې زيانمنې کړي. بلکې زموږ دملت ټولې معنوي ښيګڼې يې له خاورو سره ځاوري کړي دي نو لارمه ده ، دولتي مقامونو او فرهنګي ژمنې مؤسسې د غو ارزښتونو ته په سپکه سترګه ونه ګوري او په خوندي کولو کې يې لوي لاس وکړي.

۱۰- د فرهنګي موسسو اغيزي او شتون: د ملتونو فرهنګ د ساتنې ، راټولو لو او خوندې کولو يوه بله ستره او غوره وسيله دا ده چې ، فرهنګي مؤسسې –د فرهنګ وزارت او اړوند ارګانونه لاس سره يو کړي ، څو په دغه برخه کې ګډ اوږده پلانونه جوړ او بيا د فرهنګ د خوندي کولو په برخه کې د خلکو د پراخه پرګنو په لور ورشي او د خلکو له منځ څخه دهغوي د آر او اصيل ولسي دود او دستور

(c) ketabton.com: The Digital Library



راټولونه پیل کړي. لنډه دا چې ، فوکلور پېژندنه د فوکلور په تیوریکو اړخونو رڼا اچوي اوله فوکلور ټولنې او فوکلور خوندي کولو سره توپیر لري. فوکلور پېژندنه ، د فوکلور په برخه کې هر اړخیزه څېړنه او پلټنه ده.

## ۳- فولکلور په لغت کې :

فوکلور یا فولکلور انګریزي کلمه ده اصلا په انګیریزي متن کې د لومړي ځل لپاره تامس ( Thoms) په ۱۸۴۶ کال داګست میاشت په خپل یو مضمون چې ( Ambroise Merton) په مستعار نامه استعمال کړه . هلته یې د (فوکلور ) (Foklor) اصطلاح وکاروله . یعنی دا چې (ل) په عاریتي ډول د نورو ولسونو او خلکو (افغانانو) له خوا ورسره یو شوي دی ، اصل یې فوکلور (Foklore) دی . څرنګه چې د فولکلور کلمه د لومړي ځل لپاره د یوه انګریز له خوا په انګریزي متن کې استعمال شوی ده ، نو له همدې امله ، فولکلور انګریزې کلمه ګڼله کیږي . د فولکلور (Folklore) لغت له دو و تو کونو څخه جوړ شوي دی : (فولک) او (لور) (۴۵ -۱۷ ، ۱۸، ۳۸ )

فولک (Folk) یا فوک (Fok) د خلکو په ما نادي . دلته مطلب له خلکو څخه (ولس) دي هغه ولس چې د ټولني مادي او معنوي ځواک او قوت جوړوي، لور (Lore) پوهې او حکمت ته وایي په ټولیزه (مجموعي) توګه ، فولکور داسې تعرفو لاي شو : فولکلور د خلکو (ولسي پوهی) څخه عبارت دی . په انګریزي ژبه کي د (Folk) د کلمی (ل) (L) نه تلفظ کیږي ، په خپله انګریزان د فولک (Folk) د کلمي سره (ل) نه راوړي او نه تلفظ کوي او د فولکلور کلمه د فولکلور په توګه کاروي فولکلور د هر ملت د کلتور تکاملي ریښتني ، سیر او حرکت ته هم ویل کیږي یا په بله وینا د هر ملت تکاملي ریښې له فولکلوره پیلیږي . په (ښتني فولکلور) نومې کتاب کې راځي چې همدا کلمه « د یوې انګلیسي کلمې (Folklore) څخه جوړه شوې چې (فولک) د خلکو او (لور) د علم او پیژندني په مانا راغلي او د نیکونو عقایدو ، د اجدادو در سم افسانې ، عقایدو او عنعناتو د خیړلو معني ترې اخیستله کیږي او د لومړني ځل لپاره فولکلور

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم يو اروپايي (؟) پوه په ۱۸۸۵ ا م کې وکارو له چې د خلکو د پوهني په معنی ده (۸۷ : ۱۴)

دبلخ پوهنتون د ژبو او ادبياتو د پوهنځي د دري څانګي ځوان او تکړه استاد او محقق دوکتور عبدالغني برزين مهر په خپل اثر (ضرب المثل و کنايات) د الف او ب مخونو کې ځينې نظريان د فوکلور په اړوند راغونډ کړي چې لنډيز يې داسې راوړو :

زموږ د ملت د لرغوني فرهنګ يوه سمسوره څانګه (فولکلور) دي دغه کلمه فرانسوی ريښه لري ، (Folk) د خلکو او (Lore) د پوهي ، يعني دپرګنو د پوهي په مانادی ، يا په بله وينا ديو ملت عقيدو . افکارو . کيسو ، آدابو ، رسومو ، ترانو ، ساده او ابتدايي هنرونوته فولکلور وايي (۱۶) د (الف) .

په پورته ليکنه کی د (فوکلور) د کلمې د رامنځته کوونکي ، استعمال کونکي او مروجونکي نوم ځاي او کال نه دي راغلي دا هم نه دي په ګوته شوي چې د فولکلور ريښه د فرانسوي ژبي د کومي کلمي له ريښي راوتې ده ؟

خوچي کله سړي د ادب او بيا فوکلور په برخه کې مطالعه او پلټني کوي نو سړي ته پته لګيږي چې د فولکلور د کلمې رواجيدل او استعمال د نولسمې پيړي په لومړي نيمايي ې پيل شوي دي.که څه هم فولکلوريکي څيړني او راټولونې خو په او ولسمه پيړي کې په سيستماتيکه او منظمه توګه پيل وشوي دي ، او دغه کار د لومړي ځل لپاره John Aubrey جان ايبري په ۱۶۸۰ م کال پيل کړاو د خپل وخت زيات شمير خرافات او دودونه يې وليکل او دهنري بورن د کتاب په نامه يې چاپ کړل او دې کتاب کې يې د انګلستان د بزګرانو عنعوي موسمي شعارونه او اړوند مطالب خپاره کړل دايبري په نظر ډير ځله منفي دودونه په فولکلور کې شاملېدلی شي . له دي راوروسته جان براند John Brand او نورو د فوکلور په باب آثار خپاره کړل همدارنګه ويل شوي چې په نولسمه پيړۍ کې جرمني پوهانو يا کوب Yakub ګريم Greem او د ده – ورور ويلهليم ګريم W.Hilum Green د فکلور پيژندنې په برخه کې تيوريکي څيړنې وکړي او له دوي را وروسته انګريزي پوه تامس رايت Thoms Riut په خپل اثر د (ادبي نوښت) کې د نکلونو د اغيزې موضوع و څيړله (۹۳ : ۲۱۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـه دې املـه فولکلـور يـا فوکلـور * انګريـزي کلمـه ده چـې د لـومړی ځـل لپـاره W.J.Thoms په خپل يو ليک کې چې د Ambroise-Merton نامه يې ليکلي وه استعمال کړه .

د فولکـور د اصـطلاح د وضـع کـونکي پـه بـاب دغـه معلومـات لـه (بريتـانيکـا انسـايکلوپيـد يـا) ۱۹۷۰ م امريکانا انسـايکلو پيـد يـا ۱۹۶۱ م ، بريتـانيکـا دايـره المعارف کې په تائيدي ډول راغلي دي . خو يوازي په لږ تفاوت چې په يوه کې W.T.Thoms او په بل کې W.J.Thoms راغلي دي* په فولکلور انسيکلوپيد يا کې د فولکلور (Folklore) له کلمې سره (ل) راغلـي دی . او همدارنګـه پـه نـورو معتبرو منـابعو کـې ، کـه چيـرې (ل) ورسره استعمال شي يـا نـه ، پـروا نـه لـري . ايراني نامتو داستان ليکونکي صادق هدايت په خپلو اثارو (بف کور) او په تيـره بيا (نوشته هاي پراګنده) کې وايي چې ، فولکلور کلمـه د لـومړي ځـل لپـاره پـه ۱۸۸۵ م کـالـ فرانســوي (امبــرواز مــورتن) اســتعمال کــړه . بريتـانيکــا انسـايکلوپيد يا) کې راځي چې (امبرواز مورتن) د ټامس مستعار نـوم دی خـود د هيښتيا (تعجب) خبره دا ده چې انګريزي څنګه په فرانسوي بدله شوې ده ، ډيرو معلوماتو لپاره وګورئ (۸۸- ۱۲۸)

خدا بښلی ابراهيم عطايي په خپله يوه مقالـه کـې څرګنـدوي پـه ۱۸۴۰ م کـالـ د فولکلور کلمه خلکو ته پوره آشنا نه وه او يو آلماني فوکلوريست د ګريم پـه نامـه په المان کې د خپلو فولکلوري مواد و پر مجموعه د فولکلور نـوم کيښـود او لـه دغه وخته په انګلستان او فرانسه کې دا نوم او دغه کار تقليد شو (۶۷ : ۱۲۳)

لـه څيړنـو څخـه داسـې ښـکاري د لـومړي ځـل لپـاره دغـه کلمـه W.J.Thomas استعمال کړي وي . فولـک د خلکـو او لـور د پـوهې پـه معنـا راځـي او فولکلـو د خلکو او ولسونو په پوهې او حکمت څخه عبارت ده .

### ۴- برجسـته فولکلـور پـه اصطلاح کې:

اصطلاحاً فولکلور د ملتونه ټوله او عـامه او معنوي شتمني ده . دغه شتمني يوه داسې هستي ده چې د ټولنې د انسانانو تر منځ د تاريخ په اوږد وکې پـه شـعوري او غير شعوري ډول را منځته کيږي او وده مـومي . د يـوې ټـولني د انسـانانو تـر منځـه د کلتـوري اړيکـو پراختيـا او راتولونکـو نسـلونو تـه د همـدغو هنرونـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغزيدنه د ټولنې د کلتور پوړې ښيي او يا په بله وينا د ټولنې د انسانانو کلچر انتروپولوجي Cultutral Anthorpology د لوړ تيا سطحه په فولکلور پورې تړلې ګڼل کيږي ،ځکه په کلتوري انسان پيژندنې (کلچرل انتروپولوجي) کې فوکلور بيا د اجتماعي ژوندانه څرنګوالي (کيفيت) او مظاهر په موږ پيژني او د انسان پوهني په لارکې دا يو مبرم احتياج دی چې موږ دخپلې يا بلې ټولنې حالات په قديمه نړۍ کې معلوم کړو (۶۶- ۵۱)فولکلور پيژندنه ، اجتماع پيژندنه ده . په فولکلور کې نه يوازې چې معنوي ارزښتونه خوندي دي ، بلکې دهغه په واسطه د ټولنې د افرادو دافکارو ، معتقداتو ، اميالواو غوښتونه څخه د دوي د اجتماعي تاريخ مبادي معلومولای شو .

په فولکلور پوهيدنه ، په اجتماع پوهنه ده ، په فولکلور پوهيدل د ټولنې او اجتماع سره نږدې کيدل دي . فولکلور پوهنه د ټولنپيژندنې يو عمده او غوره فاکت اولامل (سبب) هم کيداي شي .په فولکلور پوهيدنه د ټولنپيژندنې يو ضروري اصل پوره کيږي . دا کار موږ ته دبري کنجي (کلي) په لاس راکوي او دغه کار موږ هغه وخت ښه تر سره کولای شو، چې د ټاکلې ټولنې په فولکلور کې څېړنه وکړو .په فولکلور پيژندنه کې تر ټولو غوره او عمده اصل دا هم دی چې د هماغه ټولنې شفاهي کيسې راوپلټو ځکه کيسو کې د تيرو خلکو او اجتماع يوه ستره خزانه پرته ده . له بلې خوا د اجتماع د تاريخ د غوره تحقيق په لاره کې ، فولکلور يوه ډيره ښه وسيله کيداشي . فولکلور د تيرو خلکو او ټولنې هغه قيافه ويني، چې د اجتماعي تاريخ دبيلا بيلو تاريخي دورو د فوق العاده علامو او نښو حکم لري . آن د ټولنيز تاريخ څيړونکي دې ته اړتيا لري ،چې په پروني نړۍ کې د ده ترڅيړنې لاندې ټولني څرنګه حقوقي او جزايي احکام در لودل او ترد غو احکامو لاندې د ټولني خلکو څرنګه تفکر اوترخپل منځ څه ډول روابط در لودل ، ځکه د دغه تفکر او مناسباتو څېړيدل يوه څيړونکي ته دا قضاوت ورښيي، چې د هغو د اجتماعي تاريخ مر حله پرې وټاکي . يعنې فولکلور دتيرو خلکو د تفکر او شعور سطحه هم رامعلوملاشي . د مثال په ډول د (وحشت) يا له اسلام څخه د مخه دورو په تاريخ پوهيدنه د هغو دورو د کلتور او فوکلور پيژندنده را په ګوتو کوي . د هغه دورې د انسانانو د لومړنۍ کلتور ريښې احتوا کوي ، له همدي امله يې پيژندنې ته احتياج احساسيږي، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو ورو دانسانانو د اجتماعي ژوندانه په راز پوه شو او په هغه راز پوهيدنه د تاريخ کره والي هم دی . د لومړينو يا مخکنيو دورو انساني ټولنو ، اجتماعي مؤسسات او د دوي د افرادو عقايد ، عنعناتو رسم او رواجونو باندې پوهيدنه دا غواړي ،چې د هماغه خلکو فولکلور پوهنې ته مراجعه وکړو . لنډه داچې د فولکور په تعريف کې اساسي مقولي داسې وړاندې کولای شو . ( لرغوني ، عوام اوعنعنه ) دغودرومقولوله ارگانيک ترکيب څخه داسې تعريف لاسته راځي : فولکلوردعواموخلکوهغوعنعنوته ويل کيږي، چې د لرغونو زمانو څخه راپاتې شوي او د اوسني وخت دمتداولوپوهنو، عقايد اوچلن بيلگو سره يوځه توپيرولري ))ياپه بله وينا : فولکلور دعواموخلکوهغه لرغوني عنعنې اودودونه دي، چې دتاريخ په اوږدوکې له نورونسلونو څخه راپاتي دي، فولکور د عوامو خلکو پرهغوعنعنوی عقايد و، خرافاتو، کړو وړو، دودونو، اوشعايرودلالت کوي چې له ځنډنيووختونو څخه تراوسه موږته رارسيدلي دي . يااصطلاحاً فولکلور دعواموخلکو، ياديوملت يايوقوم اويايونژاد په نظر د هغو حقايقو مجموعه ده، کوم چې د دوی عنعنوي پانگه گڼل کيږي اودژوند اوجهان په باب د دوی فکر، عقيده ، معلومات ، افکار او د دوی عمومي ذهنيت دی. ديوملت يايوملیت اويا د يوهيواد په فولکلورکې د هغوی ټوله ماضي اود موجوده او راتلونکي ژوند دپاره ارزښتونه پراته دي . ديوې ټولنې فلکلور موږ ته دهغوی دپلرونو، نيکواواجدادو کلتوري نورمونه اوټولنيزارزښتوته بيا نوي او دهغوی له کلتوري ميعارونو او هدفونوسره موآشنا کوي . په همدې توگه فولکلورانسانانوته لارښوونه کوي ، ژوندته يې معناورکوي اودحرکت سمت يې ټاکي . د سويس نامتوروحيات پوه کارل گوستاف يونگ (carI Gustave Yang) ۱۸۷۵ - ۱۹۶۱ م) وايي : موږبايد ديوې ټولنې دفولکلور په باب بی پروايي ونه کړواودچټياتو په نظرورته ونه گورو ، ځکه دنوروارزښتونوله څنگه يې يوسترارزښت دادی چې د روحي تحليل له مخې د هغه عصر عمومي فلسفه ، ټولنيزشعور اود ژوند معنی اومفهوم پکې موندلی شو.

۱- دغه انځورزموږدهيوادد کلتوري لرغونپوهنې يوه برخه ده . دلوگرولايت کا فرکلا (خروار) ولسوالۍ کې پخوانۍ بڼه ( لرغونپېژند: ۲۷مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دفولکلور د راټولولو اړتياوې :

که چيرې د بشري ژوند په ټولو را ز ونو پوه شو بايد ولسي پانګې او د خلکو دودونه او تفکر ته سرور – دننه کړو. دمثا ل په توګه : که يو ازې پښتو لنډۍ مطا لعه شي نو نه يواځې د پښتون ملت طبيعت ، بلکې د بشري منعويت ښېګڼې به ورکې پيدا شي ، لکه لاندې څو لنډۍ :

۱– جانانه ستا مزه ګۍ نشته زماهمزولي زانګوګانې زنګوينه

پيزوان دې مياشت، خالونه ستوري = مخ دې آسمان زلفی شيبې دباران دينه ،

لـه دې امله دولسي پانګې خوندي کول دهرملت لپاره ضروري دي ځکه نو فولکلور په عمومي ډول او په ځانګړي توګه ، زموږ د پښتني ټولني د خلکو د ادب او ژوند د ټولو اړخونو پو عمومي جاج څرګندونکې معنوي هستي ده . يا دغه جاج او د عمو مي حالت ننداره په څولنډ يو او متلونو کې رابر سيره کړو :

۱– متلونه :

د زوررو او به په پيچومي خيژي .

او به ډانګ نه بيليږي .

ږيره زما واک يې د ملا .

ښه له خپل نيمځي (لمځې) سره و غزوه .

توره سره ښه ده ،خو نه د ورور په وينو .

ژرنده که د پلار ده ، هم په وار ده .

۲– لنډۍ :

باور مې نشي چي به روغ شم
زه د کمکي پيکي شمال وهلی يمه
باور مي نه شي چې به روغ شم
زه د جانان روغې راستۍ وهلی يمه
په مور مي پټه جرګه وکړه
پلارمې نادادی ما سودي ته ورکوينه (۵۵ :۲۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته متلونه او لنډۍ له دريا ب څخه د يو ټکي د راپورته کولو ما نا لرى په دغه متلونو او لنډيو کې رموږ د ټولنې د خلکو د فکر لوړه سطحه خوندي شوې ده په پورته متلونو کې ګورو چې .
۱- د ولس په طبيعت پوهېدل دي .
۲- د ولس د خيال ساتنه ،په کې کيږي .
۳- د خلکو دودونه ، عنعنې ، عقيدې او مينې په کې ښکاري .
۴- په فولکلور پوهيدنه په قومي طبيعتونو باندې پوهيدنه ده .
۵- د هغوي په ذوقونو پوهيدل دي .
۶- د ولسي پانګې ساتنه ده .
۷- د ټولنيزو ارزښتونه برجسته کېدل او خوندي کيدل په فولکلور پورې اړه .
۸- د تيرو نسلونو طبيعت ورکې انځورېدلي شي .
۹- د ولسي ذهنيت او تخليقي فکر اهميت په کې څرګنديږي .
که چيرى د فولکلور هر اړخيز اهميت ته پاملرنه وکړو ، له دې سره سم دا اړتيا احساسوو چې بايد د خپلې ټولني فولکلور خوندي کړو .
د دې لپاره چې فولکلور د ولسي ذهنيت او تخليقي فکر اهميت موږ ته څرګندوي . له همدې امله د فولکلوري موادو ايجادول او بيا دهغو راټولول ، زموږ د خلکو د دود ، دستور او عنعني ژوندي ساتل دي ، د شفاهي عنعني ليکل د فولکلور په حيث د هغې ارزښت او فولکلور ته زيان نه رسوي او حتي ګټه يې لاداده چې وليکل شي نو په هغه شکل ثابت خوندي کيږي ، له مرګه ساتل کيږي او نورو کلتورونه ته يې انتقال هم آسانيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





شکل(۱)

## ۶- دبرجسته فولکلور موادو د راټولولو لارې چارې:

فولکلور ټولونه او بیا دهغه خوندي کول يو تاريخي رسالت دی او د خپل هيواد د برم او شوکت خوندي ساتلو مانا لري دفولکلور د راټولولو لارې چارې ډيرې او له ځينو حالاتوکې هغه راټولول محدوديت هم پيدا کوي ، خو موږ به دهغه د راټول تر ټولو ګټوري او اسانه لارې – چارې ولټو او پيشنهاد به يې کړو .

الف- څرنګه چې فولکلورد خلکو د او لسونو مال دی ، نو د ټولنې دغه کلتوري او فولکلوريکه شتمني له خلکو او ولسونو کې پيدا کيږي او په خپله وسونه دهغه (فولکلور) د ساتني ليږد او ضبط تر ټولو ښه وسيله ده او د يو ليکوال خبره چې پښتني فولکلورنو و بيا له ټولو کلتورونو لاډير غني دی اروپايان چې د پښتو نخواسيموته راغلل ، نو هک بحران پاتې شول او دغه غني فوکلور او شتمن کلتور ته ګوته په غاښ شول ځينو پې سندروته ، ځينو متلونو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينو کسيو و نورو دغه ډول موادو راټولولو ته مخه کړه ، او د خپلو استعماري اهدافو د ترسره کولو په څنګ کې يې د پښتو د فولکلور ځينې خوا وې هم راټولې کړې او پښتانه په عصر شکل دخپلي ژبې پر مختيا تـه متوجه شول ، نو يې د نورو کارونو تر څنګه د فوکلور ټولولوته هم هڅه وکړو ، نو څرنګه ګې خلک د فولکلورليږدونکي دي او خلک د سن ، طرز تفکر او ټولنيز دريځ له مخې توپير لري مثلا مشران او سپين ږيري د لنډوکيسو متلونو او اخلاقي افکارو لروتکي او ليږدونکي (حاملين) دي د پورته خبرو پر بنياد په ټولنه کې سپين ږيرې او مشران د فولکلور د ليږد او خوندي کولو او راټولو ښه وسيله کېداي شي .

ب – د فولکلور د ساتنې او ليږد بله ګټوره وسيله ماشومان هم کيداي شي همدا ماشومان دي چې د سرودونو ، ترانو او لنډو کيسو ، چستانونو (کيسۍ) په راټولولو او ضبط کې ترې استفاده کيداي شي . د دغو ترانو او کيسو د ضبط او ثبتولو غوره ځاي دهغو د لوبو ځاي دی ، کله چې دوی په لوبو بوخت کيدای شي د دوی له خولو څخه دغه مواد راټول شي .

ج– دفولکلوري او کلتوري ميراثونو د ضبطولو او راټولولو يوه بله ستره منبع او مرجع په کليوا او بانډو کې ښځمنې هم کيدای شي ، دوی د فولکلوري مواد و په ساتلو او راټولولو کي ګټور توب لرلی شي د مثال په ډول ښځو ته د ماشومانو دويده کولو ، دسندرو ويلو او خوښي کولو په مخت کې دسندرو د ويلو لارې چارې ورايادې وي همدارنګه په مروجه دودونو ښي پوهيږې که څه هم ل دغې مرجع څخه د فولکلوري مواد ضبطول پو څه ستونز من کار دی ، ځکه زموږ پښتني دود د دې اجازه نه لري جې دنارينه و وفوکلور يوهانو لپاره د ښځمنو منځته دورتګ اجازه ورکړي ، د دې کار لپاره لازمه ده زموږ لوستي (باسواده) خويندې او لوڼې و هځيږي چې فولکلوري مواد راټول کړي په کليو او بانډو ګې دخلکو جرګې ، ناستې ،ولاې او مرکې هم د فوکلوري مواد و د راټولو زمينې او لارې چارې برابر وي ،که څه هم زموږ په هيواد (افغانستان) کې تيره بيا په پښتني سيود کې دغه کار اوس يې کليوالي اصلي هويت له لاسه ورکړي په دی ځکه د درې لسيزو په اوږدوکې خلک له خپلو اصلي سيمو څخه بې ځايه شوي دي او نورو هيوادو او سيموته مهاجر شوي دي . ځو بيا هم ځينې خاص سپين

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېري خلک شته چې د قبايلو او کليوالو ځيني ولسي کارونه سر ته رسوي دغو خلکو ته هرې قبيلي پريکړې او حتی د هغې بلې قبيلي طبيعت ور ، معلوم وي نو په دغه برخه کې له زړو ښځو څخه ډېره مرسته غوښتلی شو ،

د- دخصوصي او ولسي سندرو د ضبط له لاري کيدای شي د نظرور سيمې يا سيموته لاړه شو ، لومړي د اوده او يا دنورو کلتوري دودونو د ځای ننداره وکړو . هلته کليوال ذوقيان ، شاعران ، سندربولي او ټوکماران ننداره کړو ، دا ځکه چې همدا ذوقيان د ولسي سندرو ، سروکو ، ټوکو ، چاربيتو ، کيسو او ... ښه زير مه گڼل کيږي ، بايد له دوي سره د فولکلوريست له خوا اړيکي پيدا شي پدې ډول مواد ترې راټول شي .

- د فولکلوري مواريثو په راټولولو کې تر ټولو مهمه موضوع دکار ساحه ده ، چې نر ډيرې اندازې په څيړونکي پورې اړه لري دی بايد پدې يوه شي، چې په کوم ځاي کې کار کولای شي ، له کومو خلکو سره توافق حاصلولای شي ، ځکه په نا اشنا سيمو کې کار کول يو څه ستونزې لري . که فولکلور ټولونکی په يوه نا اشنا سيمه کې پرته له پيژند کار بيل کړي او د فولکلوري مواد و په راټولو لاس پوري کړي نو ښکاره خبره ده چې په هغو سيمو کې به ستونزې ورته پيدا کيږي . د دې لپاره چي دی دهغي نا بلدې سمې د خلکو په طبيعت او بيا دودو دستور نه پوهيږي او بل داچې په ژبه او لهجه ور سره پوهيدل هم ضروري دي ، خو په فولکلور راټولونکي به هغه کانه شوي وي چي يو څوک په تا بلدی کې په شفتلو کې واښه وکړي او بيا به دهمغي سيمي خلک ورته وای په شفتلو کې چې واښه کوي دا دی هم چل دی !! او که چيرې فولکلورريست په سيمه کې بلد تيا ولري نو دا موضوع ورته حل وي چې څنگه له خلکو سره برخورد وکړي .

و- فولکلور مواريث بايد داسې ضبط شي، چې د هغو ځانگړ په پام کې ونيول شی . فولکلوريست بايد لومړي په ولس کې د ولسي خلکو او خصوصا د هغو ولسي خبري ، روايات په خورا دقت او پاملرنې سره واړوری چی په ولس کې د اعتبار خاوندی او نوريی خبروته غوږ ږدی . د منظوم فولکلور په برخه کې بايد وويل شی چې د امکان تر حده بايد هغه ثبت شی او که دا زمينه برابر نه شوه نو لومړي بايد د نقل کونکي له خولې څخه وليکل شی او که ويل کيږي د ليکل شوی منبع سره دی پر تله شی ځکه نقلونکی يوازی د وينگ په وخت کې دنظم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولی ځانګړنی وایی . د (فرهنګ مردم ) مجله کې د فولکلوری یدیدو د ثبت لپاره لاندې ټکی د ارزښت وربلل شوی دی .
١- کله ، په کوم ځاي کې د چاله خوا ثبت او یاولیکل شو ؟
٢- د کو ځي نوم ،ناحیه ، کلي ، ولسوالي یا ولایت ؟
٣- ورځ ،میاشت ، او د ثبت کال باید ولیکل شی ؟
۴- نوم ، کورنۍ نوم ، تخلص ، سن ، کار ،ژبه او دراوي نوې ځآنګړني په دقیقه توګه ثبتول؟
۵- راوی زده کړه لری او کنه ؟
۶- درواي د زده کړي سطحه کومي اندازی پوره ده ؟
٧- چیری زیږدلي دی ؟
٨- راوی هنرمند او په خبره یوه دی او کنه ؟
٩- روایت او کیسه یی چیري اوریدلی ده ؟
١٠- له کومی زمانې یا وخت راهسي یی دا کار پیل کړي دی ؟
١١- په کومو مواردو کې په کومو ځایونوکې په وینګ پیل کوي ؟
فوکلوري مواد د موکو له لارې هم راټولـولاي شو . په پښتو ژبه کې مرکه ډول-ډول معني لری .
په ځینو پښتني سیمو کې مرکه د تړون د منلو په باره کی جوړیږي ، مرکه دنجلی دغوښتلو جرګی ته هم ویل کیږي ، په ځینو پښتني سیمو کې د دیالوګ په معني هم کارول شوی ، خو په روستیو وختونوکې مرکه مصاحبي او له یو چا اوډیرو سره مخامخ خبروته ویل کیږي چې د یوه ټاکلي هدف په رڼا کې د سمو او باوري معلوماتو د راغونډولو لپاره د ډیرو کسانو سره کیږئ (۴٣ :١٠٣ )
مرکه د ژورنالیزم د مسلک له پلوه جلا بحث دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لومړي څپرکي د موضوعاتو لنډيز:

- کلتور او ثقافت پراخ مفهوم لري ، کلتور د يوې ټولنې ټوله مادي اومعنوي شتنمني رانغاړي . کلتور د يوي ټولني عمومي کړه وړه اعمال ، مهارتونه غقيدي اوسلوک راچاپيروي او فولکلور د يوې ټولني د کولتور تکاملي پروسه ده او په کولتور سره په اړيکه کې دي کولتور د کل او فولکلور د ستري برخې مثال لري . ټولې فولکلوري پديدې ديوې ټولنې د کولتوري ميراثونو زيږنده دي او يو له بل سره نه شليدونکي دي کولتور د متمدنې ټولني د انسانانو د ژوند د کليت مطالعه او پلټنه ده او فولکلور په کليت کې د ټاکنو مثال لري .
- کولتور د يوه ټولو ګڼوونو او بوته ته پاتې کيږي او فولکلور په بڼ کې د خاصو ، خاصونو او ځآنګړو ګلانو او بوټو نو دي
- کولتور، ثقافت کلچر ، او فرهنګ مترادفې او هم مانا کلمې دي
- کلچر انګليسي کلمه ده ، کولتو ر لاتين ، ثقافت عربي او فرهنګ اريايي کلمه ده او په پښتو کې ورته محمد ګل مومند (هځوب) ويلي دي.
- کولتور د ملتونو د تهذيب او تمدن نښانه ده ، د ملتونو کولتوري پوړۍ هغه وخت موږ ته ښۀ ځرګنديږي چې د هغو خلکو په فولکلور ښه وپوهيږ او د هغوي له فولکلور سره بلدتيا ولر .
- کولتور يا ثقافت د انسان د ارتقايي ژوند او عمل يو مجموعي پانګه ده چې داساني ژوند له پيل څخه تر اوسه پورې ورو ورو راغونډه اوخوندي شوې ده .
- د کلتور په لويه مجموعه کې د ( ولسي ژوند نظام تمدن او تهذيب ، روايتونه ، ژبه . هر ډول اداري ولسي ټولني ، هرډول ټولنيز دودونه ، کيسي ، دم . درود ، جادو . اقتصادي ، اداري تنظيمونه ، تعليم او تربيت ، ادب ،قانون ، فلسفه ، اخلاق ، علوم او فنون . موسيقي . نقاشي ، لوبې او لنډه دا چي په ولسي ژوند پورې اړوند شيان چې له پخوا تر اوسه راپاتې دي د کلتور په دايره کې راځي .
- فولکلور انګريزي کلمه ده

وي ، چي ټامس په ۱۸۴۶ کال د لومړي ځل لپاره په يوه مضمون (امبروز ميرتن )کې په مستعار نامه استعمال کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ټامس دغه کلمه فوکلور folkolor و نومو له او (ل) وروسته په عاريتي ډول ورسره نورو خلکو يو ځاي شو . د فولکلور کلمه ترکيبي کلمه ده ، دوه برخي لري . (فوک )يا (فولک) او (لور) فوک د خلکو په مانا او لور پوهې ته وايي .
- په فولکلور کې (لرغوني ، عنعنه او ولس) اساسي توکي دی ،نو له دې امله فولکلور د لرغونو خلکو هغو عنعنوته ته وايي چې په ولس کې له پخوا را پاتې وی .
- دفولکلور په برخه کې څېړني په ۱۶۸۰ کال کې جان ايبري هم کړي دي .
- په نولسمه پيړۍ کې جرمني پوهانو ياکوب ګريم او د ده ورورو يلهليم ګريم د فولکلور پيژندنې په برخه کې تيوريکي څېړنې وکړې .
- ايراني نامتو داستان ليکونکي صادق هدايت په خپلو اثار بف کور او نوشته هاي پراګنده کې وايي چې فولکلور کلمه د لومړځل لپاره په ۱۸۸۵ م فرانسوي امبرواز مورتن د ټامس مستعمار نوم دی .
- فولکلور د ارزښت په برخه کې د سويس نامتو او حيات پوه کارل ګوستاف يونګ وايي موږ بايد د يوې ټولنې د فولکلور په باب بې پروايي ونه کړو .
- دفولکلور راټول د دې لپاره اړتيا ده چې د ولس طبيعت ور کې خوندي دی .
- دو لس په خيال پوهېدل دي .
- د خلکو دودونه ، عنعنې ، عقيدې اوميني په کې ښکاري .
- په فولکلور پوهيدنه په ولسي پوهنو کې معلومات تر لاسه کول دي .
- د فولکلوري مواد و راټولولو لاې چارې ښځمني دي .
- ماشومان ، سپين ږيري ، د کلي مشران ، ملا او نوري دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لومړي څپرکي پوښتنې :

۱- سويسي اروا پوه کارل ګوستاف يونګ د فولکلور د ارزښت په برخه کې څه ويلي دي؟
۲- د فولکلوري مواد و د راټولولو لارې چارې کومې دي ؟
۳- کولتور د يوې ټولنې کومه شتمني رانغاړي ؟
۴- د کولتور يو دوه تعريفونه راواخلي ؟
۵- فولکلور تعرف کړئ ؟
۶- فولکلور کلمه د لومړي ځل لپاره د چاله خوا په کوم کال او په کوم متن کې استعمال شوه ؟
۷- دفولکلور کلمه له کومو توکو جوړه ده او هر برخه يې توضيح کړئ ؟
۸- د فولکلور کلمه د بل چا له خوا هم په کومو کلونو کې استعمال شوی دی ؟
۹- د فولکلور د خوندي کولو اړتيا څه ده ؟
۱۰- انترپالوجي ، دود ، فولکلور او کولتور توپير او ورته والی وکړئ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دويم څپرکی

## ۱- د فولکلوري موضوعاتو ډلبندي (تصنيف):

څرنگه چې فولکلور د ثقافت او کلتور پراخه برخه جوړوی نو د ولسی ژوند نظام تمدن او تهذيب تری څرگنديږي لارمه ده په ډلبند کې يې هم ژوره پاملرنه وشي .
د فولکلور د ډلبندي په برخه کې بايد و واويو چې د شلمې پيړی په دريیمه کې پدغه برخه کې دلته افغانستان کې هم کار شوی دی .
يوه خبره د يادو ولو وړده چې ډلبندي اختاري کار دی . په ټولنيزو پوهنو او ليبر هنرونو کې تصنيفونو يو له بل توپير لری ، خو سره له دی تصنيف هم ځانته پرنسيپونه او موازين لری . د مثال په ډول تصنيف بايد جامع افراد او مانع اغيار (دا اکثريت د تائيد او د اقليت درد وړ وی). سيستماتيک او منطقي وی، له واقعيتونو سره توافق ولری او داسي نور په هر تصنيف کې د تخصص د خاوندانو عندی تمايلات ډير نقش لری (۱۶- ۱۴) د فولکلور ډلبندي له ټولو نيمگړتيا ووسره – سره په زړه پوري هم لری او هغه داچې د هر علم خاوندان يې د خپلې پوهې له زاويې څيړي . دلته له دې موضوع سره په تړاو کې يو مثال راوړو : زموږ په عام او غريب او همدارنگه له ښار لري سيموکې د ناروغ په باب د خلکو عقيدی بيلا بيل لوري لري .
که چيری يو ناروغ يو کليوال يونانی طبيب ته ورولي ، نو هغه ته ديونانی بوتواو درملوتوصيه کوي . که همدغه بيمار بيا ملاته لارشی دوم توصيف ورته کوی . اروا پوه يی ناروغي له بلی لارې د درملنې بلنه وړ بولي . همداسې يې د فولکلور د ډلبندی په برخه کې هم درواخله ! دلته به ځينوعلومو د پوهانو نظری د فولکلور په برخه کې راواخلو :
الف – ادب پوهان فولکلور ته دبې سواده پرگنو د ادبياتو په نظر گوري او د ثبت شوی فولکلور په برخه کې له هماغه تحليلي تکنيک څخه کار اخلي لکه په ليکلي ادب کي چې کار ورځيني اخيستل کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library




ب – د مقایسوي (مقابلوی ژبپوهنې) پوهان او څیړونکي فوکلوري موضوعات د ژبپوهنې د نورمونو له مخې ویشي . مثلا : دوی د بیلا بیلو قومونو تر منځ ژبني فولکلوریک موضوعات را سپړي او پر تله کوي يې .
ج – کلتوری انترپالوجستان په فولکلور کې ولسي عنعني ، دودونه ، د ټولنیزو موسسو سمبولیکه استازي (نماینده ګي ) او د خلکو د ذهنیت محتوا مطالعه کوی . لکه : وایي د دی یا هغه قوم د ژوند ادبي او فرهنګي سطحه په کومه درجه کې واقع ده .
د – سایکلوجستان (اروا پوهان) له فولکلور څخه داسې شواهد راټولوی چې دهغو په مرسته د بشری اروایی فعالیتونو يو ډول والی څرګندیږي او څرګند خبره ده چې فولکلور له ساینس ، تاریخ ، ټولنیزي پوهنې . حدیث ، اروا پوهنې او ... مظامینو سره کلک تړاولري ، نو ځکه د بیلا بیلو علومو پوهان حق لری شوه، چې دغه موضوع (فولکلور) له خپل مسلک سره سم تعبیر او ډلبندي کړي .
ه – تر ټولو غوره دا ده، چې د فولکلور تصنیف د پخواانیو فولکلوریستان له نظره وګورو او وڅیړو . پخوانو فولکلوریستانو خپل مواد د موضوع په اساس تصنیفول او تر اوسه پورې هم د غه ډول تصنیف څخه کار اخیستل کیږي . د مثال په توګه دا ، د ، ج د کلتور د دولتي کمیتې د (فرهنګ مردم ) آمریت په آرشیف کې فولکلور په څلورو عمده څانګو ویشل شوی دی :
١ – شفاهي فولکللور
٢ – د خلکو ټولنیز دودونه
٣ – مادي فرهنګ
۴ – د خلکو هنرونه
لومړي به ټول ذکر شوی تصنیفونه راټول او بیا وربآندي انتقادي نظر وراندی کړم .
د (١٣۶٠ م کال ) د قوس او جدي ګڼه ( فرهنګ مردم ) مجله کې داسې راغلی :
آداب رسوم ، عقاید ، عادات ، افسانه ها ، حکایات ، امثال ترانه ها ، اشعار عامیانه.
١ – عنعنوي روایتونه ، اولسي نکلونه ، د اتلانو په باب افسانې ، منظوم داستانونه (Ballads) د چې پښتانه سندر غاړي يې داستان بولي ، سندرې او محلي روایتونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- عنعنوی دودونه ، محلي دودونه ، داخترونه او ميلو دودونه ، د مراسمو دودونه او لوبې .
۳- خرافات او انګيرنې ، کوډې او جادو خرافي کارونه او خيالي شيان Fancies .
۴- د خلکو ويناوې ، و جيزې ، عاميانه اصطلاحات او نومونې ، متلونه ، قافې جنګول کيسي (چستانونه) پورته تصنيف دا وسني معيار له پلوه بشپړ بريښي ، خو د مادي فرهنګ خواووی پکيې پوره ندی ذکر شوی موږ به د دی کمبود د پوره کولو لپاره ځيني نور تصنفونه هم واخلو: په (۱۳۳۵ ه . ش ) کال محمد قدير تره کی له ترکی منابعو څخه ځينې فولکلوري تصنيفونه اونور موضوعات را وژباړل اوپه کابل مجله کې يې خپاره او همدارنګه سرور ګر يا له فرانسوي اثارو څخه استفاده وکړ او د (فولکلور لاښود) په نوم رساله يې په فارسي ژبه وژباړله، ايراني ليکوال صادق هدايت هم پدغه برخه کې ليکنې درلودی ، د دوی دری واړو تصنيفونه سره ډير ورته واوله يوې منبع څخه يې استفاده کړي وه، چې موږ به د کابل مجلې تصنيف دلته راوړو :




## الف – معنوي برخه :

## لومړي : ادبيات :

۱- نظم : د شعر ډولونه ، طويل بحر ، رنګارنګ ملي سندرې .
۲- نثر : کيسې ، حکمتونه ، معماوې ، او کيسی (چستانونه)
دويم : پوهني :

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- طب دزړو ښځو د معالجې ډول ، اغیزه لرونکي واښه او ګانې ، شکسته بندي د بسمل غوځول او نور
۲- د مار ، لړم او غنډل د چیچلو تداوي ، د ګران بیع (بیه) کاڼواو بوټو په واسطه .
۳- نجوم .
۴- غریبه علوم لکه د پیریانو په حکم راوستل او نور .
۵- عامیانه سایکلوجي .
دریم : دودونه او رواجونه :
۱- اخترونه ، مارکې ورځې ، محلی بازارونه ، میلې .
۲- دزیږیدو ، مړینی ، ولده په باب قومي رسمونه .
۳- د ماشومانو ، ښځو او سړیو ډول- ډول لوبې او ساعت تیري اودهغو د منځته راتلوپه باب روایتونه .
۴- موسم پیژندنه ، د تقویم حساب .
۵- د حقوقي تعاملانو پاتې شوني ، نتواتې او نرخونه .
۶- خرافات او اباطیل .
۷- متلونه او حکمتونه .

## مادی برخه

د فولکلور مادي برخه چې زموږ د خلکو د ولسي ځانګړتیاو غوره برخه جوړوي ، داسې په ګوته کولای شو :
۱- دودانیو او کورونو په باب عقیدې .
۲- ځانګړې انځورونه لکه کاشي کاري ، حکاکي .
۳- دکور سامان ، کالي او ګاڼې .
۴- د جګړې ، ښکاراولو ټولو ابزار(وسایل) او نورو ...
۵- د خلکو کسبونه او صنعتونه لکه جولایی ، ندافي ، کولالي ، بزګري . د ګمري ، بقالي ، غالۍ او بدل او نورې حرفې .
۶- نقاشي ، رسامي ، موسیقي ، ملي سندرې ، ملي اتڼ ، ډهل او سرنی .
۷- د محلی خوړو ډولونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو بل تصنیف د فولکلور داسی وړاندي کوو :

## ۱- د خلکو بدیعی شفاهی ادبیات:

پـدې کـې (۱) اسـطورې ، (۲) افسـانې ، (۳) معمـاوې ، (۴) ټـوکې ټکـالې ، شـوراوې ډول – ډول سـندرې ، متلونـه ، ټکـې (چسـتانونه) قـافیی جنگـول ، ښکنځلې سیمه ایز یا محلې خواږه په دوه ډولو ویشلای شو :
الف – هر ډول خواږه ب – ځانګړې خواږه چې د ځانګړو سیمو پورې اړه لـری لکه دنډکی (خوست)، د لغمان او ګره یا صابونکه ،د حیواناتو شرل را بلل ، ښیراوی ، پیغورونه کترې ، لوړی (قسمونه) او ....

## ۲- د خلکو دودونه :

د زیږیدو ، واده ، اومړینـې مراسم ، میلې ، اخترونـه ، نـذر ، پګـاږه ، (حشـر) صدقی خال وهل ، د ګاڼو استعمال ، سینګار ، جرګې ، نرخونه ، ولسی طب ، خرافات (فال لیدل ، کوډی ، او جادو) شګون(شګوم) ټوټکې ، په نظر کول ، د پیریانو ایسـتل قصیدې پخول یا پیریـان تـابع کـول ، د ناسـتې ، ولاړی آداب او ....

## ۳- د خلکو کسبونه :

دا حرفـې او کسـبونه لـه ډیر پخـوا راپـاتی دي، پـدې کـې د اهـل کسـبوو د ژونـد خـاص حـالات او د کسـبونو وسـایل او طریقـی مطالعـه کیـږي . مـثلا جـولایی . ندافې ګیلم اوبدل......

## ۴- د خلکو هنرونه :

(نیمه لفظي هنرونه) جې پدې کې ملي موسیقی ، د هغه الي او وسایل ، د خلکو (نارینه و و او ښځینه وو) سندرې او اتنکی نڅاوی لکه (اتڼ ، د طالبـانو ګډوای لکه د مداری ګرۍ او شادی بازی نندارې ) د خلکو ډرامې (په پراخ میدان کـې د ټوکیانو او مسخره چیانو اکټونه) او .....

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵- د خلکو کارونه :

لکه چې ښکلايزه ، ذوقي او ايستيتکي ارزښت ولري ، لکه ښکلي کالي ، خوندوري غذاوي ، کوډولي . کورونه ، سينګار شوی سمڅې ، د ننداريې ورې ودانۍ او ښکلی توليدات....

## ۳- فولکلور د ولسي پانګې په توګه :

فولکلور د ولس مال دی ، دنړۍ ګڼ ولسونه د فولکلور څښتان دي ، فولکور د ولسي پانګې له توګه تل د خلکو د پراخه او ګڼو ولسونو په سينو ، خولو او حافظو کې ځاي لري ، همدا فولکلور دی، چې دوختونو په اوږدو کې دعامو خلکو په خوي او عادت ، کړونو او اعمالو او غښتنو کې ځان را څرګندوي او د لسونو د معنوي او مادي شتنمنۍ له توګه ځاي نيسي .
د وختونه په اوږدوکې ولسونه او خلک له ډول ډول پيښو او لاتجو سره لاس او ګريوان کيږي دغو پښتو ته ځواب ورکولو ترټولو ډاډمنه تيکه ګاه يواځې د خلکو عقبدې دي جې په (فولکلوري هستۍ ) کې ځان را څرګندوي .
مثلا د خلکو دوديز بآرونه او عقيدې ) په خدای انبياوو زيارتونو او ...) بآور لکه يا دودونه ) چې هر ملت او ولس معنوي شتمني ده ، ځکه نو په دغو دودونو کې دولس پراخه خويونه خوندې دي له هيواد سره مينه زموږ د خلکو يو لرعوني زرين (دود ) دی ، ميمله پلنه او ... نا غه دودونه په ډير ښه ډول په فولکور کې ځان ښودلی دی د ميوند په ميدان کې د غيلم ګولۍ زموږ د هيواد د ځلميانو ټټر په وينو ليت پيت کړ د دې لپاره چر د جهاد سنګر ځلمونه وي پرې ايښي د ملالۍ غوندي ي پيغلو دافغان بچو بيرغ په خپلو سرو منګلو راجک کړ او په نورو غازيانو او مجاهدينو باندې يې نارې وکړې چې .
که ميوند کې شهيد نه شوي خدای ږولاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه
په همدارنګه په ولسي ادبياتو کې دچاپيريال واقعيتونه په ساده ډول ښودل کيږي هره پيښه ديو ربتيني واقعيت په توګه دخلکوپه غوښتنواو پوښتنو کې ځان څرګندوي.
افغان ولس لر غوني ، سوچه اوپاخه فولکلوريک اثارلري ، دغه آثار څه په تيرو اوڅه اوس په پراخه توګه ثبت اوضبط شوي دي. دپښتوفولکلوريک آثار لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډۍ ،متلونه ، دودونه ، قبیلوي او کلیوالي کیسې داستانونه اونورملي اومحلي اومحلي ممیزات اوهم خاص عنعنات دي چې دهر فولکلوریک اثر اغیزې یې زموږ د ولس په ژوند کې خورا جوتې دي .
فولکلور ته یواځې د ولسي معنوي پانګې په توګه ځان ځلوي . بلکې د ورځني ژوند ارزښتونه هم ور باندې ټاکل کیږي د بیلګې په توګه :
(خلک ښېګڼې ته رابولي لکه : (ښه خوی به دې سلطان کړي = بدخوي به دې په ځان پورې حیران کړي) یا د ژبې ، الفاظو او کلمو ارزښتمندي او دغه راز دادب لوازم په ناخود آګاه ډول خلکو ته په ګوته کوي . لکه (خپله ژبه هم کلاه ده هم بلا)
یا په لسګونو کیسې ، داستانونه ، متلونه ، لنډۍ او نور ، د ولسي ادب ژانرونه شته چې د خلکو ټول خویونه ، عنعنې او ټول کلتوري مناسبات ور کې څرګندیږي .

## ۴- فولکلور د ولسي ادب زیرمې په توګه :

دولسي ادب زیرمې په خپله په ولس کې دي او دغه زیرمې د ولسونه په خویونو او دودونو پورې اړه لري .
ددغو خویونو او دودونو دتولید منبع او سر چینه د خلکو کړنې او عادات دي، چې د ژوند په اوږد و کې د خلکو له عمل سره یو ځاي را منځته کیږي . د ولسي ادب زیرمې ، په هغو پیښو کې راز رغونیږي، چې ولس ورسره لاس او ګریوان دی ، ولسي ادب د خلکو د ټولو افکارو او کړو وړ رابرسیرونکي دي او فولکلور څیړنه د عامو خلکو او ولس د پراخه پرګنو پوهیدل دي.
د ولسي ادب د سر چینه ، د خلکو د کلتور د دوې نتیجه ده ، څکه دیوې ټولنې عمومي کړه وړه ، اعمال ، مهارتونه ، عقیدې او سلوک را چاپیروي او فولکلور د ټولنې د کلتور تکاملي پروسه ده او له کلتور سره په اړیکه کې دی . یا په بله وینا کلتور د کل او فولکلور پکې د جز حیثیت لري .
ویلای شوچې ، ټولې فولکلوري او ولسي ادب زیر مې د یوې ټولنې د کلتوري میراثونو زیږنده ا و د کلتور جز دی ، نو په دې توګه په هیڅ ډول یو له بله

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلانشي څیړل کیدای او یو له بله نشلیدونکي دي د ملتونو او قبایلو د کلتوري میراثونوتاریخي سیرمطالعه د هماغه ملت او قوم د اجتماعي ، او قبیلوي روابطو او په بیلو خواوو ښه او په زړه پوري رڼا اچوي او د راتلونکې ژوند د ښه والي او څرگنتوب لپاره لارې جارې راښیي .

د ولسي ادب زیرمې ، په ولس کې دي ، مخکې له دې چې د ولسي زیرمې ښکاره او څرگندې شي لازمه ده چې په دووټکو وپوهیږو .

۱- د یو ملت تاریخ ته پاملرنه وکړو .

۲- د یوه ملت په کلتور او فولکلور پوهیدل لازم دي .

او سنیو معاصرو څیړونو ښودلې ده چې د یو ملت او ولس پیژندل د دهغو د ولسي ادب له سطحې څرگندیږي . د مثال په ډول (میمله پالنه) د افغان ولس او بیا پښتو یوه غوره عنعنه او ستر دود دی .همدارنگه په (ناموس ننگ کول او غیرت) د دوی تاریخي او کلتوري لوړتیا ثابتوي .

د ولسي ادب زیرمې ، د ولسي فرهنگ سپیڅلتیا ښیي ، په دې ماناچې دغه اساس او بنسټ د هماغه ملت له ولسي شتمینو څخه تثبیت کړو د ولسي ادب زیرمې دهغو عنعنو او دودونو او کړنو نتیجه ده، چې دوختونو په اوږدو کې په ولسونو کې رامنځته کیږي ، ټولو مادي او معنوي مناسبات او شتمني د فولکلور او ولسي فرهنگ د ښیرازه اړیکو سپیڅلی انځور دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library





شکل(۲)

## فولکلور یا ولسي ادب ارزښت :

فولکلور اهیمت پدې کې دی چې د ملتونو په ژوند پورې تړلي او اړوند معنوي او مادي اړیکي تر ځیړني لاندې نیسي .

فولکلور اهمیت خورا برجسته او ډاګیزه دی ، پوهان وایي : دټولني سطحي او قشري بڼه راښیي ، نو فولکلور موږ د هغو له روح سره آشنا کوي او د خلکو مفکورې ، جذبات او ارزو ګانې پکې منعکس کیږي ....

فولکلورد یوې ټولنې د ژوند هنداره ده ، داسې هنداره چې د هماغې ټولنې دخلکو ژوند په ښه توګه پکې منعکس کیدای شي . که څوک وغواړي چې د یوې ټولنې د ژوندانه په بهیر او دغه راز دهغې د وګړو په افکار او عقاید و او انګیرنو او پدې برسیره د هغې په تاریخي دریځ او نورو اړخونو ځان پوه کړي او د هغې ټولنې مادي او معنوي حال او څیره ځانته معلومه کړی ، نو د هماغه ټولنې په فولکلور کې ژوره او هر اړخیزه مطالعه ورته په کارده ،ځکه د یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنې او يا يو ولس د فولکلور له مطالعې پرته د هغې او ولس د پيژندلو په باب هلې ځلې روښانه نتيجه نه لري . حتې د شيلر او سپنسر په عقيده ، (د هر انګيزه د لوبو له اګيزې څخه را پيدا شوې ده) او ماکسيم ګورکي وايي چې د لفظي هنر پيل په فولکلور کې دی .فولکلور د خلکو د لاسته راوړنو ، انګيرنو ، ارزښتونو او کړو وړو هنداره ده سره له دې چې له فولکلور کې ټوټکې ، کوډې او دخرافاتو نور ډولونه هم شاميليږي خو که د غو پديدوته په ژور نظر وکتل شي نو د لرغونو انسانانو جادو او خرافات هم د حياتي اړتيا و وسره نيغه اړيکه لرلای شي . د ځينو خرافي اړخونو په نفي کولو سره فوکلور څخه د اتربيتي مقاصد او ښکلايزو غوښتنو د پوره کولو د پاره هم ګټه اخيستل کيدای شي .
تاريخ او ټولنپو هنه د يو ملت يا ټولنې د موجوديت او حرکت يوائې بهرنۍ او قشري ښه راښيې فولکلور موږ د هغو له روان (روح) او باطني نړۍ سره آشنا کوي او دخلکو مفکورې ، ذوقونه ، جذبات او ارزو ګاني منعکسوي .دهغه په پراخ مفهوم سره فولکلور د بشري ذهنيت او احساساتو بيلګه ايزه څرګندونه او د عوامو داستان دی . له همدې امله ، د خلکو د معنوي فرهنګ د پيژندنې لپاره له فولکلور څخه د يوې مهمې وثيقې او منبع په توګه کار اخيستل کيدای شي .
بايد ووايو چې کلتوري بشر پيژندنه(Inter pology) ژبپونه ، ټولنپونه ، ادبيات پيژندنه ، د تمدن تاريخ او اقتصاد پوهنه خپلو څيړنو لپاره د فولکور پاڅې څخه ګټه پورته کوي فولکلوري څيړنو د نورو ټولنيزو پوهنو لپاره د علمي څيړنو ور پرانستلي ده . د ليک له ايجاد او رامنځته کيدو دمخه د فولکلوري مواد و تحيليل کليدي اهميت لري ، يعنې جې د خلکو د ټولنيز ارتبارط پوه مهمه وسيله وه . فولکلور د بشري مدنيت د تاريخ په روښانولو کې ستره ونډه لري ماکسيم ګورکي پدې عقيده و و چې : د فولکلوري د معلوماتو له لاسته راوړلو پرته زيار ايستونکو خلکو د تاريخ پيژندنه نا ممکنه ده . له فولکلور څخه د ښکلا پيژندنې (ايستتيکی) د تيوري په رغولو کې هم د مهمي سر چيني په توګه کار اخيستل شوی دی .
د ښکلا پيژندنې تاريخي – ټولنيز نظريې اکثرا له فولکلور او اتنوګرافيو څيړنو څخه استنباط شوي دي . د فولکلوري أدبياتو مطالعه له دوو اړخونو څخه د پاملرنې وړ ده :
۱– لومړې دا چې په فولکلوري ادبياتو کې د خلکو غوښتنې ، انګيرنې ، کړه وړه ، له ژوند څخه برداشتونه ، ارزښتونه ، ټولنيزه سايکلوجي او کر کتر څرګنديږي ، واقعيتونه پکې په ريالستيکه ښه انګازه کوي اور دې امله د ټولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جوړښت او ماهیت او په مجموع کې د تاریخي انسان د بر خلیک د پیژندلو لپاره د یوه مثال په توګه کار ورکوي .
۲- دویم ، داچې د فولکلوری موضوعاتو ، ایماژونو ، استعارو ، تشبهاتو ، اسطورو او بدیعي مختصاتو د هنري نو ښتونو او تلمیحاتو لپاره زیاته استفاده کیږي آن نړۍ یو شمیر ادبي شاهکارونه په نیغه توګه له فولکلور څخه په الهام اخیستلو سر رامنځته شوي دي لاډیرې مخکې د خلکو په خولو کې جاري وي .
دکتور امیر حسین اریان پورپه خپل اثر(جامعه شناسي هنر) کې د عوامو هنر او فولکلوریکو ادبیاتو په باره کې ډیره په زړه پورې یادونه کوي، چې ، د عوامو هنر د عوامو د فرهنګ (فولکلور) د نورو تو کوپه شان دهنر په رسمي تارخونو کې کو مقام نه لري او په ندرت سره یې یادونه کیږي خو داسې ښکاري چې دغه هنر د تاریخ یو جریان دی ...
د عوامو هنر همیشه ساده وي هر سپیڅلي زیات تجمل او سینګار نه قبلوي او د ژوند له اړتیا وو سره پیوستون پري دعوامو په ترانو او افسانو کې فقط هغه شیان ښکلي دي چې ژوند ته ګټه رسوي د دوي هنر ریالستیک دی. ریالیزم د فولکلور محور دي د عوامو هنر همیشه مثبت او له انساني عواطفو او ارما نونو څخه ډک دی .
د فولکلور اهمیت دا هم دی چې کولکټفي (ډله ایز – جمعي) خاصیت لري، فولکلور نه یوازې د خلکو دهلو ځلو او ژوند پیښنو په باره کې د معلوماتو منبع ده ، بلکې دهغه په مرسته د ټولنو د ملي خصلتونو په باره کې هم جاج اخیستل کیداي شي ،
لنډه دا چې فولکلور داسې مثبت ، دیموکراتیک او انساني اړخونه لري، چې له هغو څخه د خلکو تر منځ دمینې ، تفاهم ، سولې او آن طبقاتي مبارزې او نورو کارنو په منظور ګټه اخیستل کیږي . د بیلګې په توګه (پکاړه) یا (اشر) له یوې خوا خلکو تر منځ ټولنیز اړیکې پیاوړي کوي او له بلې خوا ولسي درانه کارونه په ډله ایزه توګه سرته رسوي د قومو او خلکو تر منځ د یووالي او دوستۍ ځرګندونې کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵- د دوهم څپرکي د موضوعاتو لنډيز**

- فولکور يوه ژوندۍ پانګه ده .
- فولکلور په نيغه توګه د ولس مال دی .
- فولکلور دوختونه په اوږدو کې د عوامو خلکو په خوي . عاداتوين ، کړنو او اعمالو لو غوښتنو کې ځان را څرګندوي او د ولسسونو د معنوي او مادي شتمنۍ په توګه ځان ښيي .
- په فولکلور کې د چاپيريال واقعيتونه په ساده ډول ښوول کيږي ، هره پيښه ديو ربښتني واقعيت په توګه خلکو په غوښتنو او پوښتنو کې ځان څرګندوي .
- پښتو فولکلوريک اثار لکه ( لنډۍ . متلونه . دودونه ، قبيلوي او کليوالي کيسې داستانونه او نور ملي او محلي مميزات هغه ځانګړې عنعنې دي، چې د هر ولسي اغيزې يې زمونږ د ولس په ژوند کې خورا جوتې دي .
- فولکلورنه يواځې دولسي معنوي پانګې له توګه ځان ځلوي ، بلکې د ورځيني ژوند ارزښتونه هم ورباندې ټاکل کيږي .
- په فولکلور کې کلتوری مناسبات هم خوندي کيږي .
- د ولسي ادب سر چينه د خلکو د کلتور دودې نتيجه ده ، ځکه کلتور ديوې ټولنې عمومي کړو وړه ، اعمال ، مهارتونه ، عقيدې او سلوک را چاپيروي او فولکلور د ټولنې د کلتور تکاملي پروسه ده .
- کلتور کل او فولکلور يې لويه برخه ده .
- دولسي ادب زيرمې په ولس کې دي .
- د ولسي ادب د زير مو د پلټنې په پرخه کې دوه واقعيتونه بايد په پام کې ونيول شي :

۱- د يو ملت په تاريخ بايد وپوهيږم
۲- د يو ملت په کلتور او فولکلور

- د ولسي ادب زيرمې د يو ولس فرهنګي سپيځلتيا ښيي .
- د ولسي ادب زيرمې د هغو عنعنو ، دودونو او کړنو نتيجه ده چې دوختونه په اوږدو کې په ولسونو کې را منځته کيږي .
- ټول مادي او معنوي مناسبات د ولسي فرهنګ د ښيرازو اړيکو سپيځلتيا انځور دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د فولکلور اهميت پدې کې دی چې د يوې ټولنې په عنعنوي تاريخ هم پوهيږو
.
- شيلر او سپنسر ويلي چې آن دهنر انگيزه د لوبو لـه انگيـزې څخه را پيداشـوي لکه ماشوم چې کله له نورو ماشومانو سره په لوبو بوخت وي نو سندرې او د هنر نور ډولونه زده کوي .
- فولکلور ديوې ټولنې د ژوند هنداره ده ، داسې هنداره چې د هماغې ټولنې د خلکو ژوند په ښه توگه پکې منعکس شوي وي .
- که څوک وغواړي چې ديوې ټولنې د ژوندانه په بهير او دغه راز د هغې د وگړو په افکارو عقايدو او انگيرنو او په دې بر سيره د هغې په تاريخي دريځ او نـورو اړخونو ځان پوه کړي او دهغې ټولنې مادي او معنوي حال او څيره ځانته معلومه کړي نو د هماغه ټولني په فولکلور کې ژوره او هر اړخيزه مطالعه ورته په کار ده
.
- تاريخ دټولنې قشري بڼه راښيي ، فولکلور موږ د هغـو لـه روان او بـاطني نـړۍ سره اشنا کوي . فولکلور د بشري ذهنيت او احساساتو بيلگـه ايـزه څرگندونـه او د عوامو داستان دی . له همدې امله د خلکو د معنوي فرهنگ د پيژندنې لپاره ل فولکلور څخه د يوې مهمې وثيقې او منبع په توگه کار اخيستل کيـږي .کلتـوري بشر پيژندنه ، ژبپوهنه ، ټولنپونه ، ادبيات پيژندنـه ، د تمـدن تـاريخ او اقتصاد پوهنه د خپلو څيړنو لپاره د فولکلوري پانگې څخه گټه پورته کوي . فولکلـور د بشري مدنيت د تاريخ په روښانو لو کې ستره ونډه لري . ماکسيم گـورکي ويلـي دي : د فولکلـوري معلومـاتو لـه لاسـته راوړلـو پرتـه د زيـار ايسـتو نکـو خلکـو د تـاريخ پيژندنـه نـا ممکنـه ده . د فولکلور ادبيـاتو مطالعـه لـه دوواړخونو څخـه د پـاملرنې وړ ده . لـومړۍ دا چـې پـه فولکلـوري ادبيـاتو کـې د خلکـو غوشـتنې ، انگيرنې ،کړه وړه ، له ژوند څخه برداشتونه ، ارزښتونه ، ټولتيزه سايکلوجي او ملي کرکټر څرگنديږي واقعيتونه پکي په ريالستيکه بڼه انگازې کوي .
- دويـم : دا چـې د فولکلـوري موضـوعاتو ، (ايمـاژونو ، اسـتعارو تشـبهاتو ، اسطورو او بـديعي مختصـاتو) څخـه د هنـري نوښـتونو او تشـبهاتو ، اسـطورو او بـديعي مختصـاتو ) څخـه د هنـري نوښـتونو او تلميحـاتو لپـاره زياتـه اسـتفاده کيـږي . دکتـور امير حسـين اريـان پـور ۱۳۶۸ کـال پـه خپـل اثـر ( جامعـه شناسـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هنر) کې د عوامو هنر او فولکلوریکو ادبیاتو په باره کې ویلي : د عوامو هنر د عوامو فرهنگ د هنر په رسمي تاریخونو کې کوم مقام نه لري او په ندرت سره یې یادونه کیږي خو داسې ښکاري چې دغه هنر د تاریخ یو جریان (بهیر) دی .د عوامو له اړتیا ووسره همیشه ساده او سپیڅلي وي ، زیات تجمل او سنگآرنه قبلوي او د ژوند له اړتیا ووسره پیوستون لری

- ریالیزم د فولکلور موضوع او د عوامو په ترانو او افسانو کې فقط هغه شیان ښکلي دي، چې ژوند ته گټه رسوي .

- فولکلور ډله ایز خصوصیت لري ، او د ټولو ملي خصلتونو په باره کې هم ترې جاج اخیستل کیږي .

- فولکلورمثبت ، دیموکراتیک او انساني اړخونه لري د خلکو تر منځ د مینې ، تفاهم ، سولې او آن طبقاتي مبارزې او نورو کارونه په منظور گټه اخیستل کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶ : د دويم څپرکي پوښتنې :

۱- دوختونو په اوږدو کې ولسونو له ډول ډول پيښو سره لاس او ګريوان کيږي ، دغو پيښوته د ځواب ورکولو تر ټولو ډ ډامنه زيرمه (تکيه ګاه) کومه ده ؟
۲- د چاپيريال واقعيتونه په څه شي کې ښکاريدلی شي ؟
۳- د ولسي ادب ژانرونو نومونو واخلي ؟
۴- د ورځيني ژوند ارزښتونه په څه شي معلومولي شو ؟
۵- د ولسي ادب زيرمې د يوې ټولنې په کومو ميراثونوکې مطالعه کيداي شي ؟
۶- فولکلور دوختونه په اوږد کې د عوامو خلکو په څه پورې اړوند دی ؟
۷- د فولکلورو اهميت په څه کې دی ؟ ټول موارد ذکر کړي ؟
۸- د ولسي ادب سر چينه د خلکو د څه شي نتيجه ده ؟
۹- کلتورد يوې ټولنې کوم شيان را چاپيروي ؟
د ولسي ادب د زيرمو د پلټنې په برخه کې کوم واقعيتونه په پام کې نيول کيږي؟
۱۱- د ولسي ادب زيرمې د يو ولس څه شی ښوولي شي ؟
۱۲- د يوې ټولنې په عنعنوي تاريخ څنګه پوهيدلای شو ؟
۱۳- شيلر او سپنسر د هنر انګيزه په څه کې بولي ؟
۱۴- ماکسيم ګورکي د فولکلوري موضوعاتو اغيزي څنګه څرګندوي ؟
۱۵- د ښکلا پيژندنې په تيوري کي له څه شي کار اخيستل کيږي ؟
۱۶- د فولکلوريکو ادبياتو مطالعه له څو اړخونو څخه د پاملرنې وړ ده ؟
۱۷- دوکتور امير حسين اريان پور ، د هنر او فولکلوريکو ادبياتو په باره کې څه ويلي دي ؟
۱۸- د فولکلور محور څه شی جوړولي شی ؟
۱۹- فولکلور کوم انساني اړخونه لري ؟
د عوامو هنر څه ډول هنر دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library





شکل(۳)



(c) ketabton.com: The Digital Library





شکل(۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم څپرکی

## ۱ - د فولکلور پیژندلو پس منظر

دفولکلور د کلمې په برخه کې تاريخي معلومات دا څرګندوي، چې دغه کلمه ډېره لرغونې نه ده د لومړي ځل لپاره (وي جي ټامس) په ۱۸۴۶ م کال په يوه متن کې وکارولـه د فولکلـور د پس منظر پـه برخـه کـې دا کاډيمسن کانديد اوابناد محمد صديق روهي ليکي : که چيرې موږ د نولسمې پيړۍ د نيمايي جريانات په تاريخ پسې وپلټو نو دا به راته جوته شي چې دا وخت د کارګرانو او زيارايستونکو پرګنود و ينبتيا او يا ځون دوران دی ...

د فولکلور پس منظر د بشر په تاريخ کې خورازړې جرړي لري . آن په لرغوني يونان کې د تاريخ پلار (هيرودتس ، ليوی او پليني) په لرغوني يونان او روم کې د بشر د تاريخ په برخه کې څه ليکلي دي، چې هماغه هم لومړني فولکلوري يادښتونه ګڼل کيږي . همدارنګه په راوروسته کې ډيرو ليکوالو په ساده ډول خپلو ولسونو ملي وياړونه خوندي کړي دي (د مثال پـه ډول ( تاسيتوس) د انګريزانو ملي کرکټر او کلتور څيړلي دي او په دې توګه يې د ملتونو د دودونو ، انګېرنو ، کړو وړو او کرکټر په باره کې د فولکلور او اتنو ګرافۍ لپاره زيات مواد براپري کړي دي ) ۵۱ : ۳

له دې راوروسته په او ولسمه پيړي په اروپا کې د فولکلور ټولنې په برخه کې منظم کار پيل شو ، جان ايبري John Aubrey په ۱۶۸۶- ۱۶۸۷ کلونو کې د خپل وخت يو زيات شمير (خرافات او دودونه ) راټول او وليکل او پـه ۱۸۸۱ م کال کې د ( پوپليرانتي کويتيز popular Antiqaities به نامه چاپ کړل . په دې کتاب دانګلستان د بزګرانو عنعنې او موسمي شعاير شرح شوي دي . جان برانډ (John Brands) هم همدې کلونو کې د فولکلور په باب ځينيې آثار خپاره کړي دي. په جرمني کې په نولسمه پيړۍ کې (ياکوب- ګريم) او د ده ورور (ويلهلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



گریم) د فولکلور پیژندنې په برخه کې تیوریکي څیړنې وکړې .په بریتکانیکا انسکلو پیډیا په (۲۱۲) کې راځې چې د فولکلور په برخه کې تر ټولو ښې څیړنې انګیریزي پوه (ټامس رایټ) په خپل اثر (ادبي نوښت او په هغه کې د نکلونو د اغیزو موضوع وڅیړله وروسته له دې فولکلور پیژندنه ډیره باب شوه .

## فولکلور پوهنه په لندن کې:

کله چې له لندن کې (وي ، جي ، ټامس) د فولکلور ټولنه تاسیس کړه ، ورسره فولکلور پیژندنه هم ډیره رواج شوه او له دې سره په یو زیات شمیر اروپائي هیواد و کې د فولکلور څیړنې موسسې او مرکزونه هم جوړ شول . هغه وخت خلکو څه په اکادمیک او څه هم د ملي احساس پالنې له مخې له فولکلور راټولولو سره زیانه مینه وښوده . فولکلوریستانو زیارویسته چې فوکلوري اسناد او معلومات د ورکیدلو له خطره بچ کړي له همدې امله وچې د دغې ولسي پانګې په خوندي کولو خلکو زیارو یستـه . د فولکلور د راټولولو او خوندي کولو په برخه کر د روس د انقلابي دیموکراتانو هلې ځلې هم د خاصې پاملرنې وړ دي (و ، ګ ، بیلنیسکي) د روسیې د نولسمې پیړۍ د انقلابي دیموکراتانو د فولکلور پیژندنې موسس ګڼل کیږي بیلنیسکې د عوامو د بدیعي تخلیقاتو په برخه کې د پوشکین په پله ، پلونه کیښودل او زاړه مواد یې راټول کړل . ګریګورو یوویچ. بیلنیسکي ( ۱۸۱۰- ۱۸۴۸) ادبیات د ټولنیز پوهني (سوسیولوجي) په رڼا کې وڅیړل د یو لیکوال په وینا بیلنیسکي د فولکلور کولکتیفي خاصیت داسې توصیح کړ، که څه هم فولکلوري هنر په لومړي سر کې د یو منفرد شخص ابداع ګڼل کیږي خو تر څو پوري چې د ټولنې احساساتو ذوق او ارمانوتو سره توافق ونه لري، ډله ایز خاصیت نشي لرلی د فولکلوري هنر په تاریخ کې ځان ته ځای نشي ښولي . له بیلنیسکي وروسته، یو بل پیاوړي ادب پوه (نیکولاي کاوریلو ویچ چرنیشفسکي ۱۸۲۸ م – ۱۸۸۹ م) دغه لاروپاله او شفاهي ادبیاتو او ښکلا پیژندنې په باره کې یې د یادونې وړکارونه تر سره کړل. چر نیشفسکي په دا خبره ډیر ټینګآر کاوه چې د ولس

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدیعي ایجاد ات باید د هغو په مشخصه تاریخي قرینه کې تر څېړنې لاندې ونیول شي او باید شفاهي ادبیات له تاریخ سره ګډ مطالعه شي که نه نو خپل مفهوم او ارزښت له لاسه ورکوي. ده په ویل چې د ښکلاییز ایډیالونه طبقاتي منشا لري او ښکلا ټولنیزه تاریخي پدیده ده . ښکلا نسبي ده زموږ له ذهن څخه د باندې موجوده ده، په طبیعي ډول هم موجوده ده او موږ هم هویت ورکولای شو .

## فولکلور پېژندنه په شوروي کې:

په شوروې اتحاد او آلمان کې د فولکلور د پس منظر عوامل ډیر پیاوړي او پراخه اړخونه لري ، انګلس ، مارکس او لینن هم د فولکلور د ارزښت ، تاریخي بعدونه او ارزښت په برخه کې ډیر نظریات لري آن انګلس ویلي دي چې ( زه د خلکو له لرغونو کتابونو سره دهغو د جذابیت او ښکلاله امله مینه لرم . د چا خبره کار ګرې طبقې مخکښانو لکه مارکس ، لینن او نورو د خلکو او ولس په فرهنګ کې دوه ډوله عناصر یا فرهنګونو لیدل ، یویې د استسمار ګرۍ او بل یې زیاې ایستونکو طبقو فرهنګ دی او دا یې زیاتوله چې د فولکلور مطالعه د خلکو د اجتماعي سایکلوجی د پیژندلو له مهمه وسیله ده . د هغه وخت د شوروي اتحاد له انقلابه راوروسته (ماکسیم ګورکي ترټولو لومړي لیکوال وچې د فولکلوري ادبیاتو شوقمن پاتې شوی دی او د فولکلور په اهمیت یې ټینګار وکړو او په خپله بیانیه کې یې د فولکلور پیژندنې ځینې بنسټیز تیوریکي مسایل وڅیړل، بیلنسکي چرنشفسکې ، دوبرولیوبوف او پلیخانوف هم د ادبیاتو اوفولکلور د منشاء او بشپړتیا په باره کې لاژیاتونې وکړې .

## فولکلور څېړنه په شمالي اروپا کې:

فولکلور پیژندنه اروپائي هیوادونو ته هم په شلمه پیړۍ کې خوره شوه او د شمالي اروپا په هیواد وکې فولکلور پیژندنې زیاته پراختیا وموندله په دغو هیواد وکې د مادي فرهنګ بیلابیل مظاهر هم د فولکلور تر عنوان لاندې وڅیړل شول . د وخت په دیموکراتیک المان کې فولکلوري موزیمونه شته ،چې په هغو کې د کورونو سامان او لوازم ، د کار افزار ، او ډول ډول کالي ، پسولونه او نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلکو لاسي صنایع ښودل کیږي . همدارنګه په سکانډیناوي هیوادو او شمالي اروپا په نورو هیواد کې نه یوازي د فولکلور ټولونې په کار کې ډیر پرمختګ شوي دی ، بلکې د فولکلور پیژندنې په ساحه کې هم ډیر اثار لیکل شوي دي چې د هغو په جملې څخه په ناروي کې د (هنریک ایبسن) او په سویډن کې د هلتن کاولونشی لاکرلوف Helton kawlonshi lakarlof (۱۸۵۷م) آثار د ځانګړې یا دونې وړ دي ، هلتن کاولوش لاکرلوف په ۱۹۰۹ م کال کې د نوبل جایزه هم پدي برخه کې تر لاسه کړه .په اروپا کې د نورو فولکلور ستانو تر څنګ د (کارل کوهن Carl Kohan چې فنلنډي و ، د ډیرې یادونې وړ دی .

## فولکلور په ایران کې:

صادق هدایت چې د ایران تکړه لیکوال دی او ډیر ادبي او فولکلوري اثار لیکلي دي ،په خپل اثر (نیرنګستان) ګې ویلي دي چې (اریانا ویجه کې د اسطورو او جادوګری شته والي ثابتیږي د (اویستا) په کیسو کې له جادو ګرانو کرکه ښودل شوې ده )

دغه راز په (ریګویدا) کې د نړۍ د پیدایښت اسطوره (Meeth) راغلي دي :

په ګزیده سرود هاي ریګویدا (۱۲۹) سندره کې دنړۍ د خلقت په باب راغلي دي :

۱- هغه وخت نه نیستي وه او نه هستي ، نه هوا وه او نه آسمان چې له هغې نه پورته دی څه شی پټ وو ، چېرته او د چا د ملاتړ په سیوري کې .

۲- په هغه وخت کې نه مړینه وه او نه همیشنی ژوند او نه د شپې ورځې نښه نښانه د خپل ځان په قوت یوازنۍ فرد بې له هوا (ساه) ایستله له ده پرته بل شی وجودنه درلود .

۳- په لومړی سر کې تیاره کې پټه وه هیڅ ځانګرې نښه نه وه هر چیرې او به وې هغه فرد د ګرمۍ په زور منځ ته راغی .

دالومړۍ تخم و چې فکر د هغه محصول دی پوهان چې په خپلو زړونو کې د پوهۍ په مرسته څیړنه کوي دوجود قید له نیستۍ (عدم) نه بولي .

۴- څوک په یقیني توګه پوهیږي او څوک دی چې هغه دلته بیان کړي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



چيرته پيدا شو او په کوم ځاي کې خلقت را منځته شو ؟
ايا ارباب الانواع له خلقت وروسته را پيدا شول ؟
نو څوک پوهيږي چې د خلقت سر چينه چيرته ده ؟

## د فولکلور پس منظر په لرغوني آريانا کې:

اريـا يـا اريانـاويجـه د لرغونـو اريايـانو دګـڼ فولکلـور زانګـو، ده اريانـا خـورا لرغوني د فولکلور تاريخ لري د ژوند له لومړ يو شيبو څخه را په دې خوا د دوی ژوند د ګڼو پيښو څرګند ونه کوي او ډيرې زياتې کېسې د دوي د ژوند د پراخه اړخونو د څرګندتيا په برخه کې موجودې دي . د آريايي قومونو پخواني متلونه او سندرې موجودې دي اريائيان تر خپريدو او ډيريدلو د مخه په يوه ځاي او کې اوسيدل چې دوي پـه خپلـه پخوانۍ ژبـه اريانـاويچـه Aryana vaego بللـه .دوی ځانګړې کلتور درلود مورخين پدې خبره کې سره مختلف نظر لري ، ځيني وايي چې دوي د تورسين شمالي غـاړې کې اوسيدل بلـه ډلـه وايي چې د خزر د ډنډ شرقي او شمالي غاړې د اريائيـانو اصلي مرکز دی ... * افسـانـه :Folk fairtale هغـه کيسې دي چې د سـاعتيري لپـاره وي کرکترونـه يـې رياليسـتي نـه وي . * اسطوره Meeth مـذهبي کيسـه خـود اسلام لـه ديـن څخـه مخکې پـه اوسـتا کـې مروج وه .دا خلک چې هندواروپائي ژبې يې ويلې د انسانانو د سپين تو کم څخه وو ، دوي ځيني حيوانات او بوټي پيژندل ، ښلي چې ځينـويې لاس صنايع هم در لـودل دوي د ژونـد پـه اوږد وکـې د غنـي کلتـور دلـودونکي وو . د نـورو کلتـوري کارونو تـر څنګ يـې ځينـي ولسـي تـړي هم در لـودې چې ترواسه پـورې د پښـتنو لپاره په زړه پورې دي د مثال په ډول : بزګري چې د آريائيانو پخواني او لرغـوني دود دی دا (متل) چې : (آره آره ، يوم پر غـاړه) هم دا څرګندوي اريائيـانو دنورو دودونو تر څنګ ځيني لوبې هم درلـودلې (سـامانه) نوميـدې، سـامانه هغـه لـوبې وې چې په ډله ايزه توګه د قومونو او قبيلو له خوابه تر سره کېدلې او يوې قبيلې به له بلې سره د خوښيو او ښاديو په ورځو کې د رقابت (مثبت) پـه توګـه تـر سـره کولې . دغه لوبي ډرامائي وې ؟، داسي چې د يوه قـوم يـوه ډلـه ځلميـان بـه د بـل کلي او قوم ځوانـانو او ځلميـانو تـه د ډلـې پـه توګـه پـه غيـږو ور تلـل ، لـومړي بـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوي ځانونه ښکاره کول . لاقي او شافي به يی کولې او بل لوري بـه يـې کـمزوري ښکاره کاوه ، بيا به سره ببر شول ، لاس په لاس ، غاړه پـه غـاړه اوملا پـه ملا بـه شوال او لا په لغتو به يې هم سره وهل . يو ليکوال ويلي : زموږ لرغـوني هيـواد چې د اريائي توکمنو لومړی ځانگو او د اريائي ژبو او کلتورونو ټاټوبې دی . په زرگونو کلونو يې فولکلور او ولسي ادب په خپله غېږ کې روزلي دی اريائي تمدن همدلته زيږلي او لـه همدغـه ځايه خپـور شوي دی . د افغانستان تـاريخ ، لومړي ټوک . ۲۸ مخ کې راځي (زيات امکان لري دمعاصر افغانستان خاوره يـوه لـه هغـو سيمو څخـه وي چې بشـري بيولوږژيکه ارتقا پکې راغلي ده او .. همدغه نظريه په بل عبارت په اريائي فولکلور څېړونکو داسي اټکل کړي دی .

الف : له پښتنو باختريانو څخه چې هغه په زياته اندازه د اويستا مقدسو متنونـه ته ټوټي ساتل شوي دي .

ب : د کوچی ساکو څخه چې اويستا ته دومره لاره نه پيدا کړې او دومره مـذهبي روحيه نه لري او د (توراني) يا (اريائي) په نامه هم يادېږي . له افغانستان سره د نورو گاونډ يو هيواد و د خلکو قومي او کلتوري اړيکي هم شته . محقيقن وايي چې د باختريانو حماسي کيسې داويستا په متنونو کې راغلي دي . يوه لـه دغـو کيسو څخه ښايي د کيومرث لرغـوني باختري کيسـه وي چې لـومړي اويسـتا او بيا وروسته فارسي (دري) ادبياتو ته ننوتې وي او په بيل بيل رنگ ساتل شوې ده له دغې حماسي ښکاري چې باختر يانو خپله خاوره د لومړي انسان د پيدايښت ټاټوبي باله . د نبات نه د انسان د لومړي پيدايښت يا (کېومرث) کېسه چې گايه مرتن (Gayamartan) په نامه ياد شوې ده داسې پکې راځي :

(د گآيه مرتن د هېلې مړينې پـه وخت کې تخـم پريښـود تخـم د لمـر د وړانگـو پـه گرزېدو سره پاک شو . څلويښت کاله وروسته پنځلس کلنه يـو نـاړيزه درې سـاقه پنځلس پاڼيزه پښی (رواښ) له ځمکې زرغونـه شـوه ، پـه داسـې ډول چې د دوی دوه لاسونه د غوږونو سره وو اويوه نښه يې جوړه کړې وه دوي پـه يـوه بڼـه او يـوه شکل وو او د تنې پـه منځ کې سره يـو ځاي شـوي وو بيـا پـه ماشـيا او ماشـيانا (متره او مترويانـا) پـه نامـه وبلـل شـول ، پـه گرزيـدلو او جوړلـويې پيـل وکـړو ، د دوي نه د انسان توکم پيدا شو ) (تاجيکي نظم تاريخ ۱۲۰ – ۱۲۱ مخونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کيو مرث افسانه بيا د منځنيو پيړيو په عربي او پارسي ادبياتو کې زياته منعکسه شوې ده لکه د طبري په (تاريخ الرسل والملوک) د البيروني په (الباقيات عن الصرون الخاليات) د فردوسي په (شهنامه) او داسې نوروکې .
– د البيروني په (الباقيات عن القرون الخاليات) کې دغه افسانه ډېر لرغوني خصوصيات لري چې (کيومرث ) درې زره کاله په جنت کې و و او بيا ځمکې ته راکيښوت او دلته هم درې زره کاله تر هغه ژوندي و وچې دا يمن په څېره کې بدې او بد کارونه لانه وو پيدا شوي داهر يمن زوي بيا په کيو مرث ور پيښ شو ، هغه يې وواژه ، اهريمن بيا کيومرث وواژه ، د کيومرث له پوښتيو دوه څاڅکي توی شول ، له هغو د پوښيو دوه بوټي سره يو ځاي شوي او دا د انسان لومړې جوړه وه . پنځوس کاله تر هغه دوي ژوندي وو تر څو چې اهريمن د بوډا په څيرو ورنږدې شو او دوی يې تېر ايستل دوی دهغه په لمسون ميوه وخوړه ، سره يو ځای شول او خلک ترې وزيږيدل .
– اروابناد البيروني ليکي : د کيو مرث نوم گرشا په پهلوي کې غره ته وايي او ده په غره کې ژوند کاوه .
– په پښتو کې (غر) ورته وايي ، اوسيني مثالونه لکه : سپين غر ، چونغر ، غوربند (غربند) او پخوانۍ بڼې ، گربند ، سپين گر .
– د فردوسي په شهنامه کې کيو مرث د يوې هيولااو يوه عظيم الجسه انسان په توگه ترسيم شوی چې خلک يې په غرونو کې په تورو سمڅونه ديوه خير رسونکي په حيث په ښارنو کې کورنو نه ووېستل .
– طبقات ناصري د کيو مرث په باب ليکلي دي:
– د کيو مرث په نسب کې اختلاف زيات دی ځينې وايي د سام بن نوح له اولادې دی او نوم يې اسيم بن لاورد و په نرۍ کې دگرځيده په بې نومه شيانو يې نوم کيښود او د نړې ميشی ، دزوی يې سيامک او د سيامک زوي فراواک او دهغه زوي هوشنگ و .
– د اريائي کيسو دويمه لړۍ کې ساکې افسانې دي چې مهم اتلان يې رستم ، زال زرينه ملکه توميريس (Tomiris) او نور دي د د غو اتلانو نومونه د لوسيتا متنونو نه ننوتي ، ځکه چې ساک لمر پرستان وو او زردشتيانو ورته په ښه نظر نه کتل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



– خود ساکي اتلانو په جمله کې يوهم رستم دی ، د فارسي ژبې پياوړی شاعر فردوسي د تور انيانو له خولې د اريانا د نامتو رستم داسې کيسيې کوي :

بدانيد کېن شير دل ، رستمت بدين رزمګا از در ماتمست
پزرګان وشيران زابلستان همان نامداران کابلستان
چوګو رز کشا وچون ګيو وطوس به ناکام رزمی بود بافسوس

او همدارنګه د رستم د مفاخرو په باب يې ويلي دي :

بدوګفت : من رستم زابلي زره پوش با خنجر کابلي
چوبشنيد پيران او ان سر فراز فـرود امـد از اسـب و پـردش نمـاز (**۷۵** – **۲۰**)

د رستم نوم په (بهمن يا شته) کې د روستتهم (Rostathom) په نامه د عربو تيرې کونکو سره ديوه مبارزه شخص په حيث ثبت شوی دی . رستم د فرودوسي د شهنامې يو وتلی او ګران هيرو دی او هغه افسانې له دی، او پښتو کې زيات شهرت لري ، د ساکو ډيرې حماسې لرغونو مورخينو په خپلو آثارو کې ساتلي دي چې پوه هم د شيرک حماسه ده ، هغه حماسه داسې ده .

- کيسه: دهخامنشيانو د پاچا لومړي (دارا) په خلاف د ساکو د قيام (**۵۱۳** ه ، ق) په وخت کې يو ساکې ميتر ( د آس د جلب نيوونکی ) په داسې بد حالت کې چې غوږونه او پوزه يې غوڅ شوي وو د پارسا ينو په سنګر ورننوت . شيرک د خپل قوم له لاسه سخت شکايت وکړ چې له ده سره يې داسې سخت چلند کړی دی او د غچ اخيستلو لپاره يې پارسيانو ته د هغې لارې د ښوولو وعده ورکړه چې د ساکو سنګر ته تللی وو . له (۷) ورځو ستړې کوونکې لارې وهنې وروسته يې د پارسيانو لښکر يوې وچې او سپېرې وښتې ته وويست هلته معلومات ،شوه چې شيرک په خپله ځان په دغه حالت کړی او دارايې غولولی دی کله چې د پارسيانو د لښکر مشران په دغه راز پوه شول دشيرک وژلو ګوابښ يې وکړو او ورنه غوښتل چې دوی بېرته له دښتې وباسي شيرک له دغه کاره انکاره وکړو او د وروستۍ سلګۍ په وخت کې يې وويل : زه بريالی شوم ځکه چې زما د هيواد و الو ساکو د بې وزلۍ نه پارسايانو کرکه کوله ماله تندې او لوږې ووژل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په افغانستان کې د فولکلور پس منظر:

فولکلور چې د ولسي ژوند هنداره ده په دغه هينداره کې د خلکو دودونه ، ارزښتونه ، چال چلند انگيرنې ، کړنې او د ژوند هر راز لارې چارې منعکس کيږي ، په افغانستان کې هم (ولسي ادب) يا فولکلور خورالرغونې پس منظر لرى.

لکه چې په اريايي کلتور کې مو د يوې کولو يا بزگري دود اراواصل بللى وو ، همداسې افغانستان هم د کروندې او غنمو د توليد او کرنې يو لومړنۍ مرکز و او آن زموږ خلکو په خوانى قطغن د افغانستان (کندو) گاڼه .

يو شوروى اکا ديمسن نظر در لود چې (دافغانستان غرنۍ لمنې او هغو ته نږدې د هند دنيمې وچې شمال لويد يځې سيمې د غلې د دانو د پيدايښت يو لرغونى مرکز دى) د ولسي ادب لارې : ۴ مخ)

د افغانستان په خاوره (کندهار) کې چې کوم ډول کودي موندل شوي د هغو همعصر او هم زماني په نوروگاوند يو سيمو کې نه د ايران په خاوره او نه د منځنۍ آسيا د جنوب لوديځ په نورو سيمو کې تر اوسه موندل شوي چې دا ټول د افغانستان د لرغوني تمدن د قدامت شواهد دي . د افغانستان خاوره يوازې د لرغوني آريايي تمدن غيږه ده ، بلکې د لرغوني آريايي فولکلور ځانگو او لمن هم ده .

## په پښتو ژبه کې د فولکلور ټولونې پس منظر:

که د پښتو ژبې معروف کتاب د محمد هوتک پټه خزانه (۱۱۴۱- ۱۱۴۲ ه ، ق ) په نظر کې ونيسو را ته ځرگنده به شي چې په دغه کتاب کې هم غوره پښتني احساسات خوندي شوي دي ، دلته به (مثبت نمونه يې خروار) له پټې خزانې څخه د شيخ المشايخ ، قطب العارفين او زبدة الواصلين ، بابا هوتک عليه الرحمه چې په لوى شيخ مشهورو ، پيژندنه راوړو . (لوي شيخ و او مشهور دى د ده کرامات نقل دى چې د دپلارپه بارو عليه الرحمه د (۴) تولر زوي و او د تولر پلار بابا غلجى و رحمته الله عليه چې خپل وخت کې مشر گڼل کيدي ، د پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوتک په اټغر کې زیږیدلي و ، په سنه هجري (۶۶۱) کې او هغه وخت چې لوي شو ، نو یې اکا دخدای عبادت او په اټغر او سوري کې د قوم سردار او بادارو ، نقل دي چې:

دهغه په وخت کې به هر ځل مغولو د ارغنداو پرغاړو لوټ کاوه اټغر او بولان او کلاته به یې تالان کول . بابا هوتک خپل قامونه راټول کړل او د سره غر سره یې مغولو شخړه بوتله پدې جگړه کې مغول تالاشول او د پښتو گړند یو ډیر ووژل .

ماته خپل پلار داود خان داسې نقل کاوه ، چې سور غر په دغه ورځ د مغوله په وینو داسې لبخند ککړ شو چې پلو شو د لمر به بریښانده کا . په دې شخړه کې پښتانه لږ او بې ځواک و چې د سرو مغولو پیښه راغله او اخیسته یې وکا یو څو غښتلي د بابا هوتک خپلوان ومړل بابا هوتک په لوړ ږغ دا سندره لوله او په غشویې د مغولو ټټرونه څیرل ، غښتلیو میړو چې دا سندره اوریدله ، په جگړه تودیدل ، تر څو چې سور غر یې د مغولو په وینو ولاړه او ټول یې ینا کړل ، هغه سندره دا ده .

| | |
|---|---|
| په سور غر بل راته نن اور دی | وگړویه جوړ را ته پیغور دی |
| پر کلي کور باندې مغل راغی | هم په غزني هم په کابل راغی |
| غښتلیوننگ کړئ دا مو وار دی | مغل راغلی په تلـــوار دی |
| په پښتو نخوا کې یې نا تار دی | پر کلي ، کور باندې مغل راغی |

دهغه په اثر کې د پښتنې فرهنگ او فولکلور پراخه مواد موندلئ شو .

## پیښتو فولکلور ټولو نه د خوشحال خان له خوا باب شوه !

(په ژبه کې د فولکلور ټولوني کار له خوشحال خان او د ده له کورنۍ سره پیل کیږي )د خوشحال په مشهور اثر (سوات نامه) کې د یو سفزیو دودونه ، انگیرنې او ځینې نور دودونه په ژوره او عالمانه توگه څیړل شوي دي . - فالنامه ) د خوشحال خان بل اثر دی چې فولکلوریک مواد لري او دانگیرنو په باره کې یو مهم ماخذ دی خوشحال خان که څه هم ظاهراِ منظومې افسانې نه دي لیکلي خو خپلو زامنو ته یې په دې برخه کې سپارښتنې کړي دي . صدر خان ختک د خپل پلار د غوښتني په اساس ، د (ادم خان او درخانی) د داستان په منظور مو لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې کړ ( د زیاتو معلوماتو لپاره وګورئ : (ادبي څېړني _ صدیق روهي ) (۱۸) مخ
صدر خان په خپل داستان کې د یو یوسفزي چې (طوطي) نومېږي ، کیسه د معتبرو منابعو له خولې کوي همدارنګه په دغه نکل کې د جلال الدین اکبر (مغولي اکبر) د خوشحال او یوسفزو تر منځ د جګړو یادونه هم شوې ده . د خوشحال خان طب نامه ، فضل نامه او نور ډیر اثار او همدارنګه د ده کورنۍ ډیر شمیر غړو د نورو علمي ، ادبي او دیني څېړنو تر څنګ فولکلوریکو مسلو ته هم ډیره پاملرنه کړې ده او په خپل وار یې د (مادي او معنوي ) فولکلور او په مجموعي ډول فرهنګ غنامندي کړې ده . دا لاځه کوې چې په نثر خو لاپرېږده خوشحال خان (طب نامې) غوندې پیاوړي او علمي اثر نظم لیکلی دی لکه چې وایي :

| | |
|---|---|
| د حکمت له کتابونو | راوتلي له بابونو |
| ماد طب په کتابونه | نظر کړی په بابونه |

که د فولکلور د ټولني لړۍ په منظمه توګه د پښتو ادبیاتو په اوږد کې راوڅېړو نو په عمومي ډول ویلای شو چې یوازې په کلاسیک دوره کې هغه هم د خوشحال په کورنۍ کې په شعوري ډول هڅې او هاند د دعې برخې په غني کولو کې شوي دي .
د یو لیکوال په وینا چې د پښتو ژبي د اثارو د غنا او پیاوړتیا په برخه کې(هسې خو د پښتو ژبي د ادبي پانګې د خوندي کولو لپاره په منظمه توګه د هو تکپانو په دوره کې څه نا څه توجه شوې ده ، چې زموږ د ادعابنه ثبوت په هغه وخت کې د نورو فرهنګي خدمتونو تر څنګ د پټې خزانې لیکل او موجودیت دی د همدغې خزانې په استناد په ډاګه شوې ده په همدغه وخت کې په د (نارنج معانۍ) کې ادباوو غونډه جوړیدله او په خپله شاه حسین هوتک به هم برخه په کې اخیستله ، په دغو غونډو او نورو علمي ادبي فعالیتونو برسیر مشاعرې هم کېدلې) ( ۱۷ : ۷۷)
په پښتو ادب کې د هغو ادبي غونډو لړۍ چې زموږ ادب او فرهنګ ته یې غنامندي وربښلې دشاه حسین هوتک په وخت کې د پام وړ دی ، د پښتو ژبي ښاغلی او حقدار لیکوال حبیب الله رفیع پدې برخه کې لیکي : (په افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د پښت لومړنۍ منظې ادبي غونډې چې تاریخ یې راښي هغه غونډې دي چې هره هفته دشاه حسین هوتک له خوا د کندهار په سلطنتی کتابتون کې د ده په مشرۍ جوړیدلې د کندهار علماو او ادباو به ګډون کې کاوه ، ادبي او علمي بحثونه او شاعري به یې کولې او د پټې خزانې یادونې له مخې په دې ټولنه (ادبي دربار نوم اینښودلي ،شو) (۸ : ۲۶۴)

(دپښتني فولکلور د چاپي مجموعه څیړندود د لیکوال ښاغلي سر څیړونکی نصرالله ناصر په حواله : د دايمي غونډو لړۍ د احمد شاه بابا د واکمنۍ په دوره کې هم ترستر ګو کیږي د امیر شیر علي خان دویمه ځل پاچاهي د امیر عبدالرحمن خان (۱۲۹۷) د اماني غورځنګ دوره ، د ظاهر خان په وخت او د ۱۳۵۷ کلونو را پدې خوا د پښتو فرهنګ پالنې ښیرازه دورې وي . خو له ۱۳۷۱ کال څخه بیا تر ۱۳۸۰ ه .ل کلونو پورې دلته په افعانستان او بیا کابل کې په مجموعي ډول خو په تیره پښتو ادب او فرهنګ د سقوط پیر او مرحله ګڼل کیږي . خو د فولکلور پیژندنې ژوند او ښیرازه پس منظر د امیر امان الله خان او بیا له هغه راوروسته دور کې راپیلیږي د اعلحضرت محمد ظاهر شاه (۱۳۳۰ – ۱۳۵۲) د ده د تره زوي جمهور کېدل (۱۳۵۲- ۱۳۵۷ ) او له ۱۳۵۷ بیا تر ۱۳۷۰ مو کلونو کې منظمې فولکلور څیړنې او ټولنې شوي دي . د اروښاد اکاډیمسن محمد صدیق روهي صاحب (۱۳۶۸ کال ) په وینا ( دفولکلوري مواد و راټولونه نه یوازې د اکاډمیک انټرست (مینه والی) او علاقه مندۍ له مخې پیل شوه بلکې د هیواد پالنې او دملي تشخیص احساساتو هم پکې هم هم نقش درلود ، فولکلوریستانو زیارایسته چې فولکلوري اسنادو معلومات د ورکېدله خطر نه بچ کړي .) دغه کار او دغه روحیه او دغه مینه والی نه یوازې د پښتو ، فارسي فولکلور د غنامندۍ لړۍ ده بلکې تر دې د مخه لویدیځوالو او ختیځ پوهانو داسې تجربې هم کړي دي .

ځکه نو لومړۍ لازمه ده د فولکلور د پس منظر او خوندي کولو په برخه کې د لویدیځوالو او ځینو ختیځو پوهانو نظریات راواخلو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- د فولکلور په برخه کې د لويديځوالو او ختيځو پوهانو نظريې :

لويديځوالو او شرقي پوهانو د خپل ادب او فرهنګ دبډاينې او ښيرازۍ لپاره په هر وخت کې تلپاتې ګامونه پورته کړي دي .
لومړی به دلته د لويديځواو بيا به د شرقي پوهانو نظرې راوړو ، يعنې دا چې څنګه فولکلوري راټولونې شوي دي .

## ۳- الف – د لويديځو پوهانو په نظر :

د فولکلور کلمه د لومړي ځل لپاره غربيانو يا لود يځو پوهانو په خپلو ليکنو کې وکارو له . ډبليو – جي ټامس (W.J.Thoms) لومړنی غربی يا انګريزو، چې د ۱۸۴۶ م کال په اکست کې يې په خپلو ليکنو کې د فوکلور (Foklore) کلمه استعمال کړه . خو تر دې د مخه په پنځلسمه او شپاړسمو پيړ کې د يونانی (Greece) او يوم (Uoom) پوهانو يعنې هيروډتس ، ليوی او پلانينی او په اتلسمه پيړۍ کې انګليسي رابرت هم فولکلورې څيړنې کړې وي . اصلي خبره دا ده چې انګليسانو فولکلور راټولنې ته ډېره ياملرنه وکړه او آن ( Folklore Society) ټولنه يې هم جوړه کړه . له دې راوروسته د فولکلور ريکا ډ په نامه يوه مجله هم را منځته شوه . د فولکلور ژورنال (The Folklore Journal) هم رامنځته شو ، (دغه ژورنال او فولکلور مجلو په انګلستان کې د فولکلور ټولونې او خوندي کولو کال ګړندی کړ او ځکه يې نړيوال شهرت هم وموند) (۲۷: ۱)
د فولکلور د راټولنې اړتيا د ټولنو کار او اړتيا ده . د (فولکلور پيژندنه) اثر نامتو ليکوال اروانباد محمد صديق روهي دخپل کتاب په (۳۸) مخ کې ويلي دي : (..په او ولسمه پيړۍ کې په اروپا کې د فولکلور ټولونې په برخه سيستماتيک او شعوري کارپيل شوی دی جان ابری (۱۸۸۶- ۱۸۸۷) او هنري بورن د خلکو يو شمير خرافات او دودونه وليکل او له دې وروسته (جان برانډ) او نورو پوهانو په نولسمه پيړی په آلمان کې لکه يا (ياکوب ګريم ) او د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروور (ويلهلم گريم) او نورو د فولکلور پيژندنې او راټولونې په برخه کې کار کړ دی ) (فولکلور پيژندنه ، ۳۸ مخ) .
ترټولوښه خبره خو دا ده چې په غرب کې د فولکلور راټولونه د اکاډميکې مينه والې له مخې پيل شوې ده ، دا ځکه دوی (پوهانو) غوښتل چې دغه ولسي پانگه له ورکېدلو وژغوري . د ويلو وړ ده، چې فولکلور ځيړنه او هغه خوندي کولو لړۍ په انگلستان ، جرمني فرانسې او نوراروپائي هيواد و کې محدود پاتې نه شوه او دنړۍ نور شمير هيواد ، ته هم ور وغزيده . ډير ژر دغه پخواني شوروي اتحاد ته ورسيده په پخواني شوروي اتحاد کې د شفاهي يا د عوامو ادبياتو ) په نامه فولکلور ټولنې او ځېړنې پيل شوې .د روهي په وينا ( و . گ . بلسينکی دروسيې د نولسمې پيړعد د انقلابي دموکراتانو د فولکلور پيژندنې مؤسس گڼل کيږي . په نولسمه پيړۍ کې د روس روښانفکره او مترقي قشر و خلکو فوکللوريکو آرونو ته متوجه شول د هغو مثبت او روښآنه اړخونه يې له ايرو څخه پاک کړل او تيوريکي بنسټونه يې ورته کيښودل د شفاهی ادبياتو او ښکلا پيژندنې په باره کې ډير کارکړي دی . د شوروي اتحاد وتلی ليکوال ماکسيم گورکې هم د( لفظي هنر) پيل په فولکلور کې لټولی دی. دغسې په اروپائي (لويديځوهيوادو کې نورې فولکلوري ځيړنې هم شوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





شکل(۵)

۵- د کلیوالی ماشومانه ښکار وسایل او توکي چې د مادي کلیوالې کلتور یوه نښه څرگندوی او دفولکلوري مواد و خوندیتوب کی . (طاهر نواز . ( روهي ادب : ۶۴۰ مخ)

فولکلور په خوندي کولو کې د ختیځو پوهانو هلي ځلي :

ختیځو هیوادونو کې د فولکلوري تمدن لپاره ډیره زمینه برابره وه او ده . ختیځ چې پو وخت د نړۍ د مدنیت اساس گڼل کیده ، همداسي فرهنگي بډاینه یي هم د ارزښت وړ ده . کـه دا ومنـو چـې (افغانسـتان د لروغـوني اریـائي تمـدن او د همدې نیمه و چه او بیا بلخ ، پامیر ، هندوکش او د اوسیني افغانستان نوري سیمې هم د روښانه او لرغوني تمدن او بیا ( فولکلور) در لودونکي دي ، د ( پخواینوآریائیانو د ولسي پوهي اثار له هرڅه زیات په (اویستا) کي پاتي دي خو د محققینو ورستي تحقیقات وایي چې زموږ تر عصره رارسیدلي اریایي ولسي پوهه (فولکلور) د دوو سلسلو پاتي شوني دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د باختريانو له لارې چې همدغه ولسي پوهه (خصوصا د حماسي په ډول ) له هر څه زيات د اويستا په متونو اغيزې کړي ، هغه يې اخيستي دي او زردشتي دين د عقايد و جز گرځيدلی دی .
۲- د ساکو او ولسي پوهه : د زردشتيانو د نظر يو اختلافات له امله د هغوي ولسي پوهې د اويستا متونو ته لار پيدا نه کړه خو له يوې مينې نه بلې ته نقل او وروسته له هر څه زيات په فارسي زاړه ادب کې منعکس شول دساري په ډول رستم حماسي د فردوسي په شهنامه کې ) (۷:۱۲۱)
دغسې دهند په نيمه وچه کې که د خلکو پراخه عنعنات وگورو دميلونونو کالونه تاريخ لري . مثلا : د (هولي) په نامه لوبه او دخوښې ورځ چې هر کال د حمل په ۱۲ مه ورځ لمانځل کيږي ډير لرغوني تاريخ لري چې د(مقدس) په معناده. همداسي هم د خراسان زمين او اريانا د (سامانه) او نوري لوبې او فولکلوري موادو توکې يادولای شو .
دا خبره د فولکلور ادب او شعر په برخه کې هم کولای شو . سر ځيړونکی نصر الله ناصر د محمد نواز طاهر په حواله وايې (شعر او ادب د انسان طبيعی صفت دی نو که چيری موږ د دوي (پښتنو) د وجود قدامت تر دغه وختـه تسليم کړونو بيا موږ د دوی په ژبه کې ادب د وجود نه هم منکريدی نه شو خو افسوس دی چې تردې وخته موږ ته د هجري سن نه آگاهو د دې ژبې د ادب څه آثار په لاس نه دي راغلي . د پښتو قديم شعر په ټپه يا مصرع ياديږي او وروسته درزميه نظمونو ابتدا کيږي چې په مثال کې دامير کړور هغه مشهور نظم ورکول کيږي )(۵۸: ۱۴)
د فولکلورنو تصنيفونه هم شته خو موږ د اد نمونې په توگه معرفي کړ . د پښتو د فولکلور ټولونې په برخه کې محمد گل نوري هم ډيرمخکښ دی ( ملي هنداره) د ده فولکلور ټولونې په برخه کې هلو ځلو نيجه ده ، نورې چې کله د خلکو مال راټول کړی دی نو د امانتدارۍ اصل يې ډير پکې مراعات کړی دی .
(ملي هنداره) کې نوري صاحب د (فتح خان بړيځي ، ښادي او بېو) مرد او نامرد زبزبانه ښاپيرۍ . موسي جان او ولي جان . مؤمن خان او شيرينو ، جلات خان او شمايله) فولکلوريکي خو عيني کيسې راټول کړي دي، دی دخپل کار شيوه داسې را پيژندندي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مـــیانو څه لیـــکلي ماکـــښسې دي
د میـــنو ښې خوږې نارې پـــکې دي
نه زیادت او نه کـــمبود مې پـــکې کړي
د هماغه نکلـــچي دخولي جـــملې دي
دات کښسې خـــلک په ډول ډول کـــړینه
څوک وای داسې څوک وای داسې یې نارې دي
که څه زیاد یا کم غلط درسي (درشی) په سترگو
عـــفو غـــواړه دا دبـــل خـــولې دي
محمد گل خان نوري له دغه فـــخر بس دی
لڅې کړې یې د پښتو خدمت ته پښې دي (۱۷:۳۹)

کله چې پښتو ټولنه پـه (۱۳۱۹) کابل پـه کابـل کې جوړه شـوه نـو د : (پښتو فولکلور تـه هـم خـاص ځـاي وټاکـل شـو او د د غـې مؤسسـې پـه اساسنامه کې د فولکلور ټولنې موضوع هم شامله شوه ) فولکلور پیژندنه ۵۰ مخ)

له پنځوسمو هجري کلونو (۱۳۵۰) را په دې خوا پـه عـمومي ډول او پـه ځـانگړې توگه د پښتو فولکلور د راټولو په په برخه ډیر کار شوی دی .

په ۱۳۵۱ ه . ل کابل د وخت د اطلاعـاتو او کلتـور ( اوسنی فرهنگ) د وزارت پـه چوکات کې د فولکلور ټولنه تآسس شوه ، د (فولکلور) په نامه مجله او د (قصه ها او افسانه ها ) او (پښتني ملي اټنونه او نڅاوې ) په نامه یې دوه اثر چاپ هم کړه .

له ۱۳۵۷ ه . ل کلونو را په دې خوا د (فولکلور) د مجلې نوم په (فرهنگ خلق) او بیا په (فرهنگ مردم) واړول شو . له دغو کلونو را په دې خوا د فولکلور د راټولـو لو په برخه کې خواره واره کارونه شوي دي . دزیرې اخبار چې د علومـو اکاډمـی له خوا خبریده فولکلور د خپرونو ښه منبع ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴- د درېيم څپرکی د موضوعاتو لنډيز :

- د فولکلور کلمه د لومړي ځل لپاره په ۱۸۴۶ م کال کې ټامس و کارولِه :
- د فولکلور پس منظر (شاليد) د بشر په تاريخ اوږدې او لرغونې جرړې لري آن په لرغونوني يونان کې دتاريخ پلار (هيترودتس ، ليوی اوپلپنی) په لرغوني يونان اوروم کې د بشر د تاريخ برخه کې ليکنې شو دی .
- په اروپا کې په ۱۷ م پيړۍ کې د فولکلور ټولونې په برخه کې منظم کار پيل شوی دی.
- جان ايبری د لومړي ځل لپاره په ۱۶۸۶ - ۱۶۸۷ م کې د خپل وخت يو زيات شمير(خرافات او دودونه) راټول او د يوې مجموعي په توگه په (پوپليراتئ کويتيز) په نامه يې چاپ کړل او پدې کتاب کې دانگلستان د بزگرانو عنعنې اوموسيمي شعاير شرح شوي دي .
- جان براند هم په همدغو کلنو کې د فولکلور په باب ځينې اثار خپاره کړل .
- په جرمني کې په ۱۹ مه پيړۍ کې (ياکوب - گريم) او د ده ورور (ويلهلم گريم) د فولکلور پيژندنې په برخه کې تيوريکی څيړنې وکړې .
- د فولکلور د خوندي کولو په برخه کې د روس انقلابي ديموکراسانو هلې ځلې هم د يادونې وړ دي .
- و . گ . بيلنسکي د روسي د نولسمې پيړۍ د انقلابی ديموکراسانو د فولکلور پيژندنې مؤسس گڼل کيږي هغه د عوامو د بديعي تخليفاتو په برخه زاړه مواد راټول کړل .
- چرنيشفسکي (۱۸۲۸- ۱۸۸۹ م) شفاهي ادبياتو او ښکلا پيژندنې په باره کې ډير کار کړي دی او د ولس بديعي ايجادياتو په برخه کې يې نظر در لود چې بايد په مشخصه تاريخي قرينه (يوه منظمه برخه ورکړل شي) تر څيړنې لاندې ونيول او بايد شفاهي ادبيات او تاريخ گډ سره مطالعه شي .
- ماکسيم گورکي اونور (دوبروليويوف او پلخانوف) هم د فولکلور پيژندنې ځينې بنسټيز تيوريکي مسايل وڅيړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



– فولکلور څېړنه په شمالي اروپا کې د هغو له جملې ناروی کې (هنريک ايبسن) په سويدن کې هلتن کاولوشي لاکرلوف(۱۸۵۷ م ) چې په ۱۹۰۹ م کال يې د نوبل جايزه هم واخيسته د يادولو وړ دي .
– په ايران کې هم فولکلور څېړنې شوي دي . صادق هدايت (نيرنگستان) . (بف کور) او نورو اثار وليکل .
– په ريگوايد کې د نړۍ دپيدايښت اسطوره راغلي ده .
– په اريانا کې لومړنۍ فولکلوري لوبي (سامانه) او نورو مواد شته .
– په اريانا باختري برخه کې له د يشينو (غيرکوچي) څخه د اوستا مقدس متون را پاتې دي .
– د ساکو کېسې او د کيومرث لرغوني باختري اثار راپاتې دي . حتي د کيومرث افسانه بيا په منځنيو پيړيو کې په عربي او فارسي ادبياتو کې ډېره منعکسه شوې ده لکه د طبري په (تاريخ الرسل والملوک) يا د البيروني په (الباقيات عن القرون الخاليات) فردوسي په (شاهنامه) .
– البيروني ليکي : د کيومرث نوم (گرشاه) او (گر) په پهلوي کې (غر) ته وايي او ده په غره کې ژوند کاوه .
– په پښتو کې غر ، ورته وايي اوسني مثالونه لکه : سپين غر ، چونغر ، غوربند (غربند) او پخوانی بڼه لکه گربند ، سپين گر .
– د کيومرث په باب اختلاف زيات دی ، ځينې وايي سام د نوخ زوی له اولادې وو ،. او نوم يي اسيم بن لاورد و ، په نړۍ وگرځيده او په بې نوم شيانو يې نوم کيښود او د نړۍ په کرنه او و دانۍ کې يې زيارويوست ، ديرش کاله يې حکومت وکړ ، دزوی نوم يې (ميشي) د زوي ، زوي يې (سيامک) د سيامک زوی (فراواک) او دهغه زوی(هوشنگ) وو .
– د اريائي کېسو دويمه لړۍ کر ساکي افسانې راځي چی مهم اتلان يې رستم زال زرينه ملکه توميرس اونور دي .
– ساک لمر پرستان و او زردشتياو ورته په ښه نظر کتل فردوسي هم ياد کړي دي بزرگان و شيران زابلستان = همان نامداران کابلستان ...
– په پښتو کې د ساکو د (شيرک) کېسه ډېره مشهوره وه . دا هغه حماسه وه چې شيرک د هخامنشيانو د پاچا (دارا) په خلاف د ساکو د قيام (۵۱۳ ق.م ) په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې یوساکي میترو په داسې بد حالت کې چې غوړونه او پوزه یې غوڅ شوي و دپارسایانو په سنګرور ننووت ، همدغه شیرک وو .

– شیرک پارسایانو ته چال جوړ کړې و ، هلته یې د خپل قوم شکایات وکړ ، پارسایانو هغه ته دغچ اخیستلو لاره وروښوده . شیرک (۷) ورځې سترې کوونکی مزل کړي و او پدې اساس هغو له ده سره د مرستې وعده وکړو او دهغوی لښکر دښتي ته ووت ، خوپارسایانو ته دامعلومه شوه چې شیرک خپل ځان له بد حالت سره مخ کړی دی ، شیرک له دغه کار انکار وکړو او په وروستۍ سلګۍ کې یې وویل زه بریالی شوم ځکه چې دوي ، زما دهیواد والو (ساکو) د بې وزله نه یې کرکه کوله .

– په افغانستان کې دفولکلوري اثار اودخلکو د طبیعت ډیر اثار او حماسي پاتې دي ، کندهار په خاوره کې د ځینې لوښو موندل ، په بغلان ، آیي خانم و ګندهارا یا اوسني ننګرهار (هډه) کې د لرغونو اثار وموندل او دغه راز په لسګونو یادونې موندلی شو .

– په پښتو ادب کې د لومړنیو حماسي اثارو شته والی لکه په ۶۶۱ ه کې د بابا هوتک شعرونه چې :

– په سور غربل راته نن اور دی وګړیه جوړ راته پیغور دی ....
– غښتیلو ننګ کړي دامو وار دی مغول راغلی په تلوار دی .....

– دا او داسې نور اثار د خلکو د طبیعت ښوونه کوي .

– فولکلور ټولونه د لومړي ځل لپاره خوشحال خان او د ده کورنۍ کړې ده بازنامه دستارنامه یا د صدر خان خټک ( ادم خان او درانۍ ، درخانۍ) د یا دولو وړ دي د خوشحال خان (طب نامه) فضل نامه د ډیرو یا دولو وړ دي .

– د احمدشاه بابا له وخته رانیولې ، بیا تر امیر شیر علي خان ، امیر عبدالرحمن خان حبیب الله په تیره غورځنګ ، د ظاهر خان ، داواد خان ، له ۱۳۵۷ تر ۱۳۷۱ ه ل کلونو د ټول افغانستان د فرهنګ او بیا د پښتو فرهنګ پالنې دوره وه .

– له ۱۳۷۱ ه . ل څخه بیا تر ۱۳۸۰ ه ، ل کلونو پورې په تیره د پښتو فرهنګ د زندۍ کولو پیر او مرحله ګڼل کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د فولکلوري مـوادو راټولونـه نـه يـوازې د اکاډميک انترست (مينـه والـی) لـه مخې پيل شوه ، بلکې د هيواد پالنې او دملي تشخيص احساساتو هم پکې رول درلود
- هغه تصنيف چې محمد قدير تره کي په کابـل مجلـه (۶۳) گڼه او شپږو کال کې خپور کړی د فولکلور د ويشلو په برخه کې ډير غني دی .
- ملي هنداره فولکلوريکې کيسې (فتح خان بړيخي ، ښادي او بيبو . مرد او نـامرد ، زبربانـه ښـاپيری ، موسـي جـان او ولـي جـان ، مـؤمن خـان او شـيرينو ، جلات خان او شمايله ډيرې د يادولو وړ دي .
- دپښتو فولکلوريکو مـوادو د راټولولـو ښـه مـوده د پښـتو ټولنې لـه راجوړيـدو (۱۳۱۹ ه .ل ) را په دې گڼل کيږي .

## ۵ – د دريېم څپرکی پوښتنې :

۱- په لويديځ کې د فولکلور په پس منظر څومره پوهيږئ ؟
۲- په ختيځ کې د فولکلور په پس منظر څومره پوهيږي ؟
۳- په لويديځ کې د لومړي ځل لپاره چا د فولکلور کلمه استعمال کړه ؟
۴- د اريايانو له جملې نه چا لومړنی فولکلوريکې هلې ځلې کړي دي ؟
۵- په ختيځ کې کو مو مؤسسـو د فولکلـور د راټولولـو پـه برخـه کې هڅې کړي دي ؟
۶- د پښتنې فولکلور لپاره چا د لومړي ځل لپاره کار کړی دی ؟
۷- د خوشحال خان مشهور فولکلوري اثر څه نوميږي ؟
۸- د فولکلور کوم تصنيف چې محمد قدير تره کي وړاندې کړی دی راواخلئ ؟
۹- کومو مؤسسو په افغانستان کې د لـومړي ځل لپـاره د فولکلـور راټولولـو تـه ملاوتړه له ؟
۱۰- د څو فولکلوريکو مجموعو نومونه واخلئ ؟
۱۱- د فولکلور راټولولو لپاره که چا مشخص کار کړی وي نوم يې واخلی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم څپرکی

## ۱- پښتوفلکلوريک ادبيات:

فولکلور دپښتو اد بیاتو یودرنه اورنګينه برخه ده .
پښتو فولکلوريک ادبیاتو د نورواړخونوپه څیر خورالویه برخه جوړوي د ارواښاصديق روهي په وينا اکثروپښتنوليکوالود ( فولکلوريکوادبياتو ) پرځای د (ولسي ادبياتو) اصطلاح منلې ده. په هرصورت د فوکلور يا فولکلور کلمه خود نولسمې پيړۍ خبره ده ، مګر د خلکو معنوي هستي اوشتمني يعنې ولسي ادبيات او دودونه خود دوی له ژوند سره هم ګامي دي اوممکن د ((خلکوعنعنې اودودونه دهمدوی دژوندهمزولي هم وي)) پښتوفولکلوريک ادبيات او ولسي شتمني د همدې لوی ولس ما ل دی د ((فوکلورحاملين خلک دي اوخلک د سن ، طرزفکراوټولنيزدريځ له مخې توپير لري مثلاً : مشران اوسپين ږيري د لنډ و کېسو ، متلونواواخلاقي افکارولرونکي حاملين دي .)) (۵۲- ۶۶) له همدې امله پښتو ادبيات هم يوه ستره لر غونې شتمنې ده. د پښتون قوم دوګړني ادب په برخه کې (جم ډارمستسر) په خپل معروف اثر(دپښتنخواد شعرهاروبهار) ۱۴- ۱۵ مخونو کې وايې چې : ((وګړني ادب اصيله چينه لري ...دخلکوله دې سندرونه دپښتنود دودونواوژوند باب لوی مطالب ترلاسه کېږي اود دوی دژوند رښتنی انځور دی . )) (۶۸- ۱۵۴ ) دپښتنوفولکلور که مادي دی که معنوي او ادبيات که په نظم کې دي اوکه په نثرکې داټول د دوی دټولنيزواړيکو، عنعنواو دفکرد طرزمحصول دي ، له همدې امله : (( دولسي پوهې لمن ډيره ارته اولويه ده ... دنظم اونثربرخه په هره ټولنه کې شته ... منثورفولکلور ( ولسي ادب ، ولسي پوهه ) په يوه ټولنه کې دهغې ټولنې هغه کېسې (متلونه ، نکلونه) اونور منثورمواد دي چې پکې رواج لري . ))منظوم فولکلوريې ولسي سندرې دي چې په بېلوبېلوقسمونواوژانرونوسره ليدل کېږي يرېږه پردغودووبرخويوډول منظوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزمه فولکلوريک ادب هم شته چې په پښتوکې يې ښه مثال کېسې اومتلونه دي ...
لکه : وه توري مرغۍ په اوبووهي بوزۍ ...
توره توره تله = د دووتر مينځ ولګيده ... (۳۷:۱۲) دپښتو فولکلور لمنه خو خوراپراخه ده ، موږبه په لنډ ډول د (پښتوفولکلوريکو ادبياتو په (شکلي اومحتوايي ) اړخونو رڼا واچوواو دابه وښتوفولکلوري ادبيات په لاندې ډولونوموجود دی :
الف- فولکلورپه شفاهي ډول
ب- فولکلور په عنعنوي توګه
ج- فولکلوردنظم اونثرپه بڼه
د- دفولکلورجوړوونکي ډيرځله معلوم نه وي .(ولس)
و- فولکلورديوه کلتور دجزپه توتوګه له هرولس سره شته .
هـ - دپښتنوفولکلورد دوی دکلتوريوه ستره برخه جوړوي .
همدارنګه پښتو (فولکلوريک ادبيات )په دوه کالبونو (نظم اونثر) کې ځان څرګندوي زموږ د هيوادتکړه فولکلور پوه محمد قدير تره کي دفولکلور يکوادبياتو د تصنيف په برخه کې خورا دارزښت وړ نظريات وړاندې کړي دي .
نوموړي فولکلور په دوو( معنوي اومادي ) پرخوويشلی دی چې موږ يې تر (معنوي) برخې لاندې دپښتو لولکلوريک ادبيات راوړو:
نوموړی په کابل مجله ، ۶۳ ګڼه ۱۳۱۵ کال کې ليکلي و:

## معنوي برخه

لومړی : ادبيات
۱- نظم : دشعرډولونه ، طويل بحر، رنګارنګي ملي سندرې .
۲- نثر: کيسې ، حکمتونه ، معماوې اوکيسې (چستانونه)... (۴۴)
دپښتوفولکلوريکوادبياتوپه معنوي برخه کې معمولاً دا دوه ډوله (نظم او نثر) تر ستر ګوکيږي.د دغو ادبياتو زمينې او زيرمې ټولې په ولس کې وي ، د يو ليکوال خبره :
(په پښتو کې دشفاهي ادبياتو د پراخو زېر مو شتوالی له هنر او ادبياتو سره زموږ د ولس دپراخه پرګنو د مينې ښکارندويې کوي او دا راته شي ،چې زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک که په پراخو سوځنده د ښتو او ناپایه بیدیا وو کې په ډیره ابتدائي بڼه ژوند کوي او یا په غرونو او درو کې اوسیي – که بیسواده دي او دیا د نوي تمدن له بریا وو لیرې پاتې شوي دي خو هنري ذوق لري او خپله تنده د ځینو داسې سندرو او نورو هنري – ادبي توکو د ایجاد او خورلو له لاري خړوبوي ...) (**۵۳** – ص)

د پښتو فولکلوریک ادبیاتو هر ادبي ژانر * (ډول) د ځان لپاره ځانګړې بڼه یا جوله لري همداسې يې مضمون او منځپانګه هم درواخله ....

ځکه خو په شکل او مضمون کې د نورو ولسونو له ادبیاتو څخه ځانته جلا لاره او ځانګری رنګ ، خوند او مضمون لري . د مثال په ډول :

د مضمون له پلوه ښتو متلونه یو خاص یا ځانګړې . زبردستي لري هغه مطلب او مضمون چې په پښتو متل کې پروت دی ، فارسي ، عربي ، هندي او یا نورو ژبو کې نه لیدل کیږي لکه : په فارسي ،. دري متلونه کې وایې : (نیم نان – راحت جان – تاکه مېچله بچلان – آفتې نرسد گوشه تنهایي را – گردن نرمه شمشېر نه بریده ) ... او نور .

خو په پښتو کې له پورته متلونه سره ورته او یاهم معنی متلونو کې بل ډول روحیه پرته ده ، لکه : (یا مور یا مړ – بلا په مخ وهلې ښه ده ) د ( نریا ترپ وي یا خرپ) اوښ په بډه نه وهل کیږي) ... او همدارنګه ډیر نور متلونه ولسی ادب ځانته روحیه او مضمون لري دغه مضمون د پښتون ولس له طبیعت سره سم په متلونو او نورو ادبي ډولونه کې ځان ځرګندوي او بېلا بېل مضمونونه لري دا درسته ده چې د مضمون او جولې له پلوه څه مشابهتونه یا ورته والی هم لیدل کیږي ، مګر هر ولس ځانته جلا ادبیات لري .یو بل مثال : په ترکمني متل کې راځي : ( آته مالینه گوزتیکن او قوسیز عالر) ترجمه (ځوک جې د پلار شتو ته سترګې نیسي بې علمه پاتې کیږي .) په پښتو کې : چې په خپله میړه نه یم = نوبه فخر په باباکوم ترکومه یا ترکمني( آته انه نینګ ګونی او غله ن بیله ن غیزده او له رینګ ګوني داغ ن دوز ده) (۱۸ – ۸) ترجمه –(دومره چې د مور او پلار زړه په اولاد خوږیږي هغو مره د اولاد په هغوی نه خوږیږي . په پښتو کې : ( د مور او پلار زړه په اولاد په کاڼي ، بوټي ) (۳۶- ۱۶) .همداسي د شکل (بڼه) له پلوه هم پښتو شعر او متل د نورو ژبو له اشعارو او متلونو توپير لري مثال : لنډی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو ژبې يو جلا ژانر او صنف دی د بڼې او مضمون خوند او رنګ يې بالکل جلا دی ، لکه :

ما وي له غمه به دې مړه شم          مرګ په نيتېه دی د روغژنه شومه مينه

- پښتو لنډۍ ته ورته په (جاپانی) فولکلور کې د (هايکو) په نامه څه شته چې اوس اوس پښتو ادب ته هم څه راغلي خو چې څومره چسپ لري او کنه نو وروستی خبره ده ، مګر دومره به وايم که (هايکو) په فورم کې پښتو شاعر او شاعره څومره تمرين وکړي خو زموږ مال نه شي کېداي . ځکه د پښتون ټبر له فطرت او طبيعت څخه سرچينه نه اخلي .
*ژانر : فرانسوی کلمه ده، دډول اونوع په معنا ده.



*

شکل(۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژانر : په لغت کې ډول ، صنف ، ټيپ ، بيلګه وايي . او په ادبي کره کتنه کې ژانر د ادبي اثارو پر جلا ټيپونو يا کټګوريو باندې دلالت کوي چې د جلاوالي معياريې فورم (شکل) يا تکنيک دی . (روهي – فولکلور پيژندنه ۱۵۶ مخ)
کوچيانی کلتور او ژوند برخه انځوروی . (سيال کاکړ . پښتني فولکلور : ۱۳ مخ)

## فولکلور ځانګړتياوې:

پښتو ادبيات او بيا فولکلور يولړ ځانګړنې لري ،چې له نورو ادبياتو را جلا کيږي .
( کابل افغانستان سلطنت بيان) د پښتنې فولکلور په برخه کې يوه مهمه قيمتي خزانه ده ، چې تر اوسه يې بيلګه نه ليدل کيږي الفستن په کتاب د پښتو د بيلا بيلو قومونو فولکلور او د هغو ملي کرکترونه په مفصله توګه بيان کړی دی . د پښتوخويونه ، دودونه ، خيرې، کالي ، انګيرنې ، تولنيز او اقتصادي حالت ، د دوی خوراکونه ، لوبې خرافې افکار د اداري طرز ، شعاير ، عقيدې او باورونه ټول څيړلي دي . پښتني فولکلور د پښتنو د ژوند ځلانده هنداره ده، چې په دغه هنداره کې د دوی د ژوند ټول اړخونه مخ ښکاره کوي ، الفستن د پښتني مادي فولکلور لکه ( د کورونو د جوړښت طرز ، سامان او افزار ، د جنګ آلې او .. بيان کړي دي . په دغه کتاب کې د ټولنيزو پاټکو (طبقو) طبقاتي توپيرونو او کلتورنو په ګډون تاريخي ، جغرافيوي اتنوګرافي * او سوسيو لوجيکی * هرراز موضوعګآني څيړل شوي دي . د پښتو عام کرکتر يوه بله موضوع ده چې په دي کتاب کې يې لنډيز وړاندې شوی دی په اتنوګرافي ، يا باستان شناسي ، لرغون پيژندنه ده هغه اثار چې دوختونو په اوږدو کې پيژندل او ساتل کيږي .
* تولنيز پيژندنه ده چې په هغه ټولې ډلې په علمي توګه ژوند کوی . يوه برخه کې داسې راځې : ( د پښتنو کرکتر چې په څو کلمو کې لنډ شي نو د دوی عيبونه : انتقام ، رخه حرص ، چور او سر زوي دي خو له بلې خوا په ازادی مين دي . خپلو ملګرو ته وفا داردي په لاس لاندې خلکو زړه سواندي لري ، ميلمه پالونکي دي ، زړه در دي او سخت سري دي ، کم خرڅه هم دي ، خواريکښ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



، احتياط کار دي او نورو گاونډ يانو ملتونو په تناسب خطا (ايستلو) دسيسې او فريب ته لږزړه ښه کوي . د پښتو کلتور او بيا فولکلور له نورو گاونډو جلا مطالعه کېدای شي پښتانه د ژوند په ټولو برخو کې له نورو قومونو جلا او ځانته لاره او خصوصيات لري . د پښتني فولکلور د خصوصياتو په باره کې له لرغونو وختونو څخه تر نن ورځې پورې ډير مواد لاس ته راتلای شي .
دپښتون (پکت ، پښت ) قوم د ملي کرکټر په باره کې په ډيرو کتابونو کې د هغو له جملې (ريگوايدا) ، (سام ويدا) ، مچوريا ) او د نړۍ د ستر مورخ (هيرودتس) په ليکنو کې يادونې شته . انگيريزي ختيځ پوه (مکنزي) د ساکو قبيله د پښتنو يوه پياوړې څانگه بولي ، د دوی افسانې د پښتني فولکلور ډيرې لرغونې بيلگې گڼل کيږي . اروابښاد دوست شينواري په خپل معتبر اثر د ( پښتو د ولسي ادب لارې) کې وايې ( دساکي اتلانو په جمله کې يو هم رستم دی .. هغه د عربو د تيري کونکو سره ديوه مبارزه شخص په حيث ثبت شوی دی . او د ( يادگارزريران) او (درخت اسوريک) پانياني قصيد وکې هم دغه نوم قيد شوی دی . د فرودوسي صاحب په شهنامه کې هم د دغه واکمن يادونه شوې ده ، د پښتو دولسي ادب لارې ليکوال د (شيرک) نوم هم راوړي چې دا په پښتنو قومونو کې يو معمول نوم دی ، هغه زياتوي . (دساکو ډيرې حماسې لرغونو مؤرخينو په خپلو آثارو کې ساتلي دي چې يوه هم د(شيرک) حماسه ده چې بولين د(جگړې چلونه) په نامه په خپل کتاب کې درج کړی دی . همدا ډول ډيرې نورې عنعنې او دودونه شته چې د پښتني فولکلور څرگندونه کوي . ميړانه او او قاداري يو بل اصل دی چې د پښتنو کلتور لابرجسته کوي . په دويمه ميلادي پيړۍ کې لوکيان د ساکو دروحيې په باب ډيرې نورې کېسې ليکلي دي ، او د ساکو د متل پې را اخيستي دی چې په کې ويل شوي و : له دې زيات خجالت نشته جې په دوستۍ کې څوک خاين څرگند شي ، ( دولسي ادب لارې -۱۲ مخ) لوکيان د ساکو د ښځو له زړه ورتيا هم غږيږي او د ملکې زرينې) په باب ليکي : دساکو ښځې ډيرې زړه ورې دي او له نارينه و سره يو ځای له جگړو کې گډون کوي شيرک : هغه څوک و جې د (هخامنسيانو پاچا لومړی دارا په خلاف د ساکو د قيام (**۵۱۳** ق م) کې پداسې حال کې جې پوزه او غوږونه يې غوڅ شوی و د پارسايانو په سنگرونو ورننوت او د خپل قوم له لاسه يې شکايت وکړ خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکا يې په خپله کړي و مګر د هغوی د غو لولو لپاره دا کار کړی و هغوی يې دښتی ته راويستل او هلته له لوږی او تندی مړه شول . زرينه د ساکو يوه ډيره زړه وره او توريالۍ ښځه وه چې د خپل هيواد استقلال يې وساته او ډير ښارونه يې ودان کړل د دې له مړينې وروسته د دې قبر د هرم په ډول جوړ شو او يو سلو پنځوس متره لوړه وو او په سريې د سرو زرو مجسمه در ولې ده . که د لرغونو دورو اثار وګورو د پښتو د فولکلور په پاب زيان معلومات تر لاسه کېداي شي (ابوريحان البيروتي ) په خپل يو اثر (الباقيه عن القرون الخاليه) کې د پښتنو د فولکلور په باب څو په زړه پورې ټکي ليکلي دي ، لکه :

(هيوان تسانګ چيني سياح په ۶۳۲ م کال افغانستان ته د خپل سفر په ترڅ کې د پښتني سيمو د فولکلور او(بابر) هم د پښتنو په باب جالب ټکي بيان کړي دي د سيفي هروي (تاريخنامه هرات) د مسيحي سياح) (بصيرت نامه) د اخوند درويزه (تذکره الابرارو الاشرار) هم د پښتني فرهنګ په باره کې ډير مطالب خوندي کړي دي ) فولکلور پيژندنه (۱۴۹ مخ)

د پښتو فولکلور په عامه مانا د پښتني ټولنې د تکامل لارې ، د خلکو د تجربو له سرچينه څخه چينه رااخلي ، د (پښتو ولسي ادبيات په لوی سر کې په دوو برخو بآندې ويشل کيږي:

## ۱- منظوم ولسی ادبيات

## ۲- منثور ولسی ادبيات

په منظمو اثارو کې جلا صفتونه او ډلې شامليږي او همدارنګه منثور آثار هم بيلا بيل ډولونه يا ژانرونه * لري چې موږ به په لنډ ډول دغه صنفونه او بيا د هغوی هندسي جوړښت وکاږو :

داسې چې هر ادبي صنف ځانته بيل بيل ډول لري، بيل بيل مضمون هم لري که څه هم په ادبي اثارو کې ډير ځله مضمون ورته والی شته خو دبڼې يا جولې له مخې هر (ډول) بيل سکښت لري . دلته به موږ لومړي د (نظم) تر سر ليک لاندې صنوفونو او بيا به د نثري صنفونو نومونه واخلو او وريسې به د هر نظمي (ډول) هندسي جوړښت او (نثر) حدود او جوړښت وڅلوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی – نظم :

## د نظم تر سر ليک لاندې :

۱- لنډۍ ۲- سروکۍ ۳ بآبولالې ۴ – داتڼ نارې ۵- د ماشومانو سندرې ۶- د ميندو سندرې ۷- تاريخي نارې (چاربيتي) ۸- منظوم متلونه ۹ – کاکړۍ غاړې ۱۰- برغازې ۱۱- سلسلې ۱۲- پړاکې ۱۳- د ښآدۍ بدلې ۱۴- ساندې ۱۵- چغياني ۱۶- غزل ۱۷- ځلورريځي ۱۸- بدلي ۱۹- ږغونه ۲۰- د متروکو کسرونه ۲۱- بگتۍ ۲۲- لوبې ۲۳- داستان (بدله) ۲۴- مقام (رباعي) ۲۵- انگۍ ۲۶- د بي بي دستي سندرې ۲۷- دنکلونو نارې (غږونه) ۲۸- سنځر خليې نارې ۲۹- کيسۍ ۳۰- سوزخاني او نور ولاړ شو د نظم د پورته ډولونه په عامي (عامو) او خاصو) سندورهم وويشو لکه :

## الف عامې سندرې :

۱- لنډۍ ، سروکې ، داتڼ نارې ، د ماشومانو سندرې ، دميندو سندرې ، تاريخي نارې دبي بي دستي سندرې ، کيسي (منظومي) منظوم متلونه ، غاړې (کاکړۍ) برغازې ، سولې ، سلسلې ، بلندې ، پړاکې ، فالونه ، د ښادۍ بدلې ، ساندې ، چغياني او .... چاربيتې ، بدلې لوبې ، ږغونه ، د مروتو کسرونه ، بگتۍ ، لوبې ، داستان ( بدله) مقام (رباعي) او نور ازاد ولسي شعرونه يادولای شو .

## دويم : منثور ولسي ادبيات :

متلونه ،نکلونه ،وړې کيسې ، توکې ، بولنې ، تکيه کلامونه ، روايتونه ، دعاوې او ښيراوې ، متشابهات ، رمزونه ، فالونه ، کتايې او ....

د پښتو ولسي ادبياتو لنډه پيژندنه او هندسي جوړښت :

الف – د پښتو ولسي شعر هندسي جوړښت او تقطع (شننه) د پښتو فولکلوريک يا ولسي شعر ښه ځانته خاص هندسي شکل لري چې موږ په يې په ترتيب خو لنډ ډول سره دلته راوړو ، زه به هڅه کړم چر په ډير لنډ ډول د هر (صنف) د نوم تر مخې دهغه ديو عملي مثال او بيا جوړښت په شکل کې ونيسم لکه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اول – لنډکۍ (Landakay) :

لنډکۍ له لنډۍ سره توپیر لري ، مګر بیا هم ورنږدې ده دا ځکه چې د لنډۍ دویمه مسره (۱۳) او د لنډکۍ (۱۴) سیلا به ده : (د پښتو د ولسي ادب دغه له نظره لویدلې برخه د پکتیا په ولایت کې اوس هم ژوندۍ ده او دا یو ډیر لنډکۍ او خوږ شعر دی چې تر اوسه پورې پې دپښتو په ولسي ادب کې انډول نه دی لیدل شوی او د پښتو په ولسي ادب کې له دغه شعرنه لنډکۍ شعر نه لرو ، دا ځکه د کاکړو د غاړو د دواړه مسریو سیلابونه معمولا (۱۶) ا د لنډۍ دواړه مسرې دوه ویشت سیلابونه، دي خو دا شعر یوازې یوه څوارلس سیلابیزه مسرۍ ده نو ځکه د لنډکۍ نوم غوره ورته وبلل شو )

د لنډکۍ پای لکه د لنډۍ غوندې (ونه ، ینه اومه) سرته رسیږي پوره تفصیل یې په بل څیرکي کې وګورئ : لنډکۍ یوازې یوه مسره لري خو دسندرو یلو په وخت کې لکه د سروکو په شان له نورو سره غبر ګیږي لکه :

ګل لالی یې راوړ لکه ناوې په ډولونه

ګلالی مو ورک مور یې جومات کې لټوینه

هندسي جوړښت :

الف

×××× الف

×××× الف

الف ××××

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ | ۱۳ | ۱۴ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګل | لا | لی | یې | را | وړ | ل | که | نا | وې | په | ډو | لو | نه |

## ۳- سروکې (Saruke) :

(c) ketabton.com: The Digital Library



سروکي: ځينې خلك ورته (نيمکی) هم وايي. دسروکی مکمل اوبشپړونکی لنډۍ دي. سروکې يو بيت يعنی دوه مسرې لري اوډيرځله لومړۍ يې تردويمې اوږده وي، لومړۍ سروکې ويل کيږي اوبياټيکی وراچول کيږي (۱۲۴).

سروکې خو پنځه ډوله دي ، هندسي بڼه يې هم يو ډول نه ده .

۱- لکه : له کوره راوتې د نجونو په ټولي کې = پرتوګ دې ليکې ليکې

A A

په تور وربل کې دې ټومبلي زيړې ګلې په ځنګ تېريږې ګلې

B B

يا : چې لومړۍ مسره يې (۱۳) او دوه يمه يې (۷) سيلا به وي . لکه :

جلکۍ خپه ده نن سبا يې ودوينه اور بل يې ړنګوينه

چې دديدن نصيب يې نه وي اوربل يې ړنګوينه

په يوه کوڅه کې سره وړاندې وروسته شينه اوربل يې ړنګوينه

جلکۍ خپه ده نن سبا يې ودوينه اوربل يې ړنګوينه

هندسي جوړښت :

الف الف

الف الف

۲- هغه بيتونه چې لومړۍ مسره يې (۱۴) او دوه يمه يې (۷) سيلابه وي ، لکه :

ته شوې رانه پاتې زه پر دې وطن ته لاړم خپه يم ځکه ژاړم

الف

يا : ټکه غرمه ده اوس راوځي غونډه منډه د سمال وهي په ټنډه

ب ب

يا : داغونډه منډه ځواني ما سره بدله کړه پا څه ډيوه بله کړه

ت ت

جلکۍ وديږي په سپين مخ يې وانښکې ماتې شوې جار وطنه پاتې شوې

الف الف

۳- بيتونه :چې لومړۍ مسره يې (۱۵) او دوه يمه يې (۷) سيلابه وي لکه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلک = ته يې شنه کوتره زه يم باز دګړنګو جلکۍ        وړم دې په پنجو جلکۍ
الف                                  الف
جلۍ – ځان به سينګآر کړم مازديګرۍ ته زه درځمه        تور لونګ به وټومبمه
ب                                  ب

۴- هغه سرو که چې لومړۍ مسره يې ديارلس او دوه يمه يې شپږ سيلا به وي لکه :

ګودرته راشه خو له به در کړم مازيګرکې        ودريږم په څادر کې
الف                                  الف

يا :

دزيړو ګلو څانګې مه نيسه ماتيږي        زړه مې په بديږي
ب                                  ب

يا :

ته چې د خيال خندا کوي ما به ملنګ کړې        ډير به مې بدرنګ کړې
ج                                  ج

۵- هغه سرو که چې لومړۍ مسره يې (۱۴) يا (۱۵) او دوه يمه مسرۍ يې شپږ سيلابه وي لکه:

تا به ليونی کړم که زه ډير توره ومه        ځان چې جوړومه
الف                                  الف
آيينه رنجورمه راکړه موريې سترګې تورومه        يار خوشحاله ومه
ب                                  ب
يا : ټول ووړ کې به مړه شې ، ستا په سرد ګلووني        توغې کبر جنې
ج                                  ج

(غرنۍ سندرې له (۱۵۴- ۱۵۱) مخونه .

## ۴- کاکړۍ غاړې *kākari γāre*

کاکړۍ: ته کاکړۍ غاړې هم وايي، لکه لنډيو غونډې دپښتنو ولسی ادب برجسته صنف دی. د(نارو)، (لنډيو) او (غاړو)په نامه هم يادېږي شاعريې معلوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي په ګډه هم ويل کيږي. کاکړۍ، هغه ولسي شعر دی، چې غنی او دفورم لـه پلوه مثنوي غوندې وي.
د کاکړۍ فورم لکه مثنوي غوندې دی ، د مضمون له پلوه ډير ډولونه لري لکه :

سپينه خو له په خندا خاندې ــــــــــــ الف
مازديګر دې کړ راباندې ــــــــــــ الف

يا : شين خالی قدم په وروکه ــــــــــــ ب
پيکي پورته د خالو که ــــــــــــ ب

يا : مخ را کوږ که تکې سپينې ــــــــــــ ج
تو يوم د سترګو وينې ــــــــــــ ج

اوس مې خوږ شي باړ خوګان جانان ــــــــــــ د
پرغابــــو درد کـــي د ــــــــــــ د

## ۵- لنډۍ (Landay) :

لنډۍ: دپښتو دولسي سندرو يوه ستره او مهمه برخه ده او مخصوص جوړښت لري. لنډۍ غير مقفی او عروفی شعر دی چې لومړی مسره يې(۹) او دويمه يې (۱۳) سيلابه وي. په دينه او ونـه ختميـږي وايـی چـې دغـه نـوم لـه لنـډی مارنـه اخيســتل شــوی،هغه هــم زورور او دشــعر داډول هــم قــوی مغمــون او ډيــر خوندلري.لنډۍ ځانته فورم (بڼه) اومحتـوا لـري . هندسي شکل يې هم لـه نـورو فورمونو سره توپير لري لنډۍ د پښتو يو طبيعي او فطري شعر دی ... لنډۍ يو خاص طرز او ځانګړی وزن لـري (۵۲) لکـه : سـترګې کچکول کـړه ديـدن واخلـه ملنګه ياره بهانه راغلې -يمه

شنه : الف ــــــــــــ ب ــــــــــــ

يا : مور يې په کلي شړومبې غواړي ــــــــــــ الف
لور يې په سپينه روپۍ خو لـه نه ورکوينه ــــــــــــ ب

شتنه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



| ۹ | ۸ | ۷ | ۶ | ۵ | ۴ | ۳ | ۲ | ۱ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| له | واخ | دن | دي | کړه | کول | کج | ګې | ستر |

| ۱۳ | ۱۲ | ۱۱ | ۱۰ | ۹ | ۸ | ۷ | ۶ | ۵ | ۴ | ۳ | ۲ | ۱ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مه | ي | لې | غ | را | نه | ها | ب | ره | يا | ګه | لن | مه |

يا: داهلکان دې ځوانيمرګ شي مينه يې پرېښې په فيسبوك لوبې کويته

## ۶- بابو لاله ( *Bābolāle* ) :

دشځو لـه خوا جوريږي او ويـل کيـږي. بـابولالې پـه ولسـي سـندروکې مخصـوص جوړښت لري. له دريو بيلوبيلو ټوټوجوړه شوې وي اوکله دوې مري لـري. پـه واده کې ويل کيږي.

دا هم د پښتو فولکلوريک شعر ځانګړي ډول (فورم) دی او جلا هندسي جوړښت لري .

لکه :

د موږ د ناوې ځومره بوک تندی دی ______________ الف

آرمان مې د ماما داشين پټې دی ______________ الف

x x x

يا : ښه شوې چې د شنو ونو را تيره شوې ______________ الف

آبادې په پيسو شو ته يې هيره شوې ______________ ب

(پښتو ځانګه : ناجيه وردګ ، ۱۳۸۵ کال)

شنه :

| ۱۱ | ۱۰ | ۹ | ۸ | ۷ | ۶ | ۵ | ۴ | ۳ | ۲ | ۱ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دی | دی | تن | بوک | ره | ځوم | وې | نا | د | موږ | ز |
| ۱۱ | ۱۰ | ۹ | ۸ | ۷ | ۶ | ۵ | ۴ | ۳ | ۲ | ۱ |
| دی | ټی | پ | شين | دا | ما | ما | د | مې | مان | ار |

## ۷- فالونه : ( *Fāluna* ) :

(c) ketabton.com: The Digital Library



فال هم د ولس مال دی ، دا کثرو فالونو لومړۍ مسره یې لنډه او دویمه یې اوږ ده وي .
او کله هم دواړو مسرو سیلا بونه سره برابر وي ، ډېر ځله دوه او څلور مسرۍ وي .

۱- دوه مسره ایز فالونه : چې لومړۍ او دویمه مسره یې اته . اته سیلابه او دوه یمه یې هم اته ده لکه :

د پاسه مسله راله (راغله) پر کل عالم خوره راله (راغله) (۴۲ – ۸۰)

هندسي بڼه :

۲- څلور مسره ایز فالونه :

د جنت په مناري سور چرګ وهي ناري
شیر د خدای تېرېږي خلکـو کانـدي ننـداري (پښــتنې فولکلور-۶۹ مخ)

الف الف
x الف

## ۸- د بي بي دستې سندرې (Bibi daste sandare) :

مراد والا ښځې یې وایې ، محدودې دي لکه :

د دوهۍ ملنګۍ سر دې وې تور دی سر مې داسې تور دی پر موږ هم
ښه لوی دین د محمد رسول الله لاالله الاالله محمد رسول الله

هندسي جوړښت :

الف ب
ج
ج

لومړۍ نیمه مسره (۱۲) دوه یمه (۹) درېیمه (او) څلورمه (۱۴) سیلابه ده .

## ۸- سولې* (Sole) :

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اوده او خوشحالۍ په وخت کې ويل کيږي ، دويلو په وخت کې يې ډلې جوړيږي ، طنز* ور کې وي .
لکه :
۱۵- سولې ټکومه ټکوم تا به واده کمه
۱۵- په خدای مې دې قسم وي و پلاني ته به دې وکمه

۱۵- سولې ټکومه ټکوم تا به واده کمه
۱۵- په خدای مې دې قسم وي و پلاني ته به دې
۱۵- سولې ټکومه ټکوم تا به واده کمه
۱۵- سولې ټکومه ټکوم تا به واده کمه

۱۵- سولې ټکومه ټکوم زه پلانی نه کومه

۱۵ - په خدای مې دې قسم وي پر ما لوی دی
که يې

وکمه : (سيال کاکړ فولکلوري سندرې ۳۲- ۳۴ مخونه )

لومړۍ نيم بيتی يې (۱۵) او نوريې (۱۶) سيلابه مسرې دي .
* سولې : مراد ترې (شولې) ده د ور يجو تا ټکول شوې بڼه .
* طنز : هغه هنرمندانه وسيله ده چې انسان هغه په واسطه ترټولو بد فکري حالت او خپل حالت د الفاظو په کالب کې له ويري پرته بيانوي ، فکاهي يا فکاهيت يا له خندا ډکې خبرې هم دي (۵۶ :۱۱)

هندسي جوړښت :

| | |
|---|---|
| الف | الف |
| الف | الف |

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف الف

شنه :

سولې د وزن او هيجاو د شمېر له مخې سره يو شی دی ، لکه دمثنوي په څېر بڼه لري .

لاندې شتنه وګورئ .

| ١ | ٢ | ٣ | ٤ | ٥ | ٦ | ٧ | ٨ | ٩ | ١٠ | ١١ | ١٢ | ١٣ | ١٤ | ١٥ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سو | لې | ټ | ک | و | مه | ټ، | ک | وم | تا | به | وا | ده | ک | مه |

١٠- برغازي (Bar$\gamma\bar{a}zi$) :

د سيال کاکړ په وينا د ږوب تاريخي ناوه او د بورې جانانه * سيمه کې د دغه شعر فورم موندل کيږي زياتره برغازي يو نيم بيتيزه وي ، خو کله درې بيتيزه او کله

هم تر دې زيات زي ، خو په ټولو صورتونو کې (دغه ولسي شعرونه سره هم قافيه او اکثر و څايونو کې هم رديفه وي )( د پښتو شفاهي ادبيات ، ٢٨ مخ)

١- د کويټې ( کوټې) ايالت ، پښتون اباد په **٢٥** کيلو مترۍ جنوب شرقي خواکې يوه ناوه ده

٢- خاصيه سيمه

٣- بازار ميان ، سيمه ايز بآزار ورځ ده چې د پنجشنبه ورځ ده .

٤- د (لالا) يعنې پلار يا مشر ورور لنډه بڼه (مخفف) دی .

لکه :

(بازارميان) دی خولګۍ راوړه
لوړ سهار دی خولګۍ راوړ
راځه ورې راځه چې ځو
نن سبا چې راځه ځو
الکانو کور مو چېرې دی ؟

چرګ اذان دی خولګۍ راوړه
زما تلوار دی خولګۍ راوړه
دګل کېډۍ راځه چې ځو
د لال ټکرمو چېرې دی ؟
مستۍ غولی مو چېرې دی ؟

هندسي بڼه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف ______ الف ______

الف ______ الف ______

ب ______ ب ______

______ ______

ج ج

۱۱- د پروفيسور سيال کاکړ په وينا : (اکثره سلسلې د نارينه او ښځو تر منځ د مسابقې او گوندې (سوال و ځواب) په بڼه ويل کيږي ) ، دسلسلو ځينې مسرې سره برابر ې دي

لکه :

۸ راوتلې په سنځريم زه د ښو نجونو اجل يم

۷ په شان د سپنيکې ماريم د هر چا تر اوده تريم

(سيال کاکړ ، فولکلوري سندرې **۱۵** مخ )

لومړۍ مسره (۸) دوه يمه (۸) ، دريمه (۷) ، څلورمه (۸) سيلابه ده .

هندسي بڼه :

الف ______ ب ______

______

الف ______ الف

په پورته سلسله کې گورو چې (سنځر) ، (راجل) ،(مار) او (اوده تر) د قافيې کلمې راغلي خو سنځر له اجل سره هم سوی دی ، کله نا کله په فولکلوريک ادب کې داسې مثالونه نور هم ليدل کيږي او په دوه لومړۍ نيم بيتۍ کې (مار) له (تر) سره هم قافيه شوی چې داسې قافيه د اروښاد علامه عبدالشکور شاد په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وينا د (سستې * او چستې * قافيې ) (۴۵) سره راوړل دي(يم) يم په څلور واړو مسرو کې رديف راغلي دی .

يادونه : سسته قافيه : چې د قافيې کليمې سره تخته يه تخته نه راځي :لکه : مار او تر يهنې د تورو له پلوه د قافيو په کلمو کې توپير موحود دی . چسته قافيه : هغه ده چې دوه کليې د هجاو تورو له پلوه يو شی اوپه رديف کې هم سره يو شان وي لکه : سينګار ، افګار .

## ۱۲- چغيان ( $\bar{C}i\gamma\quad yan$ ) :

دپښتو شفاهي ادبيات ) ليکواله اغلې غوټۍ خاورې دفولکلوريک شعر دغه فورم د لومړي ځل لياره د پروفيسور ولي محمد خان سيال کاکړ د وينا پراساس معرفي کوي

(دغه فورم يواځې جنوب غربي سيمه کې ونومول شو) چغيان د واده ورځ د ناوې يا نورو پيغلو له خوا د خوا شينۍ خپګان په وخت کې ويل کيږي لکه : درې نيم بيتی لري چې دريمه نيم بيتي د لومړۍ پر قافيه وي لکه :

۱- وروره لاس يه کځوړه يو اصيل غمی را باسه
خور دې ځي د بابک له کوره
۲- ځواب خورې هوي که غاړه لوی که اکا ګان درته ولاړ دي
اکا ګآنو زړونو لوی دي (۴۲ - ۸۰)

د لومړي چغيان د لومړۍ مسرې سيلابونه (۸) د دويمې (۸) د دريیمې (۹) دي : او د دويم چغيان د ټولو بيتونو مسرې (۸) دي .

۱ الف ______________ ب ______________
______________

۲ الف ______________ الف ______________

ب ______________ ج

يا دابل چغيان :

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په خپل کور کې وم په راحت　　بابک خرڅه کړم په ډير دولت
په پردي کور کې مې نه شته عزت　　خـود بـه ژړا کـړم پـه هـر سـاعت
(۱۲-ج)
د ټولو مسرو سيلابونه يې (۹) دي :
هندسي بڼه :

الف ______________　الف ______________

الف ______________　الف ______________

## ۱۳- د ميندو سندرې (Damayndo Sandare) :

د سيال کاکړ په وينا : (پښتني مو مينه ناکه غيږ په حقيقت کې د شعر او ادب د زده کـړې لپـاره هغـه ابتـدايي ښـوونځی دی چـې ملالـه . نـازو ، ايمـل خـان او خوشحال خان يکې روزل کيږي د ميندو سندرې سيلابيک او ځپه ايز اوډون لـري لکه :

پلانکی جانه ښآيسته = ښه دې توره ښه وسله = په ښايسته نيلي سپره
چې نيلی دې تماشې کا = تور تازيان دي ورسره
د لومړيو مسرو شمير يې (۷) د دويم نيم بيتی (۸) او بيا د پای (۷) سيلابه دی
هندسي بڼه :

الف ______________　الف ______________　الف ______________
ب ______________　الف ______________　______________

يا : آللو للو للو = خوب دې درشي په ليمو = خوبږ دې لرې له هډو:
هندسي بڼه :

______________ الف　______________ الف　______________ الف

## ۱۴- د ماشومانو سندرې (Demashumano Sandare) :

د ساعتيرۍ په وخت کې ويل کيږي ، طنز او ټوکې پکې ډيرې وي لکه :
ما سره با درنگ دی = جنگه جنگه تو دشه = تا به تودې نينې وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به تماشې وکړم لومړی مسره (۶) دويمه (۴) دريمه (۱۱) او څلورمه (۷) سيلابه ده

هندسي بڼه :

الف ———— ب ———— ج ————

ج ————

يا :

نرى . نرى باران دى = ورور مې راروان دى
د کټ لاندې پيشو ده = پيشو ته وايم پشي
موږ که ستړی مه شې (۴ : ۱۶۶)

د مسرو سيلابونه يې (۷) سيلابه دي :

هندسي بڼه :

الف ———— الف ————
ب ———— ج ————
ج ————

## ۱۵- کېسې (Kisay) معما :

معما )کېسې) اړونه (ټکونه ) هم ورته وايي .

بآيد داسې وويل شي چې لومړی سړی يا ماشوم يې ووای او دويم ځواب ورکړي کنه لوبه بايلي . معماوې کله منظومې او کله هم منثورې وي : منظومې کيسې (معما) ساده او روان شعر دی، مطلب په اشارو او کنايو کې ښودل کيږي کله دوه مسرې ، کله درې ، کله څلور او ځينې وختونه زياتې وي لکه :

مثالونه :

۱- دړه ونه - کړوپه ونه - کال وسر کې دوه گلونه (دوه اختره)
۲- له پاسه راغی سور بلوڅ اغوستي يې دی پنځه پنځوس (پياز)
۳- تور دی کارغه نه دی الوزي مرغه نه دی (غوباړی)
۴- په يو رپ ځي آسمان ته چارچاپيره ټول جهان ته ( د سترگوديد) ( ۱۷۰-۷۷)

په دويمه گڼه کې د مسرو شمير (۸) ، په دريمه گڼه کې (۶) (۷) سيلابه دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندسي جوړښت .

۱ ــــــــــ الف ــــــــــ الف ــــــــــ الف

۲ ــــــــــ الف ــــــــــ الف

۳ ــــــــــ الف ــــــــــ الف

۴ ــــــــــ الف ــــــــــ الف

## ۱۶- ساندې (Sande) :

ساندې (ګي ) يا ويرنې د ولسي نظم يوصنف دى ، د ښځو له خوا په مړي باندې ويل کيږې ځيني خلک يې ستاينې ، کړيکې او ځيني نور يې غړنګې هم بولي ( دپښتو شفاهي ادبياتو شکل او مضمون ) کله د لنډۍ په بڼه هم وي خو په ځانګوي وزن کې راځې :

په لاندې ډول دي : اول هغه ساندې يا ويرنې يا مثيه چې د لنډۍ په فورم کې دي:

لنډۍ : ګلونه خاورو له پيدا شول ځما لالۍ ترګل نازک خاورو له ځينه

ماوې له غمه به دې مړه شم مرګ پخ نيتهه دى د روغژونـد شوم مينه

ماله قلم ، مشوانۍ راوړئ د ياراني تاريخ وکړه شپه به چا کره کومه

(۶۱ – ۵۵ او ۶۷ )

د پورته لنډو لومړى مسرۍ (۹) او د دويمې يې (۱۳) سيلابه دى .

هندسي بڼه :

ــــــــــ الف ــــــــــ ب

همداسې د نورو لنډ يو شننه هم درواخله :

دويم : غبر ګې ساندې : چې له يوې ښځې سره يې نروې ښځې د غم په وخت کې غبر ګوي .

۱- (پلانېکه ) په سردې کښنه يوه مرغۍ = چې درته ووايې د پلانکي ) سلامتۍ

X X X

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- خدايه پخې کړې د غره ممانې = (پلانکي) شاوو کړې ښځه يې ناوې ساندې معمولا دوه مسره ايزې وي لکه
۳- پلانکېه مه شپې کړه مه کلونه
کورته دې را درومه
دلومړۍ ساندې لومړۍ مسرۍ (۱۱) او دوه يمه يې (۱۴) همدارنگه د دويم لمبر ساندې لومړۍ مسرۍ (۱۰) او دوه يمه هم (۱۰) او دريم لمبر ساندې ، لومړۍ مسرۍ (۱۰) او دوه يمه هم (۶) سيلابه دي .
هندسي جوړښت :

| | |
|---|---|
| ۱- ________ ۱۱ الف | الف ________ ۱۴ |
| ۲- ________ ۱۰ ب | ب ________ ۱۰ |
| ۳________ ۱۰ ج | ج ________ ۶ |

د مثال په ډول د (۱) لمبر ساندې شننه :
پلانېکه مه شپې کړه مه کلونه    کورته دې را درومه

## ۱۷- سروکې (Saruke) :

د پښتو ولسي سندرو ځانگړی ډول (فورم) دی چې بيلا بيلې بڼې لري .
(ځينې پښتانه يې سروکې ، نيمکۍ بولي او د پکتيا په منگلو کې د (پام) په نوم ياديږي
سروکې ويل کيږي بيا ټيکۍ (لندی) وراچول کيږي يعنې ټيکۍ + لنډۍ = سروکې
سروکې + ټيکۍ +لنډۍ = سروکې
لکه :
۱- خانه راځه راځه دلبره    ډکې لاړې د جنکو لندن ته ځينه
د جنکو کدر (قدر) يې کم که    امان الله ته دې خدای لوې نه ور کوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خانه راځه دلبره ډکې لارې د جنکو لندن ته ځينه..

(د پښتو شفاهي ادبيات ۶۰ مخ)

يادونه : لکه چې شاه امان الله غازی د افغاني نجونو يوه (۹) کسيزه ډله زده کړو لپاره يورپ ته وليږ له نو بيا دا لنډۍ جوړې شوي دي ، (په ځای ده چې ووايو شعر او هنردتو حالا يو رنګين انځور دی اوياهنرداجتماعي شعور يوه بنه ده.)

سروکې دوه مسره يې (لومړۍ يې لنډه او دوه ييمه يې اوږده وي کله درې مسره ايزي او څلور مسره ايز او پنځه مسره ايزې هم وي .

د مثال لپاره يې درې مسره ايزه سروکې راواخلو :

پسې ورجګ کړه سره لاسونه لنډه کړه تيکۍ مزی دې، خال به دې وران شي

هندسي جوړښت :

______ الف ______ ب

څلور مسره ايزه سروکې :

څلور مسره ايز سرو کې :

تورې سترګې خماري درته کړم ناله زاري

دزړه زخم مې کاري شوم رسوا ستا په ياري

هندسي جوړښت :

______ الف ______ الف

______ الف ______ الف

داپورته سرو کې څلور مسريزه چې هره مسره يې (۷) سيلابه ده ، همداسې نور مثالونه هم ډير دي .

## ۱۸ – د اتڼ ناري $A\tan - n\bar{a}re$

د اتڼ سندرې هم په پښتو ادب کې ځانګړی فورم او مخصوص وزن لري .

د اتڼ نارې خوږې ، له سوزه ډکې ، روانې او دخلکو د فطري احساساتو ښکاره ندويه دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېِ مسره ايز – اتڼ نارې :

داپورې و ورې کلی مې د يار دی          يا مې پکې نشته

زړه مې په گوگل کې ناکرار دی ( محمد عارف غروال ، غزنۍ سندرې ، ۴۱ مخ )

هندسي جوړښت :

______ الف ______ ب

يا څلور مسره ايزه :

که دوې دي نجونې دوې دي          د اتڼ غاړې کوي سره ترلې دي

ديوې د چټ کميس دی          د بلې زرغونې جستې په پښتو دي

هندسي جوړښت :

______ ______ الف

الف

______ ج ______ د

دوه نورې يې هم (۸) او (۱۲) سيلابه دي .

## ۱۹ – چاربيتې (Charbite) :

چار بيتی دپښتو خاص سندرې دي .

چار بيتونه ، ډار مستتر د پښتو يو ليکلی تاريخ واي ، ځانته موسيقي او په زړه پورې آهنگونه لري . يو ليکوال ويلي و :

( چاربيتی ها مجموعه اطلاعات و اخبار حوادث ملی و محلی و مطالب سرگرم کننده براي شونده گان بوده و در قلب الفاظ ،منظوم مفت و ريگان براي مردم عرضه ميگردد ....) ۹۱- ۳۵ تر مخ ۴۰ )

چاربيتې په دوه ډوله دي .

- الف : ساده چاربيتې

- ب : ځنځيري چاربتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- ساده تعریف :

کسر اهو چشمې ، گل اندامې ، ماه جبینې
زه دې وسوم ولې څه دپاره ؟

بند : وسوم ، وسوم څوک مې نه اخلي عرضونه
نه پوهیږم ربه دا څرنګ تاثیر دی ؟

لیلا تور وربل دې جال نیسي بازونه
باز د زړه نیسي بې شکه هوا ګیر دی

د هر چاله خولې نه خیږې دا غږونه
شنکی خال غونډه زنه کې امیر دی

پاچا یې دې شوه په لاس ، پاچا د چین یې
رسالې درپسې چې شولې واکداره !

چار بیتې پنځه ، شپږ او یا زیات مسرې لري ، پنځه مسره ایزې چاربیتې مثال :

هندسي جوړښت :

کسر____________ الف ____________ ب
بند :____________ الف ____________ ب
____________ الف ____________ ب
____________ الف ____________ ب
____________ الف ____________ ب

د چاربیتې کسر ځانته هندسي بڼه لري ، خو (پاي) یې د (کسر) له لومړۍ نیم بیتي
سره یوشان ده .

له کسره رانیولې بیا د بند تر پایه د مسرو شمیرېې (۱۲) او (۱۱) سیلابه دی .

۲- ځنځیری چاربیتې مثال ، هندسي بڼه او شننه :

شپږ مسرۍ واله چاربیته :

ښه سینه ، رنګینه ، سنګینه دلیلی
شین یې خال ، دی دلال ، دا دی خال
دلیلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



××××××××××××

قلندر ستا دې د. هر سهار دی جانان
ټیک د سر ، دي سره زر ، ښه نظر ، د جانان
خزانه ، نازدانه ، جانانه که ګیلې
ښه سینه ، رنګینه ، سنګینه دلیلی
نن یې شال دی کشال و زانګي خیال دلیلی
شین یې خال دی دلال ، دا دی حال دلیلی

| | |
|---|---|
| ـــــــــــ الف | ـــــــــــ الف |
| ـــــــــــ الف | ـــــــــــ الف |
| ـــــــــــ ب | ـــــــــــ ب |
| ـــــــــــ الف | ـــــــــــ الف |

د مسرو سیلابونه د همدې څنځیري چاربیتې تر پایه (۱۲) دي او شننه یې په همدې ډول ده .

## ۲۰ – بدله (Badala) یا بدلې : Badale

د بدلې په برخه کې بیلا بیل نظریات دي :
د (پښتو ادب) لیکوال عبدالحلیم اثر وایې ( ځیني پښتانه لنډې پښتانه لنډۍ ته بدله هم وایې ) ( بدلې چې عموما پښتانه غزلې ورته وایې ... او پوهاند عبدالحی حبیبي د ( عبدالقادر خان خټک ) د دیوان چې په ۱۳۱۷ کال کې خپور شوی د غزلو (بدلو ) نوم ورکړی دی ) ( هسې خو په عامه مانا د کندهار ، بلوچستان ، هملند ، زابل .، ارزګان ، فراه ، هرات ، غور ، بادغیس ، غزنې ، وردک ، میدان ، لوګر ، د کابل دشاه او خوا سیمو کونړ لغمان او ننګرهار د سیمو اوسیدونکي پښتانه او همدا راز د پکتیا او لرې پښتو نخوا کې په عام ډول ټولې ولسي سیندرې او .. په بدلې کې راځې ) غوټۍ خاورې ، د پښتو شفاهي ادبیات ۹۲ مخ )
په پټه خزانه کې لومړنۍ بدله د شیخ بوستان بړیځ ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسر: او ښکې مې خاڅې پرګريوان يو وار نظر که پر ما
راسه ګذر که پرما
بند : د خوږ زړونو له حاله ته يې اې باداره آګاه
يې د بې وزلو همراه
دخپل عزت په روی (بستان) ته کړه د مهر ښندل
کړې له ګناه ګواښل
او ښکې مې خاڅې پر ګريوان يو وار نظر که پرما
راسه ګذر که پرما
د بدلې د (کسر) دمسرۍ سيلابونه (۱۵) او (۷) دي .
همدارنګه يې تر پايه د سيلابونو شمير (۱۷) او (۷) راغلی دی .
هندسي بڼه :

الف ______________

______________ الف

ب ______________

______________ ب

ج ______________

______________ ج

الف ______________

______________ الف

## ۲۱- بګتی (Bagatay) :

بګتۍ يو داسې چست ، ساده او روان شعر دی چې د اوريدونکو او ويونکو وجود په حرکت او ارتعاش راولي او يو هيجان پکې پيدا کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



( بگتۍ هم د چار بيتو او بدلو په شان کسر لري خو د بگتې کسر د ځينو چار بيتو او ځينو بدلو په خلاف اکثرا يو بيت ( دوه مسرۍ ) وي .

داتورې سترگې سره تېرېږي

لــه حالــه

زما ، کله خبرېږي

××××××××××

دا تورې سترگې سره يې لاسونه

پــــه بـــام ولاړه کـــوي

سيلونه

وربل کې يې ايښي تازه گلونه

موزي دله خان ، به ترې جارېږي

×××××××××

موزي دله ته ، وکوئ پام

د کوره وزي ، سرې ماښام

چې بيرته راسي ، کوي سلام

تومت د جينۍ ، په ماورېږي

××××××××××

تومت د جينۍ کړمه بيمار

د خياله کوي ډول وسينگار

څرک ورپسې گرځي د پلار

ورځي طالب جان ، نه ايسارېږي

د لاندې بگتۍ د کسر د مسرۍ سيلابونه (۱۰) – (۱۰) دي او همدارنگه تر پايه د سيلابونو شمير يې (۱۰) ته رسيږي :

هندسي بڼه :

کسر ــــــــــــــــ الف

---

الف

(c) ketabton.com: The Digital Library



بند ______ ب

______

ب

______ الف

______

ج

بند ______ الف

______

الف

______ الف

______

ج

بند ______ الف

______

الف

______ الف

______

ج

همدا رنگه ډول يې د نورو بيتونو هندسي بڼه هم در واخله .

## ۲۲ – لوبې (Loobe) :

لوبې د پښتو ولسي سندرو يوه پخوانۍ بڼه ده چې له لنډيو نه خوند اخلي او چندان له بګتۍ سره توپير نه لري او ځينې وايې چې لوبه او نيمکۍ سره يوه ده کسر لري .

د محمد نور لوبه :

کسر : غمونه لرې کړه له ما عاجز غمګينه

را تاوشه لو نګينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



××××××××

بند : ودې وشتم روغه دې نه کړم                نوره یاري در سره نه کړم
بل دې په سورو شونډو نتکۍ زانګي مینه
را تاوشه لو نګینه ...
X        X        X

بند : پاس په بامو ګرځي کوترې                زما د خوږ زړګي دلبرې
چې شال په سر کړي ښکاري سنګینه
را تا وشه لو نګینه
بند : د (محمد نور) فقیر بخته                ښنګــه را پریــوتې لــه
تخته
د پورته لوبې کسر لومړۍ نیمه مسره (۱۳) سیلابه او دوه یمه یې (۷) سیلابه ده
.
د لـوبې لومړیـو بنـدونو قافیـه ځانتـه وي او سیلابونه یـې هـم تـوپیر لـري ، د دې لوبې د بندونو لومړۍ مسرۍ (۹+۹) دی خو کسرونه یې (۱۳۰ او (۷) وي .

هندسي بڼه :
کسر : ـــــــــــ الف ـــــــــــ الف
بند : ـــــــــــ ب ـــــــــــ ب
X ـــ X ـــــــ X ـــ الف ـــــــ ـــ الف
X ـــ X ـــــــ X ـــ الف ـــــــ ـــ الف
بند : ـــــــــــ د ـــــــــــ د
ـــــــــــ الف ـــــــــــ الف

## ۲۳ – مقام ( *Maqām* ) :

مقام ته ځینې پښتانه رباعي هم وایې ( نسبتا ورو ، اوږده په داسې تال او اهنګ ویل کیږي چې ټول مجلس چپ شي ....)

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ديواني غزل سره يې توپير دا دی چې ژبه يې ساده او مضمون يې طبيعي او ولسي وي قافيه يې په لاسی ډول نه جوريږي ، بلکې شاعر له خپلې طبيعي سره سم ورته کالب جوړوي ، د موضوع تسلسل پکې وي .

د کم اصلو له ياری نه واخله لاس — مه غوليږه دهغو په تش لباس
د کم اصلو يارانه د خره سورلې ده — عاقبت به ده په کنده کړي را خلاص
که اصيل سره دې لږه نيکې وکړه — شامدام او به درنه گرځي کوز اوپاس
د کم اصلونه وفا کله مونده شي — دا متل دی په هر ځای کې عام و خاص
چې د لرې نه يې گورې ورنه تښته — دوستانه ورسره مه کوه څه باس

هندسي بڼه :

الف ______ الف ______
ب ______ الف ______
ج ______ الف ______
د ______ الف ______
هـ ______
الف ______

د مقام د ټولو مسرو سيلابونه سره برابر وي ، د پورته مقام د مسرو سيلابونه (۱۱) دي ، تر ياپه دغه مراعات پکې شوی دی .

## ۲۴ – کېسې (Kice) :

کېسې هم په پښتو ادب کې اوږد تاريخ لري ، او د کېسو منبع په خپله ولس دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېسې هم منثورې او هم منظومې دي ، د انسانانو لومړنۍ کېسې ډېر څله منظومې وي ،

لکه د حضرت ابراهيم خليل الله د صداقت ړ خق او رښتيا ويلو فولکلوري کېسه چې (عبدالغفار) کړې .

نمرود په زمانه کې — راغليې په کيسه کې
پيدا شو ابراهيم خليل الله دوست د اکبرو — بيشکه پيغمبرو
نمورد نومې کافر — ده جوړ کړو دا هنر
را غونډ يې نجوميان کړه زما مرگ به وي له څه نه ؟ — ترې ويې کړه پوښتنه
نجومي و وايه حال — ښکاره يې کړو في الحال
پيدا به يو هلک په دغه ښار کې شي د ننه — ستا مرگ به وي هغه نه
نمرود پوه شو په حال — اخته شو په خنجال
له دې نه که په وروسته يو وړوکی پيدا کيږي — نو سر به يې غوڅيږي...
دې ښځې ويل : اذره — کېسه و اوره له سره
ما هلته دی پټ کړي هغ ستا ښکلی پسر دی — بيشکه پيغمبر دی

د کېسې د مسرو سيلابونه مختلقې هجاوې لري ، د (کسر) لومړۍ دوه نيم بيتي يې (مصراع) هم وزنه خود دويم بيت دوه نيم بيتي يې د وزن او مسرو د سيلابونو د شمير له پلوه متفاوت مگر ښه يې يوه وي .
د کېسې هندسي جوړښت لکه د مثنوي په شان وي لکه پورته بيلگه :

______ الف ______ الف
______ ب ______ ب
×××××××
______ ج ______ ج
د ______________ د
X X X
______ هـ ______ هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف ــــــــــ الف ــــــــــ الف

د دغې کېسې لومړی بیت مصرع دی ، د لومړی دور د هجاوو شمیر یې (۷) ، (۷) دی د کسر یا تکرار کړی یی (۱۷) او (۷) دی او دغه وزن او نظم تر اخر پکې تکرار شوی دی د پښتو نظم یوه خوږه او خوند وره برخه ده ، ولسې مینه تمثیلوي .
(دخلکو سندرې – د حبیب الله رفیع) دکتاب په (۲۶۰) مه کې د (محمد نور) یوه لوبه خوندي ده چې دلته یې رااخلو لوبه کسر لري لکه :
کسر :
غمونه لري کړه له ما عاجز غمګینه را تا وشه لونګینه
X X X
وړې ویشتم روغه دې نه کړم نوره یاري در
سر نه کړم
بل دې په سرو شونډو نتکۍ رانګي مینه را تا وشه لو
نګینه
د لوږې تندې مې شولې ، شوې دلیرې تا ته
مې ګیلې شوې
زه تشه لبه تږې راغلمه له سینه را تا وشه لو
نګینه ...

هندسي بڼه :
الف ــــــــــ الف ــــــــــ الف

X X X
ب ــــــــــ ب ــــــــــ
الف ــــــــــ الف ــــــــــ الف

همداسې تر آخره پورې :

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۵- داستانونه (Dastan) $d\bar{a}st\bar{a}nuna$

داستان يا داستانونه د پښتو ولسي ادب لرغوني او خوندور فورم دی . چې (لومړی د باختر په سيمو او بيا د هندوکش په لمنو کې د خپلو پلرونو کار نامې ، مذهبي احساسات ، دود او د ستور ، روايات او نورې اخلاقی لارښوونې په شعر کې ځای کړې دي .

کسر : غوږ ونيسئ يارانو د اوښ او سوی کېسه شوه – خورا ډيره خوږ شوه .
بند : يو سوی د اوښ آشنا شو – بې حده يې همراه شو
ياري به يې کوله ، يو له بل يې يارانه شوه ، خورا خوږه کېسه شوه ... (۳۰ : ۲۷۱ او ۳۳۲)

هندسي جوړښت :

کسر : ــــــــــــ الف ــــــــــــ الف

X X X

ــــــــــــ ب ــــــــــــ ب

ــــــــــــ الف ــــــــــــ الف

دغه داستان د (کسر) د لومړۍ مسرۍ سيلابونه (۱۴) او (۷) دي ، او د بند سيلابونه يې (۷) (۷) دي ، خو د دوباره کسر چې تکرار راځي د سيلابونو شمير يې (۱۴) او (۷) دی .

## ۲۶- مشاعرې (Mushaaire) :

( ولسي مشاعرې پخوانۍ دي او اکثرا و يې في البديهه بڼه در لوده ) د پخوانو مشاعرو ترتيب داسې و چې اخون به دشپې خلک او خپل شاګردان را ټول کړل ، ډمامې او نغارې به يې واخيستې ... اواخوندان به له شاګردانو سره ميدان ته راوتل ، حبيب الله رفيع وايي: ( قاعده داسې وه چې شروع به شاګردانو کوله : اکثرا به د معما په ډول وې ، لکه :
شاګرده په يو شي باندې مې ونښتو نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي آلوزی يارانو نه يې پښې شته نه وزر
(توپ)
شاگرده په يوه شي باندې مې وکړ له تلوار
جواب يې درنه غواړم نه يې مور شته نه يې پلار
سړی پکې ډير تنگ شي نه يې وي يو دم قرار
خوري غوښې د بند يانو نه يې خوله شته نه يې سر (قبر)
د پورته معما د مسرو سيلابونه تر پايه (۱۳) ، (۱۵) دي .

هندسي بڼه :
الف ____________________
الف ____________________
الف ____________________
الف ____________________
الف ____________________
الف ____________________

شننه :

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ | ۱۳ | ۱۴ | ۱۵ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شـ ا | گ ر | د ه | پ ه | ي و | شـ ي | د ی | د ی | مـ ې | ون | ښه | تو | ن | ظر | |
| | | | | | | | | | | | شـ | نه | و | زر |

## متل : Matal

په تول برابرې منظومې او منثوری خبرې دی يا هغه ويلاده چېدجزوحکمت پکې نغښتی وي او کنايي مطلب ولري. دفارسي ژبي له متل سره ورته دی.
۱- اول میړانه په سيالۍ وه – اوس سپيتانه په سيالۍ ده
۲- اصيل ته اشارت – کم اصل ته کوتک

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- پاک اوسه – بې باک اوسه
۴- آرمان به کړې هلکه – بیا به نه مومې اد که
۵- اخون له خو ماسته – چې په خولې لګې پاسته (پښوری متل)
۶- اول خپل – بیا بل

هندسي بڼه :

الف ______ الف

کیدای شي مختلف متلونه وي کمې یا زیاتې مسرۍ ولري خو منظوم متل ځانته هندسي بڼه لري او شننه یې هم توپیر لري .

د مثال په ډول :

| ۹ | ۸ | ۷ | ۶ | ۵ | ۴ | ۳ | ۲ | ۱ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| وه | لۍ | سیا | په | نه | ړا | مې | ول | ا |
| | ده | لۍ | سیا | په | نه | تا | سپین | اوس |

(c) ketabton.com: The Digital Library





شکل (۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۸- د ثلورم ثپرکي د موضوعاتو لنډيز:

- دپښتو فولکلوريک ژانرونه يو له بل سره شکلي او مانا يې تړاو لري .
- د پښتو ولسي ادبياتو شکلونه هر يو ځانته جلا سکښت او جوړښت لري .
- هندسي جوړښت يې هم جلاوي .
- لنډه کې د پښتتو ولسي شعر يو ځانګړی فورم دی ، سړی داسې فکر کوي چې يو نيم بيتی دی .

لکه :

ګل لالۍ يې را وړه لکه ناوې په ډولونه .

- سروکې مختلف ډولونه لري له همدې امله يې هندسي جوړښت او شنه يې د مسرو په حساب سره توپير لري .
- د کاکړۍ غاړړو فورم لکه د مثنوي په شان دی ، د مضمون له پلوه مختلف ډولونه لري
- لنډۍ هم ځانته فورم لري ، د پښتو ولسي ادب يو طبيعي او فطري فورم دي .
- با بسولالې هم يو فولکلوريک فورم دی چې ډير ځله کوچيان يې وايې جلا فورم او مضمون لري .
- فالونه هم د ولس مال دی ، لومړۍ مسره يې لنډه او يوه يې اوږده وي او کله هم دواړو مسرو سيلابونه يې برابر وي .
- د بي بي دستې سندرې خو محدودي دي او د پشين او ژوب په خلکو کې مروجه دي مراد والانښځې يې وايې د مسرو سيلابونه يې سره توپير لري او هندسي بڼه او شننه يې هم توپير لري .
- سولې (شولي) د واده او خوشحالۍ په وخت يې ويل کيږي ، طنز هم ور کې وي .
- برغازي ، د ژوب تاريخي ناوه کې د بوري جانانه سيمه کې د پښتو د ولسي شعر دغه فورم دود لري زياتره يو نيم بيتيزه وي او کله درې بيتيزه وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سلسلې ، د سيال کاکړ په وينا د شعر دغه ډول ښځوا او نر تر منځ د مسابقې په بڼه ويل کيږي ځينې مسرې برابرې وي ، هندسي بڼه يې په لومړۍ دور کې توپير لري ، او د مسرو سيلابونه يې هم سره تقريبا يو برابر وي ، خو د دويم بيت لومړنۍ مسرې سيلابونه يې (۷) وي .
- چغيان د وداه په ورځ د ناوې يا نورو پيغلو د خواشينۍ په وخت کې ويل کيږي هندسي بڼه يې سره توپير لري ، معمولا درې نيم بيتې وي او د مثلث بڼه لري .
- د ميندو سندرې له مينې ډکې وي . ځانګړی فورم خونه لري اما يو مخصوص تون لري کله درې نيم بيتې وي کله هم ډير ، د مسرو شمير يې کم و زيات وي ، ډير ځله له دريو نيولې تر (۷) مسرو پورې رسيږي .
- د ماشومانو سندرې ، د ساعتيرۍ په وخت کې ويل کيږي ، جلا تون لري طنز او ټوکې پکې وي ، هندسي بڼه يې سره ډيره ورته نه وي خو پوره يوره منظومه وي د مسرو سيلابونه يې ډير ځله له لسو څپو کم وي .
- کېسۍ ، ته (ټکونه) هم وايې کېسۍ هم منظومې او کله منثورې وي ، مسرۍ يې درې ، څلور او ځينې وختونه زياتې وي . کېسۍ ته اوس (معما) اوچستان وايي .
-ساندې د ولسي ادبياتو يو صنف دی . غم او حزن په برخه کې ويل کيږي ، ساندو ته کريکې هم ويل کيږي ، ساندې په انفرادي او هم ډله ايزه توګه ويل کيږي چې غبر ګې ساندې هم ورته وايې .
- سروکې بيلا بيلې بڼې لري ، ځينې پښتانه يې سروکې ا و نيمکۍ هم بولي ، او دپکتيا په منګلو کې (پام) نومول کيږي .
- د اتڼ نارې هم مخصوص وزن او په ځانګړې آهنګ باندې ويل کيږي او د فطري احساساتو ښکارندويه وي .
- چاربيتې ځانته موسيقي او اهنګ لري ، په دوه ډوله دی ، ساده چاربيتې او ځنځيري .
- بدله : د بدلو ځانګړي فورم نشته ، ځينې پښتانه لنډۍ ته بدله وايې او ځينې نور يې بدلو بولي اوله موسيقي سره يو ځای هم ويل کيږي کسر او بند هم لري .
- بګتتۍ ساده شعر دی او په خلکو کې هيجان را پيدا کوي ، د چاربيتو په شان کسر او بيا بندو ونه لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- لوبې په پښتو ادب کې خو را پخوانی صنف دی او له بګتی سره چندان توپير نه لري کسر او بند لري .
- مقام : مقام ته ځينې پښتاه رباعي هم وايي ، تال او اهنګ لري غزل هم ورته وبل کيږي.
- کيسې : کيسې هم منظومې او هم منثورې وي او پخوانی او لرغونی تاريخ لري .
- لوبه د پښتو نظم خوږه برخه ده ،ولسي مينه تمثيلوي ، کسر او بند هم لري .
- مشاعرې پخوانی دود دی خو پخوانی مشاعرې لاس په لاس ( في البديهه) دي او لاس هم شته .
- متلونه هم منظوم او هم منثور اوهم منظوم وزمه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵- د څلورم څپرکي پوښتنې :

۱- د فولکلوريکو ادبياتو پرځای نور نومونه ورته اخيستل کيږي ؟
۲- ډامستتر په خپل اثر( د پښتو شعر ها روبهار) کې د پښتو ولسي ادبياتو په برخه کې څه ويلي دي ؟
۳- پښتو فولکلور په څو برخو ويشل کيږي ؟
۴- دمنظومو فولکلوري ژانرونو يوائې نومونه واخلئ ؟
۵- فولکلور لومړی په څو برخو ويشل کيږي ؟
۶- دپښتو فولکلوريک نثر ډلونه په گوته کړئ ؟
۷- ژانر کوم ځايي کلمه ده په لغت کې او اصطلاح کې څه ته وايي ؟
۸- هغه اثر چې د پښتو ليکلو ادبياتو کې چې د پښتنې ملي کترونو ځرگندونه ورکې شوې په کومه دوره او چا پوري اړه لري ؟
۹- د پښتو ولسي ادب نظم لومړی په څو برخو ويشل کيږي ؟
۱۰- چاربيتې ، په کومو سندروکې راځې ؟
۱۱- لنډکۍ او لنډۍ څه توپير لري او يو مثال يې راوړئ ؟
۱۲- سروکې څه ډول شعر دی او په څو ډوله دی ؟
۱۳- کاکړۍ غاړو فورم ډير ځله څه ډول وي او يو بيلگه يې راوړئ .
۱۴- د لنډۍ هندسي بڼه او د يوې لنډۍ شننه وکړئ .
۱۵- فالونه دوه درې راوړئ .
۱۶- د بي بي دستې سندرې هندسي بڼه څه ډول ده ؟
۱۷- سولې په څه وخت کې ويل کيږي او هندسي بڼه يې څه ډول ده ؟
۱۸- برغازې ډير ځله په کومو سيمو کې ويل کيږي ؟
۱۹- سلسلې د چا تر منځ په کوم تال کې ويل کيږي ؟
۲۰- چغيان په کومه ورځ ويل کيږي او په وخت کې ويل کيږي ؟
۲۱- د ميندو د سندرو يو دوه بيلگې راوړئ ؟
۲۲- کېسۍ او کسيې څه توپير لري ؟
۲۳- ايا معما پيژنئ يو دوه نمونې يې راوړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۴- د خپلې سيمې ځانګړې ساندې راواخلئ او هندسي جوړښت يې په ګوته کړئ ؟
۲۵- ساندې په څو ډوله دي ؟
۲۶- سروکې څه ډول فولکلوريک شعر دی او په کوم ځای کې په بل نام سره يادېږي کنه ؟
۲۷- څو ډوله د اتڼ نارې پيژندنئ ؟
۲۸- چار بيتې څه ډول ولسي شعر دی او په څو ډوله دی ؟
۲۹- د ځنځيري چاربيتو يوه بيلګه راواخلئ ؟
۳۰- په لرغونې دوره کې د بدلې کومه بڼه پيزنئ او په چا پورې يې اړه لرله ؟
۳۱- بګتۍ څه ډول شعر دی ، هندسي بڼه يې وکاږئ ؟
۳۲- مقام ته کوم بل نوم هم اخيستل شوی دی ؟
۳۳- د منظومې او منثوری کېسې توپير په څه کې دی ؟
۳۴- د لوبې هندسي بڼه راوړی او شننه وکړئ .
۳۵- د داستان او کېسې توپير وکړئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

## ۱- د پښتو فولکلوریکو ادبیاتو ډولونه:

د پښتو فولکلوریکو ادبیاتو ډولونه د لومړي ځل لپاره په دوو برخو (ولسي نظمونه او نثرونو) باندې ویشل کیږي .

## الف : ولسي نظمونه:

د پښتو ادبیاتو ولسي یا فولکلوریک نظمونه د پښتو ژبې د ځانګړې (حالت) او جلا طبیعت له مخې را منځته شوي دي . پښتو شعر د نورو په تیره عربي او فارسي ژبو پر خلاف ځان ته جلا سبک او ځانګړي اوزان لري د پوهاند دوکتور زیار په وینا : ( پښتو شعر ..... د جولیز جوړښت او تخنیک له پلوه په سلابو تونیک ډول پورې اړه لري. نه په سیلابیک او عروفي (متریک) پورې او په دې توګه یې هېڅکله پر دي او په تیره بیا عربي (عروض) منلي او سهلي نه دي .... کله چې وایو د پښتو شعر رغاونیز تخنیک (سیلابوتونیک) دی دوه توګه (عنصره ) مو سترګو ته نیغ دریږي سیلاب (څپه) یا په پراخه مانا (وزن) او (ریتیم) دواړه ځیزه (څپه او تون) په پښتو ژبه کې خپل ځانګړې لوښه او جوړښت لري په دې ډول لومړی، څپه کې په ټولنیز ډول هغه ژبنی یو ون (واحد چې یو زړی یا هسته خپلواک یا واول) ولري او په یو ځایي ډول همزمان له خولې راوځي (۷۶ : ۲۰۱ ) پښتو عروض لکه ګرامر یې زیاتره یوازې پر کانسو ننتهو نو (اصلي تورو) ډډه لګوي او خپلواک غږونه (علت توري) او په تیره حرکتونه (زور ، زیر او پیښ) هیڅ په پام کې نه نیسي حال دادی چې پښتو فونتیکس (غږ پوهه) دا منلای نه شي ، پښتو شعر څنګه جوړیږي ؟ ۳۴۶ مخ .

پښتو کې زیاتره اهمیت واول ته ورکول کیږي او خج هم په واول راځي . خج ، اکسنټ یا فشار : له اهنګ سره نه شلیدونکي اړیکې لري ، خچ هغه عملې ته وایي چې د ژبینو توکونو په لړ کې یو توک په زیات زوراو فشار سره وویل شي او فشار په واول راځي ځکه واول کلمې ته روح ورکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه : شپه (ŠPA) لار (Lar) تور (Tor) ژبيني تو کونه (واولونه) دي .
آهنګ ، څپه ، او خچ درې واړه ژبيني ارزښتونه لري ځکه چې په مانا کې تغير راځي .
لکه : جوړه Jora ، جوړه ، Jora
مګر بيا هم په پښتو ژپه کې د لفظ او ظاهر له پلوه دوه ډوله او زان يا په بله وينا شعرونه له پخوا مروج وو او دي .
لکه ملي او عروضي :
عروضي شعرونه هغه دي چې (قصيدې ، غزل ، رباعي ، قطعې ،مثنوي مربع ، مخمس ، مسدس ،مثمن ، معشر ، ترجيح بند ، ترکيب بند قطعه ، در ييز (مثلث) ، مستزاد ، مسبع (لسيز) معشر او ...... (۷۰) په کالبونو کې دي . په پښتو ادب کې عروضي شعر په کلاسيکو دوره په تيره د خوشحال خان له وخته او آن دپير روښان متصوفو پيرانو (انصاري ، دولت لواني ، مخلص له وخته مروج شوي دي او همدوی ور باندې طبع آزمايي کړې ده ، خوشال خان لادا دعوی ښکاره په دا ډول کړې ده . هرکلام مې واردات او يا الهام دی
چې موزون مې په تقطيع د بحر بند کړ ...... (۶۰ : ۶۴۰)
يا لکه عبدالقادر خان خټک هم ويلي دي :
تا خوږه کړه تر فارسي عبدالقادره
که پخوا وه تر خه ژبه د پښتو ....... (۴۷: ۱۰۷)
حميد مومند هم دغې خبرې ته اشاره کړې ده .
لکه :
نشته دغه در ګرامي
مګر يافت شي په دوکان نظامي ..... (۱۹ : ۵۰)
او دغه راز دغسې دعوه (دعوی) شمس الدين کاکړ د عبدالرحمن بابا په برخه کې هم کړي ده .
لکه :
که څوک ونيسي په لاس ميزان د شعر
په عروض کا سنجيده بيان دشعر
و به نه رسي په شعر له رحمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هر څو کوي هوس افغان د شعر
که د پښتو ادب د پراخې لمنې ګلونه وګڼو نو ښکاره به شي چې له عربي یا نورو ژبو کمه نه ده او په هر وزن کې مرغلرې تللې هم دي :
پته دې پاتې نه وي چې له کلاسیکې دورې پخواهم زموږ په ادب کې د عربي ژبې اغیزې وې د شعر په برخه کې دغه اغیزې آن اسعد سوري په قصیده کې را څرګندیږي .
خو څرنګه چې زموږ د بحث وړ موضوع د پښتو ژبې ملي نظمونه دي غواړم دغه نظمونه په پوره ډول نویو بیلګره سره معرفي کړم چې زموږ له محصلینو سره د درس په برخه کې مرسته وکړي . پښتو ژبه لکه د نورو ژبو په څېر د سیلاب او سلیبل له مخې ویشل کېدای شي یا په بله وینا په هجایي ډول یې دشعر سم او نا سم سره بیلیږي .
یعنې دا چې د پښتو ملي نظمونو د کره کولو تر ټولو اسانه او سم فورمول او لار سیلابو تونیکه ښه ده چې دڅپو په ډول تقطع کیږي . د څپې یا سیلاب په مانا کې د تورو لږ والی او ډېر والی اهمیت نه لري ، لکه : پر در ، ور ، رااو ،.. ټولې دوه حرفیږې کلمې دي مګر سیلاب یې یو دی . کله خو څلور توریزې ( حرفیزې) کلمې هم یو سیلاب وي لکه : وړور ، ترور ، نګور ، همداسې درې حرفیزې کلمې هم دواخله مثلا خور ، لور یا ترې زیاتې لکه : شخوند Sxwand او .......
د دا ډول شننې لپاره تر ټولو ساده لار داده چې :
( څپه په یو وارې توګه له خولې څخه راوځي)

د بیلګې په توګه څنګه یو شعر شنلای شو :

| | |
|---|---|
| د دلبرو په در ګاه<br>غو څوي مې د زړه ولې | نه حرمت لرم نه جاه<br>د چشمانو په نګاه |

شننه :

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د | دل | ب | رو | په | در | ګاه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| نه | حر | مت | ل | رم | نه | جاه |

د ياد ولو ورې ده لکه څرنګه چې د نړۍ په ټولو ژبو کې ټول وزنونه نشي څرګند يدلای همدا ستونزه په پښتو ليک کې هم شته .

ددې ستونزې د لرې کولو لپاره فونيمکه (غړيزه) الفبې را منځته شوې ده چې پورته شعر به په فونيمکه الفبا کې هم را واخلو .

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| De | Del | Ba | ro | po | Dar | gah |
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ۶ | ۷ |
| Ne | hor | Mat | Ia | ram | ne | jah |

بايد ووايو : ( دپښتو ژبې د شعر په تقطيع کې فقط د حرکت ، او سيلاب اهميت لري)

له حرکت نه مطلب (خڅ) دی ياد اواز (زيروبم) کېدل د تورو کمي يا زياتي ته اهميت نه ورکول کيږي د پښتو ژبې شعرونه چې سيلابونه له مخې له يو بل نه جلا کيږي له همدې امله خاص او ځانګړي نومونه هم لري اوږ په هر يو ډول (قسم) يې د پښتو ژبې د طبيعي اوملي شعر اطلاق کېدلی شي او دا اشعار د پښتو د ملي او پخوانيو ادبياتو بيلګې دي

د مثال په ډول :

لنډۍ ، مصره ، تپه ، بدله ، لوبه ، سندره ، نيمکۍ ، ټکې ، غړونه ، رباعي غزل ، چار بيته ، مستزاد بګتۍ ، ناري او ....

## ب – فولکلوري نثر:

د نثر هغه ډول دی چې ټولنيزې پيښې په ولسي انداز کې د ساده ، با معنی ، ښکلو مفهوم لرونکو مضامينو ، طنز او ټوکو ډکو مفهوم مونو له لارې ورکې وړاندې شي .

د لومړي ځل لپاره په دووبرخو ويشل کيږي :

۱– دبڼې (فورم – شکل) له پلوه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- منځپانګې (موضوع ) //

## الف : دښې له پلوه :

دښې لـه پلوه اوږد يـا لنډو وي ، خو پـه غيـر فني ، مګر ارادي ډول ډيـر ځله پـه ټولنې او خلکو يورې اړوندې اوږدې کېسې او خاطرې پکې بيان شوي وي . دغه نثر له يوه نسله بل ته د خاطر و په ډول په ميراث راپاتې شوی وي . پلاټ (طرحه) نه لري او که يې ولري نو ويونکي به يې په عير ارادي ډول دغه کار تـر سره کړی وي . قهرمانان ، کارکوونکي ،يې په بشپړه توګه طبيعي او سيمه ايزې ځيـرې وي ، تصنع او هنر پـردازي يکـې نـه وي سوژه يـې د مـاحول او چاپير يالـ څخـه اخيستل کيږي ، د ويونکي خپله اراده د پېښو په تمثيل کې نه وي شامله ، بيان يې د خلکو تر منځ ډراماتيکه بڼه لري .

په پښتو فولکلوريکو ادبياتو کې دغه نثر په پراخه اندازه موجود دی .

۱- عبدالقادر خان ختټک په (ګلدسته) کې ليکي :

(يو بادشاه که کښتی کې ناست ؤ ، يو مريی عجمې هم ورسره په خدمت حاضـر ؤ .

مريـی کلـه سيند ليـدلی نـه ؤ د کښـتی تاسـته يـې ازميلې نـه وه ، ژړا . زاری ، فرياد يې آغاز کړو .

۲- (يـو بادشـاه زوی پـه اديـب وسـپاه چې دا پـه مانـا کـې سـتا زوی دی ،تعلـيم تربيت يې کوه .

لکه : د خپلو زامنو ، وې يې : فرمانبرداريم ، څوکاله چې تير شول هر څو استاد سعې دده پـه تربيـت وکـړه ، فايـده حاصـل نـه شـوه ، او نـور فرزنـدان د اديـب ، ښښتن د فضل و بلاعث شول ، بآشاه په دانشمند چې استاد يې و غصه وکړه چې وعده خلاف شوې .

وفادې په وعده ونه کړه (خپلو فرزند انو غوندې تا دده تربيت ونـه کړ) دانشـمند عرض وکړه چې تربيت يکسان دی ، اما طبايع مختلف .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳- اسلم او نیکبخته

عمر چې تیر شي اشنا هیر شي
د خدای لپاره چې ما هیر نه کړې مینه

دمني يخ او ډير سوړ وخت ؤ ، د مازديګر وروستۍ شيبې ، دلمر ښايسته ستركه هسك او شنه اسمان په لوديځه لمن كې سره او ژيړه شوې وه ، ددنګو دنګو غرونو تر شاد پنا كېدو په حال كې داسې برښيده لكه ښتنه پيغله چې خپل سپين مخ دژيړ شال په څنډه او پيڅكه كې په دغه كراره او تنكۍ شيبه كې غرنۍ مرغۍ ، چوغكې او نور الوتونكې د مينې او محبت په سندرو سروو ، د زركو او سيسو كټهار نتليو زړونه ته خوشحالي او خوښي وركوله ... د مازديګر په دغو وروستيو شيبو كې سړو ، سړو سيليود (نيكبختې) دسر څخه د ژيړ شال دوړلو او تښتولو هڅې كولې ، نيكبخته نن په دغه نن شيبه او درنګ كې په خپل واک او اختيار كې نه وه ځكه څو ورځې دمخه (نيكبخته) د اسلم ، د خور (ګلزرينې) واده ته ورغلې وه داسلم او نيكبختې د ګلزرينې دواده په ورځ پو بل ته په ستركو كې د مينې اشارې سره كړې وې .

ماته په ستركو كې حال وايه
لارې كوڅې له غمازانو ډكې دينه

دواده په ورځ دواړو د جمرو د پر هغه غاړه د لنډې شيبې لپاره د ليدو او كتور ژمنه سره كړې وه . نيكبخته د اسلم راتلو لپاره دژمنې په ځاى كې دهغه راتلو ته ستركې په لار تر ماښامه ناسته وه دهغه په مينه د ماښام شفق او شپه ورته سپينه ورځ برښيده ،. هغې د اسلم د راتلو لارې ته په ځير ځير كتل ، لمر ورو ورو تر لوړو غرو پنا كېده او دلويد وپه حال كې ؤ . د اسلم څه پته او درک نه لګيده چې لږ غوندې كړې . كړې به پيدا شو نيكبخته به د جمرو د لارې كږ ليچيو ته ښه په ځير شو . د لمر د پناه كېدو په وخت كې د شنو نو او پوټړو اوږد اوږد و سيورو نيكبختې ته ډار او ويره پيدا كړه ، د اسلم دنه راتلو په اړه دهغې په زړه كې ډول ډول وسوسې او انديښنې را پيدا شوي ، د دغو وسوسو لړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسې وغزیده ، تورې تیارې او د ماښام شفق او کرارې فضا د نیکبختې نوې را غوړیدلې او را غوټۍ شوې هیلې په نا امیدۍ بدلو لې .
نیکبخته نه پوهیده چې څنګه دا دیو ځل لیده اوکاته په ژوندانه کې دومره دردونکې او زړه راښکونکې کېدای شي ؟
نیکبخته په دغو سو چونو کې ډوبه او لاهو وه چې نا ببره دآس دپښتو اواز او خرپ . خرپ یې تر غوږو شو ، نیکبختې چې داندیښنو څخه سر ښکته زنګنو ته اچولی ومخ پورته یې چې سترګې سره پورته کړې ، ګه ګوري چې د اسلم آس یې ترڅنګ ولاړ دی او دهغه د آس په شا ورته په ځانګړې او خاص اندازه مسکی مسکی کیږي ....
د نیکبختې چې په اسلم سترګې ولګېدې بې اختیاره یې ورته وویل : اسلم یې؟ په خیر راغلې ! اسلم ته جې نیکبختې له خولې دا خبره ووتله ، پیښـمانه شوه او ډیره پښیمانه وه ، ځکه هغې له ځانه سره پیتلې وه جې که اسلم راغی نو به هیڅ خبرې نه ورسره کوم ، خو دا چې هغه ډار او تیارې ناکراره کړې وه نو ځکه یې ښه راغلاست ورته ووایه : هغه سړه سیلۍ چې تردغه دمه پورې د نیکبختې لپاره دغشو په څېر سخته ځورونکې وه اوس ورته ژوند ښبونکې وه او خوشالونکې شوه . اسلم چې د آس له شانه را ښکته شو د ملا متیا لپاره یې د نیکبختې پاسته ساړه لاسونه په خپلو منګولو جې ټینګ ونیول او ورته ویې ویل : نیکبختې ډیره ښښه درنه غواړم پر ماډیره ناوخته شوه اوستا دیدن ته په رڼا روانه رسیدم ....
نیکبختې له شرم او حیانه پورته نه ورکتل ، او ورته وې ویل :
که ته لږه شیبه نور تم او ایسار شوی وای نو به زه له دغه ځایه بیرته تللې وای ، ته څومره ژبه او ژمنه ماتونکې او وعده خلاف یې د مازدیګر ژمنه کوې او تورې شپې ته راځې ماته خوستا په دغه ژبه بیخې شک پیدا شوی و ....
اسلم په نیولې ژبه ورته وویل : نیکبختې .... زه نه پوهیږم چې ستا برند وتورو سترګو او کږو ورو څو پر ما څه جادو او کوډې را وکړې ! او هر شیبه مې ستا ښکلې څېره او تورې سترګې په زړه کې راکرځي اوس زړه نه لرم او هغه تا رانه وړی دی .. د جمرو د سین پر غاړه د یو غټ کمر او ګټ تر شاه اسلم او نیکبخته سره ناست وو او یو بله یې دزړه خواله راز او نیاز سره کاوه ، د دوو مینو د مینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د زړه حال و ، خدای خبر چې څه به ؤ ؟ د سين مستې ښپې به چې په ډېرې مستې او خوشحالۍ ددوی خواته را پورته شوې د دواړه ميونو د زړه حال او خبرې يې به لکه چې اوريدلې او بيا به بيرته دسين په مخکې په خوشحالۍ خورې ورې شوې او د حال په ژبه يې هغو ته وويل :

چې دوه مين سره يو ځای شي
په نورو خلکو دړندو ګمان کوينه (۷۳: ۶۱)

## ۴- مرد او نامرد

يو سړي و پر لارې پر يوې خوا پلی رهي و . بل سړی په آس په دغې لارې سړی (پلی) پسې راورسيده ، دې پلي (پياده) پوښتنه ځنې وکړه چې ته څوک يې ؟

سپاره ورته وويل چې زه (مرد) يم

بيا سپاره ورته وويل چې ته څوک يې ؟

پلي ويل چې ته مرد يې نوزه نا مرد يم

خير خو ويل ښه دی ، په لاره سره ملګري وو .مرد ورته وويل راشه پر اس ته يو ګړی سپور شه ته ستړی شوی يې زه به پلی در سره ځم ، ولې چې سره ملګري يو ، ځای هم لرې دی او حق د ملګري هم داښه شی دی . نامر دوويل ښه دی ، مرد له اسه کښته شو ، نا مرد سيور شو ، مرد پلی ورسره ځي ، خير تر يوه حده چې سره ولاړه نامرد فکر وکړ چې اس خو چابک دی راشه ځينې ويې ځغلوه . نه دې سي لاندې کولی

بس نامرد اس پونده کړوويل مرد د خدای په امان ،مرد چې هر څه وکړه ، جې مه کوه زما اس مه بيا يه او غوړونه يې پرې ونه نيول ، اس يې ځينې بوت . مرد صبر وکړ ، نور يې هيڅ ونه ويل ، خو وخت مازيکر دی ، سپين دښت (بيابان) دی . آبادی ، کورونه ، ودانۍ نشته ، وريځ ده ،باران ده ، باران وريږي اريانی واخيست دوباره نا چا ره شو راغی يوه غره ته چې دلته به په ګاره کې شپه تيره کړم چې مردار خواره مې ونه خورې سهار به څم که خدای کول ، خير غره ته راغی لمر لويده مابښام سولو يو اوږده غار يې پيدا کړو په دې غار ننوت ، د غار په پای کې کيناست يوه ګړی يې سر په ځپېږ وکېښود ، پر يوت (څملاست) بله ګړی چې وشوه شر مش(ليوه) راغی بيا يوه ګيدړه راغله ، دا درې سره په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غار کې انډيوالان شوه ، ځير دی پريوت ، مګر امر د بيد کېدونه دی ، ناست دی ، ګيدړه وزمری ته وايي چې زمر يه لالا چېرې يې تمامه ورځ نه معلومېږې ؟ اوس به موږ ستا د ښکار په پس ماند ومارږه وای او سره له دې داسې چاغ يې او تاسو ښکار هم نه دی ليدلی ! زمري ورتـه وويـل او غـه فلانـی ډېره دهغـې ډيرې سره وښه بتکی ښځې دي . زه چې سهار ورشم تر ماښامه پورې باندې لغړم پـه خوشحاله يم طبيعت مې راسته دی . غوښې ته مې فکر نشته مرد هغه ډيرې نشانی کړه ليکن د ببرې سا هم نسي ايستلای بيا ګيدړې و شرمخ ته وويل چې تـه ولـې داسـې ډنګره يـې سره لـه دې چې داسـې چتـک يـې پـه تاخت سـوی دی . سرمخ ورته وويل چې ای ګيدړی انا څه درتـه ووايـم. دلتـه پـه دغـه هيلـه کـې دوه درې زره پسونه دي چاغ چاغ ، يو اسې کافر سپی خډل غټ وسره دي چې زه سترګې ورښکاره کړم دی مې پسې واخلې خو لاندې مې کړې او را مې مروړې ، دغه سپي د لاسه زورنه لرم . ګيدړې ورته وويل چې هو ولې چې ماه هم ليدلی دی خورا خوروړی دی دغه سپي او ددې ونې (چې د غار په خوله کې شته ده) چې دواړه سره ګډسي د ليونيانو دواده يعنې ليوني پر سد کيږې بيا ګيـډړې وويـل چې زه داسې ډنګره سوې يم زما سبب دادی چې پلاني چمن کې يوه مرږه ده شل دانې روپی لري ،. هره ورځ چې زه چمن ته ورشم دامرږه دا روپی دغار را وبآسي او هرې ته جلا جلا پورته ورته غورځي ، څو شل سره را باسي بيا نو بازې ورتـه کوي زه چې سهار ورشم ددی مرږې سيل کوم څو را پاندې ماښام شي ګاهې ورږې ،ګاې مرږه سم ، نه چاغيږم خير خو ارام سره بيده شوه . مرد دا ټولې خبرې و اوريدې چې شپه تيره شوه سهار شو دوی ، درې واوړه سره د غاره ووتـل مرد لـه دغه ونې څخه يې پاڼې پرې کړې . راغی اول دهغه : جمن تـه کـه ګـوری هغـه مرږه ده دغارڅخه يې يو وار يوه روپی به يې راوويستله ، خوشحاي به يې ورتـه وکـړه مرد نه يې وکتل ، آخر مرد ورته پټ شو . دې (مرږې) شل سره روپی له غاره څخه را ويسيتي ، خپلې بآزی ورته کوي ، يو وار مرد ور الاکره ، مرږه ور خطا شوه خو په دغه حال کې يې يوه روپی ځينې حمله کړه ، په غار ننوتله پاتې نولس ۱۹ روپی دې مرد واخيستلې راغی برابر هغه شپيلی لره يوه شپانه پسونه پيايي هغه سپي ورته پروت دی . مرد ورته ويلی چې ای شپانه ، داسپی نه خرڅوې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپانه ورته ویل چې دغه زما دوه درې زره رمه ټوله په دې سپي خوندي ده ، نو زه یې څنګه خرڅ کړم ؟
مرد ویل چې دی نولس روپۍ واخله سپی راکړه او خاوند ته وایه چې سپی مردار شو ستا پرې څه !!
شپانه هم نولس روپۍ غنیمت او بللې ، ویل شه دی خیر خو روی ځینې واخیستې ، سپی یې ټینګ وتاړه په لاس یې ورکړ . بیا مرد شپانه ته وویل چې راشه مړ یې کړه ، شپانه هم د شینۍ کوتک او ډانګ یې پر سر وو اهه او سپی مړ شو .
مرد په دستي د سپي سترګې وویستې ، دهغې ونې له پاڼرو سره یې ګډې کړې ، ګولۍ یې ځینې جوړې کړې او مړ سپی یې پرېښود نو را رهي شو ، هله ، هله ، دادی یو ښارته ورسیدې ، په دې ښار کې ګډ ګرځي . سیدان او ملایان او نور ښه خلک سپاهیانو راکوتر کړي دي ټول داسې خوا بدي دي چې څه درته ووایم ، مرد راغی پوښتنه یې وکړه چې دا ولې خوا بدي یاست او څه نقل دي ها .....
دوی ویل څه مو کوي ځه کاکا په خپله مخه لاړ دې وهه خو دی ورته ټینګ سو تاسو راته ووایاست . آخر یې نقل ورته وکړو چې ددې ښآرد باچا یوه لور ده هغه د ډیر عمر کیږي لیونی شوې ده په خونه کې اچولې ده .
په زنجیر و یې ټینګه تړلې ده ، هر څه دوی واي او غم یې خوي .. چې یې پرې وکړ خونه شوه جوړه نو اوس یې پر موږ حکم کړي دی چې یا به خامخا دا زما لور جوړوي او یا ټول وژنم اوس اریانۍ اخیستي یو داد عمر لیونۍ دی د چا د لاسه کیږي چې جوړه یې کړي مرد ورته ویل : چې دا خو آسانه ده ، وارمه خطا کوئ ما با چاته ورولئ دا زه جوړم ، د ازما د لاسه پوره ده ، لیکن زما کالي بیځي تکړې دي تاسو ماته یو څو ښي را برابر کړئ چې د با چا حضور ته خو لړ پاک ورشم ملایان سره ټول خوشحاله شول چا چاپته ورکړه ، چا مچنې ورکړې ، چا لنګوټې ، چا کوټ ، خو څه سر دې ګرځوم دا مرد یې په ښه جامه کړه ، باچا ته یې وروست مرد ورمخ ته شو ویل یې صاحبه ! زما د لاسه پوره ده .د الله(ج) په امید او حکم ستالور جوړوم !
باچا ویل چې ښه ده، حکم یې وکی چې بویې ځئ، زما لورته یې ورولئ ، دی مرد کوزه اوبه او یوه لنګره وسره واخیسته را رهي سو راغی د بآچا د لو ر خرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته که ګوري د باچا لور يې ټينګه نيولي ده ، په لاسونو يې الچکان دي ، په پښو يې زنځيران دي ، په غاړه کې يې هم زنځير دی ، داسې ليونۍ ده چې هيڅوک ځان ته نه پريږدي او پخپل ځان خو لې لګوي . مرد راغي ، ډير زړه يې پرې وسو خو مينځانې يې سره وويستلې ، يوازې دی او د باچا لور سره پاتې شول مرد يوه ګړۍ سر پټ کړو ، خو سريې را پورته کړ خو او شايي وکتل ځوک نشته دروازه يې ټينګه وتړله راولاړ شو د باچا د لور په خوله کې يې لرګی ورکړه ، يو ه دانه هغه ګولۍ يې ورکړه ، له دې خوا يې کوزه ور پسې ورپورته کړه . دا خويې پرې تيره کړه يوه ګړۍ چې وشوه د باچا لور لږه ښه شوه ، بيا يې بله ګولۍ په دغه چم ورکړه ، دايې هم چې تيره کړله يو وار د پاچا لور په سود شوه ، ناره يې وکړه ، اې مينځې دا پردی سړی څه کوي چې را سره ناست دی ا و دخدای (ج) لپاره زه موو لې تړلې يم ، دا پردی مو ولې را سره اچولی دی ؟

د باچا د لور څخه مرد راووت ، پلار ته يې راغی چې ورشه لور دې پر سد شوه ځوک محرمان ورو ليږه چې له بنده يې خلاصه کړي . باچا ډير خوشحاله شو ، لورته راغی لور يې خلاصه کړه ، دستي يې په هغو ټپونو د واوې وکړې ، حمامونه يې پرې وکړه کې ښه جوړه شوه نو باچا مرد را وغوښته ويل يې په سرېه!

زما خو دې لور څخه اميد خالی و خدای جوړه کړله سبب يې ته شوې . دا لور ما وتاته ښنلې ده ، مرد هم ويل ځما دا قبوله ده ، بيا مرد وويل چې زه مسکين يم ماته څه روپۍ راکړه چې زه کلا پرې جوړم کړم نو نه به زما طبيعت خراب وي ، نه به ستا د لور باچا ويل ښه ده حکم يې وکړ چې دوې غاترې په روپو وربار کړئ مرد خزانې ته راغی روپۍ يې بارکړې سره له ځو کسو برابر يې راوړه په هغه ځای چې زمري خزانه ايښودلې وه ، مرد هم خزانه په هغه ځای واچوله دستي يې کرښه وربايندې را تاوه کړه . مزدوران يې ور واچول شا او خوايې پر دغه ځای کلا را وګر ځوله يوه ورځ دغه مرد بازار ته راغی مزدوران دختو لپاره بيايي . که ګوري هغه نامرد يې وليدو ، د مزدورانو په چم کې ولاړ دی ، مرد يې پيژني ، مرد ورته وايي ، خوانه مزدوري نه کوې ؟ دی وايي ولې يې نه کوم ! خو دانامرد يې د نورو مزدورانو په ډله کې ختو ته وراړستی دی ، مرد خپل اشپز ته وويل : چې دغه سړي به چې هر وخت ډوډۍ غواړي ورکويي او تر دې نورو مزدورانو به

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم زياته مزدوري ورکوئ . يوه ورځ نامرد پوښتنه ځيني وکړه چې ای سړ يه ته ولې له ما سره داسې ښه کوي ، مردورته وويل چې ځوانه زه هغه مرد يم چې په پلاني وخت پلاني ځای زه او ته سره ملګري وو . او نا ويل ته څوک يي ؟ ما ويل زه مرد يم او تا ويل زه نا مرد يم هغسې تر پايه ميړانه در سره کوم ، اوس کرار کېنه خوره ، ښه او حساب مه منه .نامرد تعجب يو وړ ويل يې دا څنګه خدای(ج) در کړه مرد د خپل ژوند کېفيت له سره تر پايه ورته بيان کړ چې زه يعنې داسې ته څخه پاتې شوم ، داسې ويلاني غره ته ور غلم په فلاني په غره (ګاګره) کې داسې زمری ، ګيدړان او شرمخ او ..... نامرد ويل هغه به وي . بله ورځ نامرد راغي آشپز ته وايي ژر شه ، ما ته ډوډۍ را کړه هغه وايي خا مه ده دی ، وايي ، په زه يې غوارم ، خير خو اشپز ته مرد ويلي و چې څه وخت دی ډوډۍ غواړي ته به يې ورکوي آشپز هم وختي ډوډۍ وکړه ، نامرد ډوډۍ وخوړله او دهغه غره په لور ور رهي شو او هغې ګارې لره راغي او له ځانه سره يې ويل په هغه غار کې کېنم زه به هم هماغسې شم لکه مرد . ماښام شو بيا هغه زمري ته ګيدړه وايي ، زمری للانه يمه خبره د مخه داسې چاغ وي او اوس ډنګر شوی يې چې ناجوړه يې که څه سبب دی ؟

زمري ورته وويل چې دا څه عمر کيږي ، هغه خزانه چې ما ليدلي وه په هغه ځای کار کيږي ،کلايي پرې جوره کړې ده . زه نشم ورتلای طبيعت مې خراب دی ، نو ځکه داسې ډنګر يم شی مې وخواته نه کيږي پيا ګيدړې شرمخ ته مخ ور واړوه چې ته څنګه چاغ شوي يې ؟ شرمخ ورته وويل چې دهغې شپې راهسې چې تا پوښتنه را څخه وکړه چې ولې ډنګر يې په دې بل سهار چې هغې شيلې ته ورغلم هغه پخوانۍ سپی نه وو . په رمه ورګډشوم و څو پسونه مې سره څېرې کړه . اوس هره ورځ ورځم . خپل ښکار کوم . خو نور سپي هم شته هغه چې راشي هغه سره و مروړم سره زخميان يې کړم . زه پرې غښتلی يم ، خود چاغ شوم . بيا ګيدړې وويل : زه هم له دغې روځې راهيسې ، په هغه بل سهار هغه بل چمن ته ورغلم . اوس زه په خپل کار پسې ولاړ شم اونس ښه موړ کړم . داسې چاغه شوم يو وارې زمري سر راپورته کړو چې دا کار بې انسانه نه دی، په هغه شپه چې موږه دا خبرې کولې لکه چې يو سړي دلته پټ وو .ګيدړې. نه وګوره چې اوس خو څوک نشته ؟ ګيدړه چې په غار کې شا او خوا وګرځيده ،نا مرد يې پيدا کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل زمريه لالا دا دی راشه کش يې کړ . زمري سره څيرې کړو ...... نامرد يې مړ ګړو او بس !!! (۳۴ : ۳۵۰)

## ب – د مځپانګې له مخې :

د پښتو ولسي ادب مضمون په هغو واقعيتونو بنادی چې د ژوند له پيښو را منځته کيږي د ولسي ادب د منځپانګې (مضمون) د ژوند عيني حالات جوړوي .
يا په بله وينا د ولسي ادب مضمون د ژوند د هغو ښکاره او عيني پيښو رښتنی انځور دی چې ولس ورسره مخ دی ، دد غو پيښو درک په ولس کې حساس وګړي کوي او له خپل فکر او اند سره سم يې د هنر په يو کالب کې ټولنې ته وړاندې کوې او د ولسي احساساتو دنګه انځور په توګه يادګار پاتې کيږي .د مضمون افرينش د انساني حساسيتونو بيا ځلونه ده د بېلګې په توګه ديو (متل) يا لنډۍ او يا د ولسي هنر بل ډول او صنف را منځته کېدل ، د ولسي متفکر انسان (ذهني توليد) او په دويم وار کې (تجربه) ده . ژرنده که د پلار ده هم په وار ده
پورته متل دهغه ( ادراکي درد) احساس دی چې د بې نوبتۍ دير غل په وخت کې ويل شوی دی . د ولسي غوښتنې د اخلاقي ښکلا ځلونه کوي . خلک سم سمکې ته را بولي او په خپل نوبت يې قانع کوي او د راتلونکې لپاره ديوې پخې ( اخلاقي ډبرې) د ايښود وزيری هم ورکوي همداسې د ولسي هنر نور ډولونه هم دواخله . د ولسي ادب (مضمون) ډير غني او شتمن اړخونه لري .
لکه : (عرفاني ، اخلاقي ، پند ، نصيحت ، هيواد پالنه ، ميړانه ، انتقادي ، سياسي ، حماسي ، ادبي او .... ګڼ شمير نور . ) د ولسي ادب مضمون ارزښت په دې کې دی چې دوختونو د تلپاتې هنداري کار ورکوي . د زمانو (ماضي . حال او راتلونکو) ډيالکتيکي ارتباط پکې موجود وي اوي وه نه شليدونکې کړۍ يې جوړه کړي وي .

## ۲ – چار بيته :

د پښتو ادب يو ځلانده او ښايسته فورم دی چې ډير ځله حماسي مضمون لري .
خو له دې سره : (چاربيته يوه اوږده موضوع چې ډير ځله عشقي او حماسي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم رانغاړي ، د مضمون له پلوه که څه ډير غني دی ، خو مرکزي موضوع يې حماسي او عشقي ده .
(چار بيته د پښتو ادب يوه ډيره لرغوني او قميتي پانګه ده چې زموږ دو لس ، سره پوره اړخ لګوي) يو ليکوال نظر لري :
(چاربيتي د پښتو ملي اشعارو يوه غوره ره، برخه ده ، زياتره چاربيتي په ملي موسيقۍ کې ځانته په زړه پورې آهنګونه او خوږې نغمې لري او ددې لپاره چار بيتې بلل کيږي ) (۴۲ : ۸۰)
د چاربيتي بندونه ، څلور بيته وي او يا د څلورو مسرو څخه ، کم نه وي او کله کله د چار بيتو د مسرو شمير له شلونه هم زياتيږي ، مګر د موضوع تسلسل د قافيې او هم رديفو کلمو راړول په دودونو کې حتمي دي . ( چاربيته تر ټولو زياته خوند وره او د پام وړ نو عه ده چې د ټولنپو هنې ، فولکلور او ټنګ ټکور له پلوه ارزښت وړ ده ) (۵۴ : ۱۲)
بڼه (فورم)

مطلع: ......................................a ......................................a
بند : ......................................b ......................................b
: ......................................b ......................................b
بند : ......................................c ......................................c
: ......................................a ......................................c

چاربيته په لومړي سر کې په دوه برخو ويشل کيږي :
۱- ساده چاربيته :
۲- ځنځيري چاربيته :
الف : ساده هغه ده چې هر بند يې دوه بيته (څلور (نيمې) مسرې وي لکه پورته شکل .
ب – زنځيري چاربيتې ته اته مسريزه چاربيته هم وايي په دې چاربيته کې د سر دواړه مسرې په خپل منځ کې هم قافيه نه وي ، بلکې او له يې په يوه قافيه وي او دويمه يې په بله او بيا د هر بند په آخر کې د دواړه مسرو قافيه د مطلع د دواړو مسرو د قافيو سره برابر وي او دکسر ، سر مطلع دا دواړه مسرې د هرې کړۍ په آخر کې تکراريږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ساده چاربيتې مثال :

مطلع :

| |
|---|
| څوک به پيدا شي د فــرهاد او شيرينې په شان |
| يو ځای به څوک نه شي د ادم او درخانۍ په شان |

بند :

| |
|---|
| يو ځای به څوک نه شي لکه و عاشق فرهاد |
| تل به يې کولو په اشنايي پسې فرياد |
| وه يې کړه خواري ځکه حاصل يې شه مراد |
| کړې به يې خبرې د طوطا د ښارونۍ په ش |

تر آخره پورې په بندونو کې د (شان) کلمه د کسر په توګه تکرار راځي .

د ځنځيري چاربيتې مثال :

مطلع :

| | |
|---|---|
| د ليلا په لبو سپور | پيزوان لکه ښامار |
| ترې نه ځي شغلې دوار | نتکۍ نه يې بار بار |

بند :

| | |
|---|---|
| دشاهو په سپين جبين | روپۍ عجب زينت که |
| راوځي ما سپښين | ژوندی زما صورت که |
| زما زړه يې کړ غمګين | سر داره څه حکمت که |
| ګنګرې يې کوي شور | چې داسې په رفتار |
| د ليلا په لبو سپور | |

| | |
|---|---|
| پيزوان لکه ښامار | |
| رفتار مي کوي خوند | ورځمه مازيګر |
| وربل مي بند په بند | د سپين تندي په سر |
| خراب به دې کړم ژوند | کاته کړم په هنر |
| شين خال مې آدم خور | ذقن مې مزه دار |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| |
|---|
| د ليلی په لبو سپور<br>پيزوان لکه ښامار |

د موضوع له پلوه (چاربيته ، تاريخي ، حماسي ، عشقي ، ديني او نور ډولونه هم لري .

د پښتو د تاريخ ليکوال (قاضي عطا الله خان د دا ډول چاربيتو دوخت له پيښو سره تړي په تيره د تاريخي ، حماسي چاربيتو اهميت د تاريخي پيښو په پيچلتيا کې ويني .

## ۳- سروکې او بيتونه :

سروکې د پښتو فولکلوريک شعريا ولسي سندرو يو مهم ډول دی ( د غو ولسي سندرو ته ځينې پيښانه سروکې او ځينې نيمکۍ هم وايي خو د پکتيا په منګلو کې يې (پام) بولي .

سروکې يو پخواني ډول دی چې له ډيرې زمانې را په دې خوا په پښتو ژبه کې مروج دی آن د چاربيتو ، بدلو او نورو ولسي سندرو سرونه) هم په دې د فورم کې ګډ شوي دي سروکې يا نيمکۍ چې يو فورم لري، ځکه روته دا نومونه احلي چې (بيابيا تکراريږي) يو ليکوال ليکي . (نيمکۍ هم د پښتو اشعارو يو مرکب شعر دی ، چې له دوو جزو ته مرکب شوي دي ، يو هغه په منځ کې ورلويږي تو (ټکۍ) ورته وايي) (۴۱ :۷۷)

## په کابل کالنۍ کې راځي :

(د نيمکې د ا قانون دی چې اول يو سرو ويلی شي ، دغه سر عموما يو بيت يعنې دوه مسرې متحد القافيه وي ، مګر مسرې لکه بګتۍ دسر په شان يو برابر نه وي ، بلکې د مستزاد په شکل يې اوله مسرې اوږده او دويمه لنډه وي )

دسروکې يا نيمکۍ فورم :

د فورم يا بڼې له پلوه په لاندې ډول دي :

۱- دوپاړکېزه سروکې :

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دواړه نیمې مسرې یې سره هم وزنه نه وي خو هم قافیه وي .
لکه : ته یې کوتهر ، زه یم باز دګړ نګو لیلا
راوالو زه په غرو لیلا

۲- درې پاړکیزه :
چې درې واړه نیمې مسرې یې نه هم وزنه او نه هم قافیه وي :
بند یوانه مې ساتینه = ماته لالی وایي وایي
چې چیرته مه ځه درزړه سره

۳- څلور پاړکیزه سروکې :
دا ډول سروکې له څلورو هم وزنه ، هم قافیه نیم بیتـو څخه جوړه شـوي وي ، یا په بله وینا دواړه مطرح (مسرې) په خپل منځ کې سره یو شان وزن او قافیه لري .
لکه :
تورې سترګې خماري = درته کړم ناله زاري
درزړه زخم مې کاري = شوم رسوا ستا په یاري
۴- پنځه پاړکیزه سروکې :
له پنځو پاړکو جوړه وي د پاړکو وزن او قافیه سره برابر نه وي .
مثال :
امیل د غاړې جوړومه = ځولۍ د ګلو
اوس به لمن ډکه = راوړم د ګلو – سحر – سبا
یاد ونه : یو پاړکیزه سروکې ځکه نشته چې سروکې یا نیمکۍ پو بیتیزه نه وي .
همدارنګه سروکې کله متحد القافیه وي او کله هم نه وي .
لکه :
اوه نرۍ یې پاڼې= شاه لیلاونه د بادام
یا :
بیبي مرجانې زیارت ته مه ځه
زیارت کې زانګي د ګوډګر و تاویزونه
داسې متحد القافیه سروکې هم شته چې مسرې یې برابروي ،د بیلګې په ډول :

(c) ketabton.com: The Digital Library



| |
|---|
| جلکۍ خپه ده نن سبا يې و دوينه<br>په سر ټيکرى يې جونې اوښکې پاکوينه<br>جلکۍ روانه ده سرې او به راوړينه<br>دا تور پيکۍ يې دا يلبند شمال وهينه |

مګر داسي متحد القافيه سرو کې هم شته چې مسرې يې سره برابر نه وي .
اروا ښاد استاد عبدالروف بينوا (رح) ولي دي : د سروکې لومړۍ مسرې ديارلس سيلابونه او دوه يمه يې اووه سيلابه (۱۸ – ۸)
د پښتو ژبې پياوړى ليکوال او فولکلور پوه ښاغلى حبيب الله رفيع د سروکې په بآب ويلي دي . (سروکې عموما يو بيت ، يعنې دوه مسرې لري ، چې على الاکثر يې لومړى مسرې تر دويمې اوږدې وي او لکه د عروضې نظم مستزاد غوندې شکل لري ، خو کله دواړه مسرې برابرې ،کله لومړۍ مسرۍ لنډه او دويمه اوږده او کله کله د ازاد نوي شعر مشهور را اخلم . خداي ښښلي استاد نور احمد شاکر په خپل درسي کتاب (بديع وبيان) کې ليکلي دي :
( دسروکو .. کله کله يې دواړه مسرې سره يو شى او ځينې وخت يوه مسرۍ يې اوږده او بله يې لنډه وي او د قافيې شرط يکې نشسته ) (۴۰ – ۱۲۶)
مګر ډير شمير سروکې بيا قافيه لري لکه :

| | | |
|---|---|---|
| له کوره راوتې په ټولې کې<br>په تور اوربل کې دې ټومبلى زيرې ګلې | | پرتوګ دې ليکې ليکې<br>په څنګ تيريږي ګلې |

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا :

دا سپينه ټټه سره غمبوري دې منې دي
ورکې لونګ دانې دي
دا مسافر جلکۍ ځې په سره ډولۍ کې
ورې ، ورې سلګۍ کې .... او نورې

سيد انور الحق جيلاني دانسايکلو پيډيا اف اسلام په رنګ نظر لري او د مضمون په برخه کې يې هم څه ويلي دي . (نيمکۍ) يو ډول ولسي سندرې دي چې د جار بيتۍ او لوبې سره مشابه صنف ګڼل کيږي پدې سندرو کې زياتره د عشق بيان شوی او له چاربيتو سره يې لوی توپير دادی چې نيمکۍ ډيرې اوږدې نه دي . بلکې زياتې يې څلور يا پنځه بنده دي . دويم دا چې د نيمکۍ په مسريو کې يو کوچنۍ مسره وي ، د غې نيمې يا کوچنۍ مسرې له امله دغو سندرو ته نيمکۍ وايي (۳۵ : ۲۹)
لنډه دا چې د موضوع او بڼې له پلوه نيمکۍ ډير ډولونه لري سروکې چې ځينې پښتانه يې نيمکۍ او په ځينو سيمو کې يې (پام) بولي ، د پښتو د ولسي شفاهي سندرو يو خوږ سيمو او مست شعری ډول دی چې يو (توک) يې په خپله (سروکې) او بل يې ( لنډۍ) دی سروکې (ويلو) په مهال کې يوازې نه ويل کيږي ، بلکې لنډۍ يې حتمي جز دی او دلنډ يو په وسيله بشپړيږي ، د زياتو معلوماتو لپاره وګورئ .

## د موضوع له پلوه :

سروکې د مضوع له پلوه (عشقي) روز نيزې (تربيتي) ملي ، تاريخي ، ټولنيز ، حماسي او ... دي ( په سروکې کې د ولسي شاعرانو د سندرو (سرونه) يا کسرونه هم وړ ګډ شوي دي ، خو د ولسي سندرو د يوه ځانګړي فورم په توګه هم له ډيرې پخوا څخه په ولس کې شته )
د سروکو ويش :
۱- فورمي ويش ۲- موضوع ويش

(c) ketabton.com: The Digital Library



الـف – د جـولې (بښې ) لـه پلـوه ډیـر ډولونـه لـري د اروښـآد څیړنـدوی دوسـت شـینواري دوینـا پـر اسـاس ( سـروکۍ د فـورم لـه پلـوه تـر یـوې فـارمولي لاندې راوستل ګران دي ...)
که څه هم ( سروکې په لوی سر کې په دوو لو یو څانګو ویشل کیږي :
د اتڼ سروکې

عام سروکې
دهغه دواړه ډوله سروکې دلنډ یو په وسیله بشپړیږي )
بایـد ووایـو چـې د فـورم لـه پلـوه دوو پـاړکو ، لنډې، وزمـه سـروکو چـې لـومړې پاړکۍ یې دیارلس او دویمه یې نهه وي ، لـه دري پـاړکیو ،څلورو یـاړکیو او ... جوړې شوې دي .
ب – د موضوع له پلوه د سروکو ډولونه :
( ملي ، ټولنیز ، روحې ، عشقي ، سیاسي ، ادبـي او نـور ...) اړخونـه پکـې ځـان ځرګندوي .
(سروکې هم د ولسي ادب د یوه لرغونۍ فورم په توګه تـاریخي موضـوعاتو کـې ویل شوي دي او موږ په دغو ټولو موضوعګانو کې سـروکې لـرو) غرنـۍ سـندري (٧۶)
د موضوع له پلوه د سرکو ډولونه :

۱– تاریخي سروکې :
(په سروکوکې ځینو تاریخي پښتو ته اشاره شوي وي او سړی تـرې پوهیـدای شـي چې دغه واقعي په ملت کې خاص ملي ، سیاسي او ټولنیز ارزښت او د ارزښت درلود ...)
تاریخي سروکې په یوه ځانګړې وخت کې یوه پیښه بیانوي .
لکه :

| | | |
|---|---|---|
| په ځیږ راغله پوځونه | | کوي جنګ = تیښه ونه کړې محمد جانه |
| ورته راکاړه توپونه | | ناوګۍ مومند ورانه کړله = عمرا خانه |
| شاه عبدالرحمانه زوروره | | د شاه غاسي کلا دي ولې ورانوله |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| سپين وړوکی ګل په ناوګی ورژيدنه<br>ځائيو ونيول د نورو غرو سرونه | | پاس په کابل جنګ دی<br>د سمې کورمې جينکی ژړا کوينه |

۲- ټولنيزې سروکې :
پښتو ولسي شعر کې د انساني ژوند پراخه اړخونه انعکاس مومي (په سروکو کې د پيښو د اجتماعي ژوند ځينو اړخونو ته هم اشارې شوي دي )
لکه :
کوچيانی ستړې ژوند ، په کلي کې خواری او غريبی ، بيکاری ، مهاجرتونو ، ډول ډول کارونو ، وچکاليو ، جنګ پيښو ،کار او زيار او نورو پيښو، ته په دا ډول سروکو کې نغوتې کيږي .
يا دا چې د پښتنې کلتور بيلابيل اړخونه ورکې بيا نيږي :
لکه :

| | | |
|---|---|---|
| جانانه ډير په زړه خپه يم<br>خاونده مه راولې بيا داسې کلونه | | يو خوا جګړې بل بيکاری چې زوروينه<br>شولې شډلې غنم بآد وهلې دينه |

يا

| | | |
|---|---|---|
| زرګره زرشه پيزوان جوړ کړه<br>ميده ميده قدم وهې لکه د زرکې<br>نا داني سپينه اوږی سپين ځنځيرونه<br>زه لالي بللې يم = ژر مې ورکوی مورې | | سبا به ښکلې ليلا بل کلي ته وړينه<br>لړه معطله شه ګودر کې<br>چې په ما تيرې د دنيا دا ډير غمونه<br>که شنو لوټو سره يې تللې يم |

۱- عشقي سروکې :
(د سروکو پياوړې برخه د عشق او مينې موضوعاتو پورې اړه لري ، دامينه کليوالـه مينـه ، پښتنې مينه ده ، ددې مينې خصوصيات د ښارونو او نورو ولسونو له مينو بيل دي )
د عشقي سرو کو مثالونه ډير دي ، څو دانې يې دلته راوړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ستا ليونۍ مينه مې خوب ته نه پريږدينه<br>يارانه جدا شو په لمسون د غمازانو<br>جانانه را شه ديدن و که = خپه زړګی مې ښه که<br>جانان ته ولې = رانه لاړې | | لږ خبر مې واخله جانانه<br>اوښــــکې مرغلــــرې دې<br>تويېږي له چشمانو<br>سبا بيلتون دی<br>زه يوائې پاتې شومه |

۴- د سرکو سندريز خصوصيت :

سروکې د سندرو په ډلول ويل کيږي .

ولسي شعر + اواز + موسيقي = سندريزه سروکې

سروکې يو ډول پښتو ولسي شعر دی چې د ولسي شاعرانو له خوا ټنګ ټکور سره ويل کيږي هغه وخت سندريزه خصوصيت پيدا کوي چې له کمپوز وروسته د اواز په ډول وويل شي . له دې امله پښتو ( سروکې په عمومي توګه په دوو لويو برخو ويشل شوي دي . اول هغه سروکې چې خاص په اتڼ کې ويل کيږي چې د ( اتڼ سروکې) يې هم بولي)

دويم – هغه سروکې چې له اتڼ څخه پرته په نورو مجلسو او بنياد يو کې ويل کيږي چې دې ته (عام سر) او يا خوتش سروکې او نيمکۍ وايي .

سروکو کيږي اتڼ د پښتني کلتور يوه خوند ور برخه ده لومړی به اتڼ معرفي کړو او بيا به پخوانۍ او اوسنۍ سروکې د اتڼ په جوړښت کې وڅلوو .

(c) ketabton.com: The Digital Library





شکل(۸)

دغـه انځـور د پښــتني اتـڼ يـو پخـوانۍ بڼـه ښـي . د دوسـت محمـد دوسـت : فولکلوري ګيډۍ : ۶ : ۷ مخونه)

## پښتني اتڼ :

د افغاني پراخه کلتور په لمنه کې پښـتني اتـڼ ځانګړي نـوم او نښـان لـري ، آن ويلای شو چې اتڼ عام افغاني دود دی چې په بهرنۍ نړۍ کې په ځلانده افغـاني نڅا شـهرت لـري . دغـه افغـاني دود څه د هيـواد پـه خاصـو سرايطو ( ځلميـانو ، ځوانانو ، سپين ږيرو ، زړو او ان نجونو ښځو لـه خـوا پـه ځـانګرو حرکتونـو (لاس او تهول بدن ) تر سره کيږي . اتڼ نه يوازې اوس اوس شهرت لري ، بلکې پخوانيـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اريايانو په پوره مينه دغه خوندوره ( لوبه) تر سره کوله . ديو ليکوال په وينا (اتڼ او نڅا په اريايي ټولنو کې ډيرو قديمه سابقه لري ، دويدي دوري متون او درګويد سرد دونه د اتڼ په باب يادوني او خبري لري او په اريايانو کې دغه دود بولي ...) اتڼ ډيري پخوا زماني څخه تر اوسه زموږتوکه شته ، پښتانه د خوښيو او ښاديو په مراسمو او ميليو کې اتڼ کوي . د جنګ ميدان ته هم اتڼ ورځي او زموږ په ملي د يوه نه بيليدونکي جز په توګه د پښتنو په ملي عنعناتو کې نغښستی دی او په اتڼ کې نر او ښځې دواړه برخه لري ) غزني سندرې (۹۸) مخ
بايد ووايو چې پشه يان ، بلوڅان ، نورستانيان او براهو يان هم خپل ځانګړې ډول اتڼونه لري ، چې بلوڅان يې (دريس) او براهويان يې (چاپ) او پشه يان او نورستانيان يې هم (اتڼ...) بولي.

لکه : پشه يان چې وايي :

(بوبه کار اتڼ کار) ( ډير ښه اتڼ کوي) بونا کار اتڼ کا ) ډير ناکاره اتڼ کوي )

يا :

(ای داکې اتڼ کمن ) راځئ چې اتن وکړو .

شفيق الله – د پښتو څانګې
دريم ټولګی محصل
۱۳۸۶ – ب ګروپ

د اتڼ په برخه کې (پښتو ، پښتو ، تشريحي قاموس ، لومړی ټوک ، **۱۵** مخ کې راځي ( اتڼ (Atan) نر ، م (ج اتڼونه )
د پښتو ډله ايزه ولسي نڅا ، پښتانه د قهرمانۍ ، بهادرۍ ، بري يو والي او ځنو نورو داسي برياليتوبونو په نتيجه کې ډله ييزې مستۍ ، خوشحالۍ او نمانځينې ته اتڼ وايي . اتڼ په تاريخي لحاظ د پښتون ټبر ديوه پاخه ملي کلتور ښکارندوی دی ، اتڼ عموما د ډولونو ، غور ځيو او ملي سندرو په وسيلې سره د يوې مخصوصې او منظمې نڅا په ترڅ کې د ځوانانو او سپين ږيرو له خوا د (مير) تر لارښوونې لاندي اجرا کوي )
د اتڼ او داتڼ د نارو په برخه کې راځي : ( تاريخي روايات او لرغوني نښتې او نښتاني دا راجوتوي چې پښتو د تاريخ په بيلا بيلو پوړيو کې اتڼ او نڅا درلوده

(c) ketabton.com: The Digital Library



، ښځوا او نرو دواړه په اتڼ کې برخه لرله ، د خوشحاليو او ښآديو مراسم يې په اتڼ او نڅا وو تو دول او له دښمن سره به د جګړې ميدان ته هم په اتڼو نو او نڅا وو ورتلل او اتڼ د پښتو په کلتور کي له قديمه شامل وو او تر نن پورې د پښتو نخوا په مختلفو برخو کې اتڼ په بيلابيلو بڼو موجود دی ...) پروفيسور ولي محمد سيل کاکړ ليکلي : ( زياتره پښتانه دغه ولسي هنر اتڼ بولي ، ځينې کاکړان ( د زيارت کاکړان) يې (لوبه) او ترينان يې (لبه) او د صوبه سرحد د سيمو په هغو پښتو کې چر اتنڼ دود دی لکه ختکان – د خپل مروج اتڼ مختلف ډلونه په عمومي توګه ( د ختکو ګډا ) په نامه راپيژني) اتن ته څوک نڅا او ځينې ورته ورزښت وايي ، د پښتو ژبې پخواني وتلې استاداروانښاد صديق الله رښتيتن ليکلي دي . (اتڼ د پښتو يو خاص جنګي ورزښت دی چې لاس ، سر ،پښې او تول غړي په کې په سم ډول غورځي . پلې ، رګونه او غړي پکې په خوځيدا راځي او په دې صورت د درستو غړو د قوي کيدو مشق کيږي ) پوهاندرښتن د اتڼ د لغوي اړخ په برخه کې زياتوي : (اتڼ په لغوي لحاظ له (اته) او نسبتي (ن) څخه جوړ شوی دی . (اته) لاس او څنګ ته وايي ، ځکه چې اتن کې لاس او څنګل زيات فعاليت ښکاره کوي ، له دې کبله (اتڼ) بلل شوی دی ) (۶ : ۱۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library





شکل(۹)

نومړی انځور د اتڼ بيلابيل ډلونه څرګندوی ، د اتڼ زموږ د هيواد د ملی نڅا (اتڼ) يوه منل شوی بيلګه ده سيال کاکړ فولکلوري سوغات : ۲۱ مخ)

## اتڼ و اد اتڼ ډولونه :

(اتـن د پښـتو يـو ډيـر لرغـونی دود دی چې .. د قبـايلې ذهنيت دلاوري ، کلتـور ستر ممثل دی او دپښتو په ټولو سيمو که په يوه او بل شکل رواج لري) (**۱۰۵**) اتـڼ داسې يوه نڅا ده چې يو ستوي حرکت نـه دی ، بلکـې يـو غبرګ او جوړه خوځيدون دی چې کله نا کله ديو تن ، دوو تنو چې د اتڼ چيانو لـه خوا پـه خاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



غږ او آهنګ ويل کيږي . (اتڼ هم نارينه کوي او هم ښځي ، خو د نارينه و او د ښځو اتڼ سره بيل دی و دا لوبه ديوې قوسي د ايرې په شکل چې نيمه يو يوه خوا او نيمه يې بله خوا ګڼله کيږي ، اجرا کيږي ) (۱۰۶)

۱- د اتڼ ډولونه :

اتڼ زموږ د هيواد او کوزې پښتو نخوا په بيلابيلو سيمو کې مروج دی ، ځکه نو بيلا بيل ډولونه لري .

الف - جنوب او جنوب غربي سيمو کې .

ډير پخوا (۱۳۱۷) هـ . ش کې غلام جيلاني ليکلي و چې اتڼ څلور ډوله دی :

۱- دورا اتڼ .

۲- غښتلی اتن .

۳- ګړندی اتن .

۴- ګډ اتڼ (۱ – ۲۴۳) چې هر اتڼ بيلاّبېلې نارې هم لري .

ډيرو فولکلور پوهانو او فولکلور راټولوونکو دهغو له جملې پروفيسور ولي محمد خان سيال کاکړ (فولکلوري سوغات ۷۶ مخ ، اوابښآد محمد ګل نوري (۱۳۵۲) د کند هار د سيمو ډولونه ، ادب پوه او فولکلور راټولونکی ښاغلی حبيب الله رفيع ( د خلکو سندرې ۷۱ مخ اروابښاد د محمد دين ژواک (پښتني سندرې لومړي توک سريزه ۷۴ مخ) محقق بسم الله حقمل ( د ټنو کلتور او فولکلور ۵۳ مخ) او ګڼ شمير نورو پوهانو په دغه برخه کې نظرې وړاندې کړې چې زه به يې لنډيز راوړم .

ښاغلی داکتر عبدالرحمن ټني چې په خپله ډير ښه اتڼ چې دی له بسم الله حقمل سره ورته نظر لري لو په خوست کې له ډير پخوا مروج و اوله ډير پخوا راهيسې د خلکو په منځ کې يو خاص دود پاتې شوی دی او مختلف ډولونه لري :

۱- د سړيو اتڼ په خوست کې د سړويو اتڼ ډير ډولونه لري چې مشهور يې ( داتڼ ناری ، غره ،ګډيدا ، د ځنو نارې او اوس اوس دولاړې او ناستې اتڼونه دی چې نن سبا نه يواځې په کليو ، بلکې په هوټلو کې هم مروج دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اتڼ او د اتڼ سندرې :

نڅا او اتڼ زموږ د پښتني فولکلور يوه ارزښتمنه او درنه برخه ده اتڼ زموږ په ولس کې له ډيرې پخوا زمانې څخه مروج دود دی اتڼ په خوست کې هم له ډيرې پخوا را هيسې د خلکو په منځ کې يو خاص دود پاتې شوی دی او مختلف اشکال لري .

## د سړيو اتڼ او دهغه سندرې :

د سړيو اتڼ د خوست د تڼيو په سيمه کې په ډيرو ډېونو اجرا کيږي چې مشهور يې د اتڼ نارې ، غره ، ګډايدا او د څڼو نارې دي .

۱- د اتڼ نارې : پدې ډول اتڼ کې ډم په خاص طرز سره ډولی وهي او پدې ميدان کې راټول شوي خلک هغه ژڼي (ځوانان) چې اتڼ يې زده وي راجګوي (اتڼ په کتار کې يې دروي کله چې کتار ترتيب شو ژڼي سره څو ډلې کيږي جې هره ډله په خپل نوبت سره خاص بيتونه او نارې شروع کوي چې نمونې يې په لاندې ډول دي .

لاړه ليلا لاړه ، د لوړ غرو کجير زيړه يې غاړه

يا :

پاس به بام ولاړه يې ، روپۍ د کتار کړي چيرته لاړه يې

يا :

تورې دي زړګرې و تورې دې زرګرې سترګې تورې

يا :

جلکۍ چلم دې ډک کړو ، جلکۍ چلم دې ډک کړو دلونګو

۲- غره : غره هم د اتڼ يو ډول دی چې اهنګونو طرز يې د پورتنيو غرنو سره ورته وي ، خو په غره کې بيتونه نه تکراريږي ، موازي اهنګ په کار لويږي و هغه دژڼيو له خوا په (هو- هو-هو...) سره بدرګه کيږي يو ګروپ يې پيلوي او بل يې پای ته رسوي بياله سره پيل کيږي او اتڼ دوام مومي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳- د ځنو نارې :

پدې ډول اتڼ کې د خاص ډول په مطابق شپږو وارې ځنې اچول کيږي .
او کله چې ځنې اچول پوره شي سم د لاسه سندرې پيل کيږي پدې ډول چې لنډۍ ويل کيږي او ورسته لنډکۍ ور اچول کيږي ، دادی يو څو د تنيو د سيمې يو څو نمونې :

| | | |
|---|---|---|
| چيرته ته وای هلته زه وای | | دوارو ويـــده وای راتـــه بـــل وای چراغونه |

يا :

| | | |
|---|---|---|
| بيگاه مې خوب ليده ريښتيا شو | | آشنا په ويښه په ما واچول لاسونه |



شکل(۱۰)

دا انځور د کليوال او ولسي اتڼ چې په يواځې ډول کيږي ، ښکاره کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښځو اتڼ دود اتڼ سندري .
لکه څرنګه چې نارينه اتڼو نه لري دود اتڼ مختلف انواع اجرا کوي ، دغه رنګه به پښتنې ميرمنې هم اتڼونه دود اتڼو نو مختلف ډولونه لري ، سندرې ورسره وايي : او په مختلفو اشکالو يې اجرا کوي ، پدې مورد عبدالکريم (پتنګ) د (ګړنې ادب) کې دخوست د سيمې ځينې ښځينه اتڼونه شرح کړيدي او سندرې يې ورسره راوړې دي .
کله چې ښځې وغواړي اتڼ شروع کړي يوه ښځه ډول وهي ټولي ښځي لاسونه سره ورکوي او يوه لويه دايره تشکيلوي بيا سندرې پيلوي ، ورو رور مخته ځي په خاص ډول لاسونه اچوي ، قدمونه پورته کوي او کله کله ټکې وهي ، ددې اتڼ يو څو نمونې په لاندې ډول دی .
ډول ډول لاسونه اچوي ، قدمونه پورته کوي او کله کله ټکې وهي ، د دې اتڼ يو څو نمونې په لاندې ډول دی .

| | | |
|---|---|---|
| شين باغ يې تالاکړ و<br>شنه طوطيان راغلي دينه | | شين باغ يې تا کړو<br>مير جانانه ياره شين باغ<br>يې تالا کړه |

او همدارنګه دې ډول داتن ته لنډۍ ور اچوي :

| | | |
|---|---|---|
| ما درته ويل منل دې نه<br>کړل<br>په سردې راوړل تبرګيو<br>برغنډونه | | مير جانانه ياره شين باغ<br>يې تالا کړو<br>مير جانانه ياره شين باغ<br>يې تالا کړو |

(c) ketabton.com: The Digital Library





شکل(۱۱)

د پښتو ژبې حقدار خدمت کوونکی او ماهر فولکلوریست اروانښاد محمد ګل نوري (۱۳۵۲) هـ . ش د اتڼ ډولونه داسې ښوولی دی .

۱- ورو کرار اتڼ .
۲- یو بغله اتڼ .
۳- دوبغله اتڼ
۴- درست اتڼ .
۵- دایشلی اتڼ .
۶- د ناستې اتڼ .
۷- د پروتې اتڼ .
۸- د پروتې دو بغله اتڼ .
۹- چپه او راسته اتڼ .
۱۰- غلی اتڼ .

په پکتیا مجله کې راځي :
زما یاره طالبه – طالبه یا خوله غواړي که ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما یاره طالبه – طالبه یاره خوله غواړي که ژبه
خو له به تر تا جار کړم = ژبه تر تالو لاندې غايبه (**۵۷** : ۱۴)

## ۵- بابو لالې :

د فولکلوریک یا ولسي ادب یوه زرینه ځانګه ده .
د فولکلوریيک شعر یوه خوږه بیلګه ده چې ډیر ځله د ګرځندو او پونده وو (کوچیانو) په منځ کې شته .
د ولسي شعر پر دغه ډول د موضوع له پلوه ډیر غني دی .
ډیر ځله طنزیه ، ویرانې او خوږې مینې موضوعات پکې رانغاړل کیږي .
د بیولالې بڼه :
د دغه ډول د ولسي شعر بڼه ،فورم یا شکل داسې دی چې :
درې مسرې لري ، او له او دریمه مسره یې په یوه قافیه راځي .
A________________
B________________
C________________

لکه :
۱- پر کور دوه زرغونه شاله .
زما جانان ورته ولاړه دی .
لاس یې نه ورځي د خیاله
۲- پر تر نګ کې کجاوې دي .
زما جانان چې واده وړینه
ورسره مستې ترلې دي (۲ : ۱۳۷)

د بابو لالې دویلو اړتیا وختونه او ځانګړنې :
الف اړتیا :

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابولالې ډير ځله په ودونو کې ويل کيږي او حتې د پښتنو ښځو او نارينه وولـه خوا د حرکت او ولاړې په حال کې ويل کيږي ، ښځې دريا (داريا) وهي او نارينه هغوی ته د ځواب په ډول بابو لالې وايي .
کله نا کله پيغور پکې ورکول کيږي او يو ډول ظريف او مزداره انتقاد هم پکې ژبې د اهسته بروځای نيسي (و د آهسته برو) په وزن کې ويل کيږي او ولسي شعر په دغه وزن کې لاډير خوند ور کيږي دواړه مسرې يې په اوږده کې ويل کيږي او ارامونکې اهنګ لري .

ب- وختونه : لکه څنګه علامه شيخ الرئيس ابن سينا الرحمه (۶۳ . ۶۰) د موسيقي او اوازونو او د وختونو په اوږدو کې په انسان بآندې دهغه د اغيزو په برخه کې څرګندونې کړي ، نو په فطري ډول په پښتو ژبه او نورو ژبو کې د سندرو د هر صنف اغيزې هم مختلف وختونه لري.
بيولالې هم وختونه لري او تر ټولو ښه وخت يې دواده په لومړۍ ورځ د ځاښت په وخت کې چې د ناوې سر وغړوي او د واده پر مخصوص تخت يې کېنوي ، د و رااو د ناوې د خوا ښځې ګډې وډې شا او خوا سر کېني او ناوې په منځ کې ناستې وي . او د ناوې سرته ويل کيږي ، دايره وهي او دغه سندره په ګډه سره وايي :

اوښ ولاړ زنګون تړلی
تر هغو به يې خلاص نه کم چې زما جان نه دی راغلی
(ډاکتر غوري د ساينس پوهنځي استاد)

ج – ځانګړنې :
د شکل له پلوه يې د پښتو له نورو ولسي صنفونو سره بريد معلوم دی لکه :
لومړۍ مسرۍ تکرار ، په منځ کې يې ځانګړې اوازونه پورته کيږي لکه : (بابو لالې وای وای) ور اچول کيږي ، دويمه مسرۍ يو اور او د مسرۍ په منځ کې ور اچوي (وای ، بآبو لاله ، لاله ، واله ، لا) ور اچوي .
بڼه : ــــــــــ الف ــــــــــ الف ــــــــــ الف
ــــــــــ ب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ت ________________ پ ________________

الف ________________

د موضوع په لحاظ عشقي ، ويرنې ، طنزيه ، ټولينزې کرکې او غوښتنې وي .
د بيولالې سندرې په درې نورو ډولونو هم ويشل کيږي .
چې دوه ډوله يې هم شکله او د دريمې بڼه يې بيله ده .
د بيلګې په توګه :

اول :
دغه ډله اول نيم بيتي پر اساس راځي . درې بيتي دي لکه :
غوښتنه : آسو و ششنل په زروه
جلوونه را طلب کی – زموږ د حيبښ دلويه کوره

| |
|---|
| اوښ ولاړه زنګون تړلی (ها) بابو لاله لاله<br>اوښ ولاړه (وای وای) زنګون تړلی (وای)<br>تر هغو به يې خلاص نه کم (وای) بابو لاله لاله<br>څو زما جان(وای وای) نه دی راغلی (وای) |

پيغور :
اوښ ولاړ وکجاووته
زموږ وحيبښ ته وار اوزه – لور را وباسه لوبته
دويم :
باران اوري منا څاڅي
که ناوې زما دجان وه – تر نو کانو يې زر څاڅې
دريیم :
براور واچوئ پرځي
د سهار باده زلزله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه نور مې پريوه وړې – دا شيرينه مور پر بله



شکل(۱۲)

## مصره او ټپه :

ماته قلم ، مشو انړۍ رواړه = يو څو مصرۍ په وينو سرې يارته ليږمه
(مصرع يا ټپه ) د پښتو ادب يو داسې صنف دی چې د بيتونو وزن يې سره برابر نه وي .
د عبدالحليم اثر په وينا : (د وادي ، پيښور او يو سفزو پښتانه ( لنډۍ) ته مصره او ټپه هم وايي. دا اصطلاح عام رواج لري ، تعليم يافته او بې تعليمه خلک ټول پرې يوهيږي)
مخ ۲۱۷۰ پښتو ادب .
د مصرې ټپې او لنډۍ تر منځ ځينې خلک توپير ته نه دي قابل ، خومرکزي پښتانه بيا ، مصره او ټپه سره يو ه گڼي )
لکه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځينو ودونو او د ځوانانو ميلو کې يو بل ته وايي چې (ته يو فرد ، يوه ټپه يا يو مصره خو ووايه ) همدارنګه ځينې نور بيا ( د مصره او فرد) سره يوشان بولي . (فرد يا مصره د يوې سندرې په سر کې د مقدمې په ډول ويل کيږي ) ځينې نور بيا (پړاکې) هم له مصرې ، ټپې او لنډۍ سره يو ګڼي .

مثلا : په خوست کې (پړاکې ) به دجلا عنوان په توګه در وپيژنو .

د مصرې او ټپې نومونه :

مصرې ته ولې مصره وايي؟

١ مصره ورته ځکه وايي چې : يو (دور) جوړوي يعنې دواړه نيم بيتونه يې يوه مصراع جوړوي .د يو ليکوال په وينا : (مصراع د يو مکمل او پوره بيت تيمې ته وبلی شي او د پښتو ژبې مصره هم لکه ديوې په شان ده ځکه چې لنډۍ ته شعر دهغه تعريف له مخه چې عربو کړی دی ، يو مکمل بيت او شعر نه شي ويل کېدي ، شعر يا بيت هغه وي چې داوړه مصرې يې د کوم يو خاص بحر په مقرره وزنونو (افاعليو) باندې د يوې بلې سر برابرې وي د پښتو ژبې مصرو يو اولنی جز وه لنډه (٩ سيلابه ) او بل اوږد (١٣ سيلابه ) دی او ټوله مصره يا لنډۍ د سرنه تر اخره پورې داسې مثال لري لکه د مصرې نو په دې لحاظ ورته مصره وئيلی شي . عام پښتانه يې دا معني کوي : چې مصره ورته واي چې ددې مثال لکه د (مصرې تورې) په شان دی) (پښتو ادب : ٢١٧ مخ )

٢- ټپه يې ولې بولي ؟

ځکه يې ټپه بولي چې اواز هلته دريږي يا ټپ کيږي کله چې د شعر کومه کړۍ يا په ځانګړې توګه لنډۍ د (داستان ) په (تال) سيمو کې ويل کيږي د څو لنډيو له ويلو د سرې ستونی ټپ کيږي او اوازنو نورنه پورته او وړه ژبه نو کار نه کوي .

د داستان ويلو تال داسې دی چې اواز (ورو پيل کيږي او بيا په زور سره لوړيږي )

د اواز په لوړ لو کې ستوني + وړه ژبه +تالو + سوږمې =ټپه جوړوي .

يعنې اواز له ستونې راوځي په پورته تالو کې حلقه کيږي ستونی خوله او پوزه د ټپو دويلو په وخت کې په بشپړه توګه د يو پاخه (نی) په توګه پړسيږي .

لکه :

ځما د علم نصيب نشته

څوک چې مين شي ترې نه پاتې شي علمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټپو ويل په انفرادي او ټولنيز ډول :

۱- د ټپو ويل په انفرادي ډول :

د پښتو دژوند او شيوه کې سړي وګوري ورته څرګند يږي چې (چې له ښارونو نيولې بيا تر غرونو ژوند کوي) هغه څوک چې په کليو ، بانډو کې اوسي او ځينې چې کوچيان دي هر دو مرو له ټپو ويلو سره سرو کار لري . کوچيان چې کله مال پيايي نو د غونډيو په لمنو کې د ټپو اواز اوريدل کيږي ، له سپيلۍ سره سره (ټپې) هم وايي . دغه ټپي په (يکه زار پيل کوي )

که ټول جهان جانان شي = زما ديار په شان جانان به چيرته وينه

د يو ليکوال په وينا : ( ټپه يو د مختلفونو زينت نه ده بلکې پښتنه ښځخ او نارينه د اتنهايي په وخت کې د خپلې تنهايي د احساس ختمولو لپاره هم ټپې يا لنډۍ غلې غلې وايي)

۲- د ټپو ويل په ګډه يا (اجتماعي ډول :

راځئ راځئ چې ټپي وايو

ټپي لاښي دی د يار غم غلطوينه

ټپي ډير ځله مجلسيان په مجلسونو کې سره وايي (ټپه چې د مجلس نغمه شي نو د خوشحاليو دورونه راژوندي کړي ، ودونه او ښادۍ ، کور او ډيره وربانديې خوند وره کيږي) هغه ټپي چې په ګډه سره ويل کيږي د (سوال او ځواب) يا زما په نظر (سندريزه ترنم) اوازي ډيالوګ) خاصيت غوره کوي . کومې ټپې چې د سندره غاړو له خوا مخامخ سره ويل کيږي د خاصو جذباتو پر اساس رامنځته کيږي دغه ټپې مسلسلي وي او جوابي ټپي هم ورته وايي .

## ټپه د موضوع او بنې له پلوه :

۱- د ټپي بڼه :

(ټپه) په لومړي سر کې (لنډۍ) ده ، خو د بيابان له پلوه په زړه پورې موزونيت پيدا کوي (بيان يې دومره موزون او جامع وي چې په عامو حالاتو کې يوه لويه موضوع په خپل مکمل شکل سره د خپلو ټولو خصوصياتو سره پکې موجوده

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي او دآغاز ، ارتقا او معراج سره يې موزونيت ، نغمه او د الفاظو ترتيب هم قايم وي )
ټپه هغه وخت خپله بڼه ښوولای شي چې د سندر غاړي له خوا اوږد وويل شي (پيل ، منځ او پای ولري)
لکه لاندې شکل :
يکه زار +لنډۍ + د ، (نه) يا (مه) ، ترنم = ټپه
- يان – نغمه
- ت – ترتيب
- م – موزونيت

معراج
نزول يا د زياتو معلوماتو لپاره وګوری

**۲- د ټپې موضوع :**
ټولې ټپې ديو ځانګړې ذوق له مخې رامنځته کيږي ، ځکه يې مضمون او موضوع هم بيلې دي. د موضوع له پلوه ډيرې غني دي ( ارسطو په نظر شعر د انساني جذبو يو ستر نوم دی چې ډير ډولونه لري .
لکه :
رزميه ، الميه ، طربيه او مذهبي شاعري) نو پښتو شعر او بيا لنډۍ (مصره) يا ټپه هم ګڼ مضمونونه لري .
لکه : (علم ، ويارنه ، حماسه ، عشق ، مدح ، غندنه ، هجوا او هزل ساندې ، هجران نه شکايت ظرافيت ، ښکلا او ...) چې زه په يې لنډ ډول يوه يوه بيلګه را واخلم .
۱- پوهه (علم)

| | | |
|---|---|---|
| چيرته چې علم حاصليږي<br>ځما د علم تاوان راکړه<br>ځما د علم نصيب نشته | | هلته به خاورې کړمه غوښې خپل هډونه<br>چې په سرو شونډو دې خندل امي د کړمه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| | | څوک چې مين شي ترې نه پاتې شي علمونه |

۲- وياړنه حماسه (فخريه)

| | | |
|---|---|---|
| توري به نه کړو نو به څه کړو<br>بار مې په جنګ کې توره وکړه<br>ټکړې ، ټوټې په وينو راشي | | چې مو شودې د پښتنې رودلې دينه<br>ماته نجلۍ په کور کې ګاولي سموينه<br>چې پر هارونه دې ګنډم خوله درکومه |

۳- مينه او عشق :

عشق او مينه د کائيناتو او انسانانو د موجوديت يو عمده هدف دی پښتو ادب له مينې ډک دی .

| | | |
|---|---|---|
| په بام ولاړه يم زنګيږي | | د خوبه نه يم ديار غم غلطومه |

زموږ په ادب کې د حقيقي (الهي) او مجازي (دنيايي) مينې انځور وار په وار وړاندې شوی دی مجازي مينه د حقيقي او رښتنی مينې دتړ او سر چينه ده .

| | | |
|---|---|---|
| الله دې هلته مل شه وروره<br>الله ورکړې ميلمستيا ده<br>الله دې بيا راته محتاج کړه<br>الله دې بيا راوړ ياره<br>الله چې ستا پرمخ شيدا کړم<br>الله تعالي رحمان رحيم دی<br>خلک تمامه شپه ارام وي<br>خلک په لومو مرغان نيسي | | چې دفترونه دې قاضي ته وړاندې شنه<br>په لامکان يې شوي خدای سره رازونه<br>غنچې غنچې څنې مې بيا په مخ راځينه<br>ماشوم زړګی مې په ژړا دريسې مرينه<br>غمو تالاکړم پر محرا ګرځم مينه<br>زه په قيامت د مغفرت طمع لرمه<br>زه په خنجر وهلې زړه ټکورومه<br>زه يې بند کړی په خمارو سترګو يمه |

۴- ستاينه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



يه پښتو ادب کې ډيسو پيدا کولو لپاره مدح نشته ، يواځې په مينه کې ستاينه او مدح د دغو ادبياتو مضمون جوړوي .

| | | |
|---|---|---|
| لکه ريدي ګل به ترې جوړ شي<br>آسمان په ستورو ښايسته دی<br>په تروږمۍ کې رڼا راغله<br>د خلاصيدو اميد مې نشته<br>دغم پوليس راپسې ګرځي<br>د کلي منځ ته به لاړنه شم<br>ما په ګودر د نجونو ښخ کړئ | | که دې په لنډه زنه ووهل خالونه<br>لکه د پيغلې جونې غاړه په خالونه<br>ليلا په تور اوربل غاټول ټومبلي دينه<br>ليلا دزلفو په رسو تړلې يمه<br>زه د ليلا په يارانه غل شوی يمه<br>ليلا باز په شان غوټې کړي زرونه وړينه<br>ګوندې ليلا را باندې کيږدي قدمونه |

۵- ځواني او نا ځواني :

ځوانمردي (عياري) او فتوات په شرقي ادبياتو او په ځاګړې توګه پښتو عرف (دود) او ادب کې يو رنګين څپرکي جوړوي ، خو بر خلاف ناځواني د تل لپاره د پښتنو په ژوند ، ادب او ټولنه کې غندل شوی او ښه يې نه ويني .

لکه :

| | | |
|---|---|---|
| اشنا ټپس ، ناسته د باز کړي<br>د کوټې تير را باندې پروت وای<br>بهر ته راشه که بآدر يې<br>يار مې په جنګ کې تر شاه راغی<br>خاوند بياد ماسخوتن کړو<br>خدايه موزيانو کې مرګ که کړئ<br>موذي دې خوب په پالنګ نه کړي | | زه کم دليله يې په ناستې وغوليدمه<br>راباندې نه وي د نامرد سرې لاسونه<br>د ښځو مينځ کې غور ځوي جوړه لاسونه<br>په بيګانې ورکړې خو له پښمانه يمه<br>د ګلو لښتې د موزيانو کټ ته ځينه<br>چې د غيرت ليونۍ جونه خلاصي شينه<br>حق د هغو دی چې وطن په تورو خورينه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



او آن هغه چاته چې واده يې کړي وي او يا يې نه وي کړی خو مين وي مګر بې عمله ، تو هم زموږ د غيرتي پيغلوله خوا پيغور ورکړل شوی او د ډول تاتوانه او ناځوانه انځوريې داسې ويستلی دی .

لکه :

| | | |
|---|---|---|
| جانانه ستا مزګی نشته | | زما همزولې زانګو ګانې زنګوينه |

۶- غندنه :

له بده مرغه اوس اوس زموږ په ادبياتو او په تيره د ژورناليزم په ډګر کې د ځينو ادبي ، سياسي ، فرهنګي ځيرونه غندنه د ليکوال د عندي (ی) فطرت له مخې تر سره کيږي .

خو په پښتو ولسي ادب کې غندنه د ټولنيزې پر تلې (اجتماعي شخصيت) له مخې شوې ده ، يعنې دا ډول غندنه (دم او هجو) د کوم رعنا د (کسد ، قصد) له مخې نه ده ، بلکې ددې لپاره دغه غندنه شوې چې موذې او بيکاره سړي ته د ژوند لاره ور وښيي .

بهادران يو ځل په ځاي مری
موذيګی هر ساعت په ځای يې ځايه مرينه
موذي له جنګه تر پله وکړه
په بيګانی ورکړې خو له پښيمانه يمه

۷ – مرثيه (ويرنه) : ساندې (Dirgi) – $\bar{S}ande$

ساندې ، مرثيه ، ويرنه ، ډير ځله يو شی بلل شوي دي خو دغه توپير ما (په هيله مجله لومړی ګڼه ، پيښور ، دانش خپرندويه ټولنه ۱۹۹۸ ) د (ويرنو او ساندو توپير ) تر سر ليک لاندې کړی دی . خو : (ساندې (Dirgi) او ويرنې (Elegiac) زموږ د ولس ځانګړې (و مشخصه معنوي هستی ګڼل کيږي  که څه هم دوير او ماتم او زړه در دونکې خالت اويا انساني روزنې خصوصيات ثابتوي او ددې ارځنګ رواني او معنوي دردونه هم تسکينوي) دو برنې په برخه کې نورې نظرې هم شته ، د مثال په ډول :

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ویرنه یا مرثیه د تیر شوي غم او خفگان په برخه کې له هغه فریاد او شکوې څخه عبارت دی چې د جا دوست یا خپلوان پخوا مړ شوی وي او بیا وروسته شاعر پر هغه باندې د شعر په موزونو الفاظو کې غم او خفگان ښکاره کړي ، خو لاس په لاس وربانديې ته ژاړي ) ۶۲ - ۳۱ تر ۳۵ )

همدارنگه : (مرثیه عربي لفظ دی چې د عربي له یوه بله لفظه (رثا) مشتق شویدی او درثا مانا ده پر مړي ژړل او اه وزاري) مرثیې او ویرنې ډېر ډولونه لري . لکه : مذهبي ، دپاچاهانو مرثیې ، خپلو حپلوانو مرثیې ، د دوستانو او ملگرو مرثیې او .... په پښتو ادب کې مرقیې لرغونې تاریخ لري ، دلته به یې لنډې بیلگې راوړو .

څه داغونه ږدي په زړه باندې فلکه
چې نظام دې له ما بیل کړو خوا یې ډکه
خدایه نه خو ستمگر نه یې دا څه کړي
خلقه دې په دا کار کړه هکه پکه
په لحد کې هغه مخ خورې په جنجیو
جې د هیڅ چاپرې پیروزونه وه ځوانکه

په غمونو کېدی زوړ په دنیا پایي
که د زاړ په ارمان ته ومړ کوې کو دکه
کاش که ځوان د پښتانه په ننگ کې مړ وای
نه چې گور لره روان شوله تلتکه
چې د قام په ننگ کې ومړ هغه زویه
په عالم کې د خپل پلار غاړه کالکه
مگر زړه یې دهاتي دی چې زغمي یې
دا شتی‍ چې د خوشحال په زړه شوه لکه
(۵۰ - ۳۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸- د پنځم څپرکي د موضوعاتو لنډيز :

- پښتو فولکلوريک ژانرونه په دوو برخو ويشل کيږي .
- الف : ولسي نظمونه
- ب : عروضي نظمونه

خو پښتو فولکلوريک شعر په عروضي باندې نه برابريږي .

- پښتو د شعر رغاونيز تخنيک سيلاب و تونيک دی . همدغه د پښتو شعر شکلي سب ، دی ، په دغه سيلاب و تونيک سيستم کې مو دوه عنصره تر ستر ګې ، څپه او تون ، يا وزن اوريتيم .
- غځ . سنټ يا فشار له تون سره نه شلېدونکې اړيکې لري .
- غځ هغه عمليې ته وايي چې د ژينيو توکونو په لړ کې په يوه توپ زيات فشار راشي او فشار په واول راځي .
- څپه پښتو کلمه ده ، هجا ته هم وايي ، هجا يو وار د خولې ښورېدل دي ، لکه را – ځم کې ته ، ځه .
- څيه ژبني واحد دی ، يا خپلواکه وي او يا له يوه خپلواک او څو بېوا کو جوړه شوي وي ، په دوه ډوله ده ، وازه او تړلې .
- وازه په واول ختمه وي ، او بنده يا تړلي په کانسونينټ .
- لنډۍ ، ټپه ، بدله ، لوبه ، سندره ، نيمکۍ ، ټکې ، غړونه ، رباعي ، مقام ، غزل چاربيته ، بګتۍ ، د پښتو شعر فولکلوريک ډولونه دي .
- د نظمونه تر څنګه فولکلوريک نثرونه هم شته ، او نثر په معنوي او لفظي بر خو ويشل کيږي ، معنوي نثر د خبرو نثر ، د ټيلفون ،موبايل .
- مرد او نا مرد ، د محمد ګل نوري د هېواد د پياوړي فولکلوريک اثر دی .
- ولسي ادبيات د مضمون له پلوه ډير غني دي ، روحيه يې سپيڅلې او د خلکو د تجربو محصول دي ، مضمون آفريني له انساني حساسيتونو سره يو ځاي په کې ځلونه کوي .
- د ولسي ادب مضمون ډير غنی دی ، پند ، نصيحت ، عرفان ، هيواد پالنه ، ميړانه ، انتقادي ، سياسي او حماسي او ګڼ مضمونونه لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- چاربيته له پلوه په ساده او ځنځيري ويشل کيږي .
- سروکې د پښتو فولکلوريک شعر ، يا ولسي سندرو مهم ډول دی ، سروکو ته ځيني پښتانه نيمکۍ وايي او په پکتيا کې د منګلو خلک ورته پام وايي .
- سرو کې يا نيمکۍ په دوه پاړکيزه ، درې ځلور او پنځه پاړکيزو ويشي .
- سروکې د فورم له مخې په دوو بر خو ويشل کيږي ، الف ،: د اتڼ سروکې ، چې شپږو ډوله دي ، ب : د موضوع له پلوه په تاريخي ټولنيزو اوعشقي سروکو ويشل کيږي .
- سروکې سندريز خصوصيت لري .
- ټپه په لومړي سر کې لنډۍ ده ، خو د بيان له پلوه په زړه پورې موزونيت لري . ټولې ټپې د يوه ځانګړي ذوق له مخې را منځته کيږي د مضمون له پلوه ډيره غني ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹ – د پنځم څپرکي پوښتنې :

۱- ټپه څه ډول فورمي شعر دی ؟
۲- ټپه د موضوع له پلوه کوم ډولونه لري ؟
۳- د ټپې پيل ، ارتقا او معراج په يوه انځور کې وښاياست ؟
۴- چار بيته څه ډول هندسي فورم لري ؟
۵- اتڼ څه شی دی ؟
۶- څو ډوله اتڼ پيژنئ .
۷- د سروکو سندريږې ځانګړنې په ګوته کړئ .
۸- نمکۍ څه ډول فورم لري ؟
۹- لنډۍ ، ټپه ، بدله ، لوبه نور د مضوع او بڼې له پلوه څه ورته الي لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم څپرکی

## ۱- فولکلوري مقولې :

( مقولې) ته په لاتین کې میتولوژي (Mythology) ویل کیږي .
د اساطیرو علم ورته ویل شوی دی .وایي چې (Myth) کلمه د یوناني ژبې له (Mythos) څخه مشتق شوې ده . مایت Myth به په لومړي سرکې هر ډول کیسو ته ویل کیدلې دوخت په تېریدو سره یې مفهوم تغیر وکړ ، بیا په هغو کیسو اطلاق شوه چې منشا یې هیره شوې وي . ظاهرا یا له ورایه تاریخي برښي خو په اصل کې یوه عقیده وي چې دود ، دستور و موسسه یا طبیعي پدیدې توضیح کوي ) اوس اوس ( مقوله یا مقولې په هغو اسطورو راڅرخي چې دودیزې عقیدې ورکې بیان شوي وي ) د دغو مقولو مجموعې ته میتولوژي وایي .

## ۲- اسطوره :

چې جمعه یې اسطورې ته په (دیدار یا سپیده) نومي مجله کې ( دخلکو د باور یو ځانګړې بنه ده ) ویل شوي خو .
اسطوره ډیر ځله له هغو مذهبي عقایدو او شعایرو سره تړلې ده چې انسان له هغې سره معنوي ارتباط ورکوي .

## ۳- نکل :

د هنري ذوق ځانګړې ډول دی چې د خلکو د ارمانونو او ایډیالونو انګاره په کې څرګندیږي .
نکلو نه هم ډیر ځله د انسان د عقیدوي الواکونو انځور جوړونه وي . دغه انځورونه او شخصیت جوړونه د خلکوپه باورونو او تیر و عقیدوي تړاو نو پورې اړوند وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نکل او کيسې توپير :
۱- کېسه د نکل هغه بهير دی چې د راوي له خولې سينه په سينه ويل کيږي .
۲- کيسه ځانګړی مهارت دی چې بياني خاصيت لري ، يعني هغه الفاظ چې د يوې خاطرې او پيښې شفاهي سيړنه وکړي .
۳- نکل هغه خيالي يا حقيقي ، واقعيت دی چې له پيښو رغيدلی او د يو خيالي هنري او عقيدوي واقعيت په توګه يې بنه موندلې وي .
۴- نکلونه هغه يادګارونه وي چې د شفاهي کيسو له لارې سيړل کيږي .
۵-کېسه د نکل سيړنيز جريان دی او نکل ناسيړلی واقعيت (داستان) له همدې امله نکل ، داستان او کيسو ته ميتولوژي هم ويل شوې ده دا ځکه دا ټول د يو ډول مذهبي باورونو هنري سړنه ده ، خو توپير دادی چې (نکلونه زياتره د تفنن او هنري التذاد لپاره ويل کيږي ) روهي صاحب)
اسطوري ، عقيده وي باورونه دي په اسطوره کې د جهاني او دايمي بآ ارزښته پيښو ځرګندونې دي کېدای شي د ارباب النواعو د کړو وړو او يا نورو پيښو بيان وي .
د ځمکې او اسمانو نو پيدايښت ، د نړۍ دوره وهل مرګ او ژوند ، د خير او شروع تر منځ مبارزه له مړينې وروسته حالات او ..... ټول د اسطوره په دايره کې راشي .
اسطوروي فکرونه و فولکلوري روايتونه دي هغه روايتونه چې عقيدوي منبع او زيرمه ولري ، اسطوره د لرغونې ژوند او ټولنو مشخصه (ځانګړنه) ده اسطوره هغه روايتونه دي چې د تاريخ په لومړيو پړاوونو کې د خيالي (Fantastic) ايماژونو ، (ارباب النواعو ، افسانوي اتلانو ، سترو پيښو او نورو) له لارې د طبيعت او ټولنې د بيلابېلو پديدو د سيړنې او عموميت لپاره کارول کيږي .
ځينې د علمي نړۍ ليد د ر لودونکي پوهان پدې باور دي چې (ټولې اسطورې په خيال کې او د تخيل په مرسته د طبيعت د قواوو د تسخير تابع کولو او ماتې ورکولو په منظور جوړې شوي دي )
د اسطور ځانګړنې :
په پښتو ژبه کې ډير ځله اسطوروته ( نکلونه او کيسې) هم ويل شوي دي . د لرغونو ټولنو آندود (طرز تفکر) ډير اړخونه په اسطورو کې منعکس کيږي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسطورو کې مافوق الطبيعي توکې (عناصر) له اديانو او عقيده و سر تړ او پيدا کوي په اسطورو کې اخلاقي او ايستيکې (ښکلانيز) ارزښتونه بيانيږي .
مارکس ويلي : (ميتولوژي په نا آګاه هانه ډول د طبيعت هنري بيارغونه (باز آفريني) ده دطبيعت په دايره (مفهوم ) کې د ټولني په ګډون آول مادي شيان شامل وي) د اسطورو ځانګړ نه پدې کې ده چې د خلکو له رواني حالت ، فکري جوړونې او باورونه سره کار لري ، هغه عقيدې او باورونه تمثيليوي چې انسان له هغو سره تلپاتې تړاو لري او راتلونکي ژوند ته يې لوری او خوند ورکوي ( د زمانو په درشل کې د باورونه مجموعه ده ) .ماکسيم ګور کې د نړۍ تر ټولو ستر ليکوال د فولکلور په تيره د اسطورو به برخه کې اوږدې خبرې کړي او هغه دا چې :
(فولکلور د خلکو شفاهي ادبيات او د ميتو لوژي له لاري لاس ته راغلي معلومات ټول دا خبره اثبات ته رسوي چې د فولکلور د پراخو هنري عموميتونو په واسطه طبيعي پديدې ، د طبيعت په مقابل کې مبارزه او ټولنيز ژوند منعکسوي) ( د دې تصور به ډير مشکل وي چې ځلور بول ځاروي د خپلې بقا لپاره د هلو ځلو په ترځ کې په داسې افکارو مشغول شي چې د کار له پروسو او د ټبر او قبيلې له پرابلمونو سره اړه ونه لري) (۲۸- ۴۳۱)
د ګور کې چانيز نظر داسې راوړو : (اسطورې د زيار ايستونکې انسان د هيلو . ارمانونو او له سختو فزيکې کارونو څخه د خلاصون لپاره د ده د هلو ځلو يو خيالي او ارماني تجسم دی) ځينې نور پوهان پدې باور دي چې د هرې اسطورې د پيژندلو په برخه کې (نظر عقيده او معرفت ) د پام وړ دي .

د اسطورو او علمي افکارو توپير :
اسطوروي په عقديه او باور اړه لري .
اسطورې کيدای يو محافظه کاره فکري وي له خرافاتو سره تړاو ولري . خو علمي فکر دانه مني علم په واقعيتونو باندې باور کول دي ميتولوژي په تجربوي ژوند باور لري علمي ليد د نظر يو مجصول دی خو اسطوروی فکر تجربوي باورونو محصول دی . مثلا په اسطوره کې دا خبره د منلو وړ ده چې د زلزلې منځته رانګ د دې محصول دی چې ، دنيا د غوايي په ښکر ولاړه ده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کل چې غوايي سترې شي او دنيا په بل ښکر اخلي نو د دغې تبادلې په صورت کې زلزله منځته کيږي . يا (لمر او سپوږمي) نيول هم دداسې اسطوروي او علمي افکارو د رابطې په لړ کې توضيح غواړي لنډه دا چې اسطورې ، سمبوليک خصوصيت لري ، په هغو کې د چاپيره نړۍ په باب مفهومونه شخصيت پيدا کوي . اسطوروي فکر کوونکي خوشبين (Subject) او بد بين (Eject) وي .

## ۴- د خلکو هنرونه او فنون:

چې هنر د مينې نه لري نو هيڅ دی
بې هنر هلکان خوښ نه لري نجونه
او حتي خوشحال بابا خو له طالع څخه لوړ بولي
که طالع او هنر دواره سره کيږدي = زه خوشحال به پکې ونيسم هنر

هنر د انسان د فطري طبيعت ملګری دی د ژوند په تېريدو او بدلون ، خلک له بيلابيلو پيښنو سره مخ کيږي او بشر د خپل فطرت له مخې ځينو کارونو ته لاس ور اچوي او هغه تر سره کوي چې وروسته بيا د هنر او فن په توګه را منځته کيږي موږ به هنر او فن په کره او لنډه توګه معرفي کړو او بيا به د خلکو فنون او هنر ونه په ګوته کړو .

هنر او فن :

الف – آيا هنر او فن يو مفهوم لري ؟
ب – د هنر او فن ګډې (او بيلې پولې کومې دی ؟
۱- د هنر د انسانانو عقيدې ، اسطورې ، افسانې او شعاير او ...... رانغاړي .
هنر د ټولنيز شعور ستره او عالي برخه ده چې ښکلا نيز هويت ولري .
هنر او ووه ګونې برخې لري :
شعر ، مجسمه جوړونه ، خطاطي ، کاکې ، رسامي ، موسيقي معماري او .....
۲- د هنر او فن توپير او ورته والی : هنر انسان د ټولنيز شعور زيږنده ده ، د هنر د هرې برخې مواد يو له بله سره توپير لري چې د فن له مخې د فني خلکو له خو کارول کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بيلګی په ډول : شعري فن مواد ، الفاظ جوړوي همدارنګه د معمارۍ لپاره ( خټه يا مثاله ، خښتي او .... او همداسې د هنر نور ډولونه هم درواخله )
هنر . مواد له طبيعت څخه اخلي ، هنري مواد دشاعر

## د خلکو هنرونه د محتوا او شکل له مخې :

الف – د محتوي له پلوه دغه هنر رښتې (ريالسيتيک ) مواد لري په دغه هنر کې د عوامو غوښتنې په رښتني ډول انعکاس مومي په دا ډول هنر کې د خلکو د ژوند ساده ګې په عاطفي ډول انځوريږي . په فولکلوريک هنر کې خيال زوروو وي خو دامانا نه لري چې رښتني جنبه ونه لري ، بلکې په ساده ډول د هغو پوهنو خيالي انځور دی چې (د دوی ژوند پکې په رسا ډول انځوريږي)
مثلا : جمالو ، تاوړې داني کړی دی وړي وړي ...... (يعني جمالو کومه نجلۍ ده چې نوی پيغله شوی ، د نوموړۍ د نوې ځوانۍ ښکلا په ډير هنري ډول سره بيانوي) دا د عوامي هنر خصلت دی چې محتوا يې برخه يې ټوله له ريالستيکي خوږو ، عيني او خيالي غوښتنو څخه ډکه وي .

## د فولکلوري هنر ځانګړنې :

١- ولسي توب
٢- رښتنولي
٣- حماسيت
۴- لرغونوالي
۵- ساده ګي
۶- بديع توب ( نوی والۍ)

## ب – د شکل له پلوه :

فولکلوريک هنر د بڼې يا شکل له پلوه ډير ډولونه لري چې هره بڼه د ځانګړو محتوا وو بيان کوي ، د مثال په ډول :
لنډۍ . متل ، سروکي ببولاله او .... نور فورمونه ، هغه ځانګړې کالبونه دي چې ګڼي موضوعګاني رانغاړي . دغه کالبونه د پښتون ولس د طبيعت ځانګرنه راپه ګوتو کوي ، هر کالب د ولس د فطري طبيعت له مخې په طبيعي ډول طراحي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي هیڅ ډول مصنوعیت پکي نه ځائیږي ، یعنې دا چې (لنډۍ ډوله شعر) ته په مصنوعي ډول کوم مشخص شاعر کالب نه دی جوړ کړي ، بلکې دغه کالب په نا آګاهانه ، طبیعي او عاطفي ډول دیوې پښتنې یا پښتانه ولسي شاعر له خوا رامنځته شوی وي ، چې بیا وروسته یې واسي او عام مقبولیت حاصل کړی دی .

## ۵- د ولسي او فولکلوریک هنر ژانرونه :

فولکلوریک هنر ډیر لرغونې پخواني فورمونه لري چې غوره او مهمه یې ولسي سندرې دي . د فولکلوریک هنر فورمونه (ژانرونه) نومونه په لنډه توګه اخیستلای شو :

الف : ملي سندري :

مقام ۲- غزل ۳- ساندې ۴- کاکړۍ ۵- لنډۍ ( سورې) ۶- بابو لالې ۷- برغازی ۸- د مروتو کسرونو ۹- د هوتکو نارې ۱۰- لنډه کۍ ۱۱- انګي ( دسیال کاکړ فولکلوري سوغات) ۱۲- د کېسو غړونه ۱۳- د اتڼ نارې .

ب – تجربوي ، افسانوي او منل شوی فورمونه :

۱- افسانې ۲- کېسې ۳- نکلونه ۴- لرغونی تجربې ۵- متلونه ۶- پوهنې ۷- حکمتونه ۸- چستانونه ۹- روایتي کېسې او نکلونه ۱۰ فکاهي کېسې ۱۱- د ژویوکېسې ۱۲- د جادو ګري کېسې ۱۳- د ماجرالټونکو افسانې لنډه دا چې فولکلوریک هنر د فورم له پلوه په دې برخو ویشلای شو :

۱- منثور ادب او هنر (افسانې کېسې او نورو ....

۲- منظوم ادب د ولسي سندرې او نور ......

۳- منظوم وزمه ادب (متلونه ، منثوري کېسې او نور ...... ۸۱ – ۱۴)

۲- د خلکو فنون :

د خلکو د فنون د نوموړو خلکو د دودونو یو رنګین ځپرکی دی .

دغه فنون په لاندې برخو ویشل کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف : دودونه . چې وروسته به تر مستقل سر لیک لاندي مطالعه شي .
ب – مهارتونه :
دغه مهارتونه په مادي او معنوي برخو کې تر سارگو کيږي .
لکه :
ادبیاتو (نظم او نثر) پو (طب ، ( مارلړم ، غنډل د بوتو کارول ، نجوم او ......)
دود انيو او کورونو په باب عقيدې ، د ور سامان ، د جگړې ، ښکار او لوکولو ابراز ، د خلکو کسبونو ، نقاشي ، رسامي . موسيقي ، اتڼ ، ډهل ، اشرونو او نورو مهارتونو پوري اړونديږي ولسونو د لرغونو دودونو او پرله پسې تجربو محصول وي ، د مثال په ډول ، که د بزگرى کولو لپاره توکي په نظر کې ونيسو ، نو درلودلو سره را منځنه شوي دي او له مهارت وروسته يي فني بڼه غوره کړي ده ،يعني د يوي کولو يا بزگرۍ فن د مغو پرله پسې تجربو محصول دى چې د خلکو د مهارت او تمرين په لړ کې شکل او بڼه موندلي وي .



شکل(۱۳)
دغه انځور د خلکو د فولکلورى فونونو او لوبو(نيزه وهلو) يوه برخه ده .
(گل محمد نوري، ملي لوبې :

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- دودونه (Customs) :

دودونه د خلکو د مهارتونه ؤ مناسباتو او اړیکو هغه پر له پسې دوامداره فطري ، فني ا غير فني کړنې او بآورونه دی چې له لرغونو زمانو ور پاتې وي يا دودونه ، د خلکو هغه کړنې دی چې د پيړو يو په اوږدو کې يې هويت موندلئ وي .
پښتو – پښتو تشريحي قاموس کې راغلی دي . (رسم ، رواج ، دستور ، عنعنه ، تړه ، هڅوب ، کلتور ، کلچر ، ثقافت او فرهنګ ته ويل کيږي ) (دود ) مفرد او (دودونه) يې جمع ده . دودونه د خلکو له عنعنو څخه عبارت دي چې دوختونو په تار پيل شوي وي . دود رسم او رواج به مفهوم کاريږي (دود او عنعنه د کلتور يو پراخه توک دی او په اصطلاح کې د خلکو د کړنو (چلن بيلګو) هغې مجموعې ته ويل کيږي چې په عنعنوي بڼه له يوه نسل څخه بل نسل ته انتقاليږي) دود د کلتور يوه برخه ده ، خو کلتور يو دود نه دی له همدې امله :
(دود د کړنو (چلن) هغه ټاکلی او ثابت قواعد دي چې د زمانې په اوږدو کې را منځته شوي وي او په يوه يا بله سيمه کې د خلکو د ژوند لارې چارې تنظيموي (لکه د ميلمه پالنې ، واده ، اخترونو او داسې نور دودونه) بايد ووايو چې په دود کې د ټولنيز فعاليت هغه اړخونه (جنبې) نه ګڼل کيږي چې د بيولوژيکي عواملو په واسطه ټاکل شوي وي .
لکه :
خواړه (خوړل) دودنه دی خور وريجو مختلف پخول يو دود دی .
د پښتنو دودونو ډولونه :
دغه دودونه ډير دي چې له لرغونو زمانو را په دې خوا ددوی له ژوند سره تړاو لري هر کلی قوم او سيمه جلا جلا سره ګډ دودونه لري ، ځينې به يې دلته راوړو .

۱- دواده ، موي او ورځو نومونه اودودونه .
۲- د پسول يا ګاڼو کارولو دودونه .
۳- پريکړې او نرخونه .
۴- برخه ، د جنګ پ وخت کې ځينې اصطلاحګانو د کارونې دود .
۵- لوبې (مستۍ)
۶- د لوبو په وخت کې اصطلاحګانې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- دماشومانو تر منځ مروج دودونه یا فولکلور .
۸- میلمه پالنه .
۹- د خلکو تجربې (طب ، ټوټکې ، انګیرنې ، کرکې او کږنې ......

## دواده او مراسم :

کله چې د چا زوی ځوان شي تو دواده فکر یې کوي اویوه نجلۍ او بلۍ تر سترګو لاندې کوي ، نو لومړۍ غلی ګوري .

۱- نجلۍ لیدل یا کتل :

نجلۍ خوښونه هغه مرحله ده چې په کلیو او اطرافونو کې د زوی لپاره د مور او یا خویند وله خوا د یوه کور نجلۍ په نښه کیږي ، لومړی سپین سرې او مشرانې ښځې د نجلۍ کورته ورځي ، هڅه کې نجلۍ وګوري ، نجلۍ ځان پټوي خو د هلک خپلوانې ښځې نجلۍ ګوري ، غړه وي یې ، لاس پښې ، مخ و ویښتان و قدو قواه او ټول کړه وړه یې ګوري که چیرې نجلۍ د څیر ې او کړو وړو له مخې خوښه شوه ، تو کورته دغه خبرې وړې له هلک سره هم دات خبرې شریکوي ، کله د هلک له خوا خوښه ور کول کیږي او کله خو هلک د خوښو صلاحیت هم نه لري .

۲- روی باري (جرګه ګۍ)

د نارینه و هغه ډله چې دورځې له خوا د هلک له کوره د خوښې کړای شوې نجلۍ کورته ورځي . نن نو د نجلۍ پهخ کور کې زنګون وخل کیږي او د هلک کورنۍ او دوستان د نجلۍ له کور سره د دوستۍ پیدا کولو لپاره بیابیا دو دوستۍ موضوع یدوي کېداي شي له دوه ، درې او وارنو وروسته د نجلۍ له خوا د هلک د کورنۍ خو له خوړه شي او یارد شي . که جیرې شیریني ور کړ شوه نو داد (هو کړې) لومړنۍ مرحله ده چې د دوو کورنیو تر منځ د خپلوۍ د مانۍ بنسټ ږدي .

۳- هوکې ( هوکړې) دود :

د نجلۍ د کورنۍ له خوا د رضایت لومړنۍ ګامونه اخیستل دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوکړه : (د پښتنو له دودونه څخه یو هم د هوکې دود دی . د هوکې دود په ډیره درناوي اداکیږي او ډیرې د خوښی ورځې دي ، دا ځکه چې لومړی پلا د لور د پلار دوستي سره کیږي په دغه نسبت د هوکې دود او باید په ښه توګه پای ته ورسوي ، لومړنی د زوم پلار له ورسره څو کسانو او د کلي ملا صاحب دهغه بل کلي د لور د پلار کره ورشي ، وروسته له چاي خوړ لو د زوم پلار د لور پلارته وو ایي چې (خور او لو د بل د کور دي نو موږ تاته راغلي یو ، ستا دوستی مو خوښه ده ) بیا د ولور او یا نورو خوراکی شیانو پوښتنه د هلک د کورنی له خوا کیږي خو د نجلی پلار وایي چې زموږ په کورنی یا قوم کې د ولور یا نورو شیانو دود نشته ، دا په تاسو پورې اړه لري چې څه کوي ؟

باید وویل شي چې دو لور دود په مرکزي یا شمال شرقي پښتنو کې دومره نشته ، خو په ځینو مرکزي او جنوبي سیمو کې داسې نه ده ، د چا خبره ځینو سیمو کې د ولور بار دومره دروند دی چې ملا ماتونکی دی ) او ځوانان مجبور دي ان له هیواد بهر هیوادونو ته دمزدوری او یا هیواد کې د خپل مالل ، کور او پټیې پلور لو ته هم غاړه کیږدي .

| | | |
|---|---|---|
| چې وکړي په پیسو | | بیا ژوندوي د مزو |
| د سیالې کول سخت وي | | د کم اصلې ډیر آسان |
| چې ښکلې یې بشر وي | | د هغو به ډیر و لور وي ... |

دا او داسې نور د لیلونه د (ولور) د اخیستلو لپاره وایي :

۴- کوچنی د سمال :

(هوکې) یا (هوکړه) د کوچنی د سمال په مانا ده کوچنی د سمال د چا خبره هم شیریني ده چې په یو ظرف کې د لور د کور له خوا د هلک د کورنی مخ کې ایښودل کیږي لړ شیریني د (هو) په نامه ورکول کیږي او د هلک د کورنی له خاو په نو موړي لوښي (ظرف) کې پیسې کیښودل کیږي ښځې دار یاګانې را اخلي او بدلې وایي .

نارینه چې کله د نجلی له کوره وځي ، ټکان کوي پخوا چریې ، دانېر (داروئي) یا تفانچې وي ، خو اوس او س ډیر نوي نوي ډول ټوپک پیدا شوی دی مګر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښارونو کې بيا د ډزو دود کم شوی يا نشته کوچنی دستمال د شيريني ورکول دي .

**۵- لوی دسمال :**

لوی دسمال هغه مرحله ده چې پښه ارته (کوژده) هم ورته وايي .
په اوسنۍ اصطلاح شيريني خوري کيږي د هلک او نجلۍ کورنۍ سره راشه او درشه کوي او هلک له خپلې کورنۍ سره د نجلۍ له کوره سره معرفي کيږي . په ډيرو پښتنو سيمو کې هلک تر واده کولو پورې د خسر کورته نشي تلای او که ورځي نو دور ځې له خوا ...
د لوی دسمال په برخه کې بدلې :
لوی دسمال ده لوی يې سور دی
د پلار په سر کې راوړ د کاکا پر اوږو خپور دی ځينې خلک ژر واده کوي او ځينې يې په ځنډ کوي ک کوم اختر په منځ کې راغی نو به هر ومرو نجلۍ ته جوړه وړ وړل کيږي کله چې دواده تياری کيږي نو د هلک کورنۍ د ناوې کورنۍ ته د پريکون ) لپاره ورځي.

**۶- پريکون :**

هغه مرحله ده چې د هلک لوری د نجلۍ کورته راځي او ورته وايي چې واده راکړئ که موافقې ته سره ورسيدل نو دواړه خواوې ځان دواده کولو لپاره چمتو کوي . دغه وخت دواړه کورنۍ خپل شرايطو وړاندې کوي که مخکې د لوی د سمال په وخت کې (دلور) معلوم شوی وي لومړۍ هغه د هلک کورنۍ پريکوی او بيا د نور لګښت اندازه هم معلوموي لنډه دا چې پريکون د ناوې د کورنۍ له خوا هغه مشخص وضع شوي شرايط دي چې د هلک کورنۍ به يې مني او د هلک د کورنۍ له خوا هغه موده (وخت) دی چې واده به باوري

**۷- ختې (خلتي) :**

هغه جامې دي چې په مجموعي ډول د ناوې کورته راوړل کيږي خو په وردګو کې ، ختونه (خلتې) (پوښ) هم ويل کيږي ( داهغه جامې دي چې د نجلۍ کورنۍ) د خلک په کورنۍ ايښودل کيږي په واده کې راوړل کيږي او د نجلۍ خپلو خپلو انو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ورکول کيږي ) (او رنګ مختار) په همدغه ورځ دواده د شپو او ورځو خرڅ راوړل کيږي د هلک او نجلۍ کورنۍ خپلو دوستانو ته خبر ورکوي او نايي (ډم) په قوم او خلکو ګرځي او سبا يې (توی) ته راغواړي .

۸- د نکروزو شپه :

دغې شپې ته د (دوستانو) خويش خورګۍ) شپه هم وايي . له نږدې او لرې ځايونو نږدې دوستان کورو کلی راغونډيږي له خوړو وروسته (سل او ساز) په دواړه کورنيو کې پيليږي ، د ناوې خور لندې راټوليږي د ناوې لاسونه او پښې سرې کوي . لاسونه په ځانګړو د سمالونه سره تړل کيږي ، دا شپه له ناوې سره ډيرې نورې نجونې هم لاسونه سره کوي ، د کېڼ لاس ورغوئ او وړه ګوته . په دغه شپه د هلک د کورنۍ د مشر يا ماما له خوا هم سره کيږي . په دې ډول ددې شپې مراسم تر سره کيږي .

۹- ولسي واده (توی) :

دغه ورځ توی د ورځې په نامه هم ياديږي ، د غرمې لپاره د ناوې او هلک کونيو له خوا واده باريږي په ځينو سيمو کې ښوروا په ډيرو ځايونو کې وريبجې پخول کيږي پخوا به نرمي وريبجې يا شوله چې مساله به يې هم در لوده له پخيده ، خو اوس نرې وريبجې باريږي کيدای شي هر څوک له خپل وس سره دواده مصرف وکړي مګر ولسي تړه ديره مهمه ده .

له ډوډۍ هوړ لو وروسته دواړه خوا د نورو (ناوېراوړلو او ناوې جوړ ولو مراسمو ته تياری نيسي .

۱۰- وراوې :

(وړا) د هغو ښځو او سړيو مجموعه ده چې د ناوې د کور په لور ورځي :

الف – د ښځو ورا .

ب – د نارينه و ورا .

د ښځو ورا :

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د هلک او نجلۍ کورونه سره نږدې وي نو د ښځو ورا په پښو ورځي او کند نو په اسونو او اوس په موټرو کې ورځي . ښځې په ډله روانېږي ښځې اتڼ کوي ، بدلې وايي او چې کله د ناوې کورته ورسيږي نو ددواړه خواو و ښځې را ټولېږي او ختې د هلک د مور ، خور او يا بلې ښځې له خوا ورښوول کيږي ښځې اتڼ کوي او ږغونه :

د ښځو د ساړه اتڼ ږغونه :

| | | |
|---|---|---|
| اسپه يم بهانه<br>په برخه د موزۍ يم<br>ګرد کميس پر ګده پيغله جوړ دی<br>که نه سوه برابره<br>تور دلی مې مزی د ګريوان دی | | تاويز مې د سرو زرو دی په غاړه<br>د موزي پر آخو اتل وچه ولاړه<br>ټوله شپه ياي کړې<br>بيا غاړه غزوه لکه کوتره<br>بل چاته به يې ورنه کړم |

که زانې راغلی شنې کوترې
که باغو راغلې زانې ، زانې له اوبو راغلې ....
شاهوا خواری ميندلی په ارمان دی
د ښځو د څو اتڼ غږونه :

کوزدې هميشه په څوړ منې کې وي ، د بيکارۍ وختونه وي ، ښځې تولې را ټولېږي او داسې غږونه کوي :

نن چې د ګلو باران سوی دی
زانې له اوبو راغلې زانې

او په دې ډول نارينه نڅا او اتڼ کوي ، د ناوې کورو ته رسيږي د ناوې کورنۍ په يو لوي ميدانی (باغچه) کې د شاه او د ده بدر ګه خلکو لپاره ځای جوړه کړې وي ، شاه په ډيره سختۍ له آس څخه کوزيږي د خسر له خوا بايد کور ، کوټه يا بل قيمتي شی ومنل شي ، وروسته له هغه کوزيږي او په مخصوص ځای کې کېنـي د شاه دواړو خو اوو ته شاه بالاګان وي چې د چا خبره د هغه (شاه) محافظين وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱- ناوې کره د زوم ورتلل :
کله چې نڅاوې او اتڼونه ، نيزه ويشتل ، بزکشي او نور مراسم پای ته ورسيږي نو شاه د خسر کورنۍ او ناوې د درنښت لپاره د هغوي کورته ورځي د شاه خور ګانې يا د مورنۍ نورې برابرې نجونې د هلک شاه او خوا دريږي او د شاه ساتنه کوي چې د ناوې د کورنۍ نجونې يې د بوټو غلا ونه کړي او يا څه ور پورې ونه تړي که نکاح نه وي تړل شوی نکاح او ايجاب قبول کيږي ، شاهدان د ملا تر مخې شاهدي ورکوي او کېدای شي نکاح مخکې او يا دواده په شپه هم وتړل شي .

۱۲- که چيرې د ناوې خوا نجونې پدې بريالۍ شوي چې د زوم بوټونه او يا نور څه پټ کړي نو په بدل کې به يې هرو مرو پيسې ترې اخلي ، د شاه د ډلې هلکان هم هڅه کوي د ناوې د کور ځينې شيان د تبرک لپاره له ځانه سره يوسي .

۱۳- د ناوې بارول :
د ناوې د مشر ورور له خوا په دسمال کې ډوډۍ يا روټ را اخيستل کيږي او د ناوې تر ملا ورتړل کيږي . له دې وروسته (اووه) پنځه ، درې يا دوه ښځې دراپانې په توګه له ناوې سره ځي ، ناوې چې کله دشاه کورته رسيږي نو له آس يا مورته څخه تر هغو نه ښکته کيږي څو د شاه پلار يا يو مشر له خوا ورته جلا کور يا په کور کې يوه کوټه ورنه کړل شي . وروسته له هغه ناوې ښکته کيږي او تر ملا نولې ډوډۍ د ناوې دورور له خاو د جوړ شوي تخت تر سر ترې خلاصيږي له وي څه خوراک وروسته له ناوې سره راغلې ښځې او سړي خپل کورته ځي (دا د روزي وروړل او يا د ناوې د نيکمرغه قدم ما نا لري )

۱۴- شاه سلامي :
په سبا باندې شاه له (۷) تنو سره د خسر کورته د درنښت لپاره ورځي او د ناوې کور هم خپلې لور ته ډوډۍ راوړي چې ورته تبخي وايي .

۱۵- تخت جمعي يا (روز سه) :

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا په اوومه ورځ د ناوې پر یو لل او یا جله ګریز . مراسم هم شته هو دا په پښتو کې نشته او د فارسي ژبو د کلتور د ااغیزو په نتیجه کې څه نا څه شته .

(اونګ مختار)

ب – د لومړۍ خښولو ،فاتحې ، دعا ، جمعګۍ ځلویښتي او تلین دود . که څه هم د مړي خښول ټول په اسلامي شرعي طریقه تر سره کیږي ، خو دود یزه طریقه هم پکې له یاده نشو ویستلای .

د مړي خښول :

د خلکو خبرخ کله چې په چا مړی وشي ، نو ورځ وي او که شپه ، سمدلاسه د کورنۍ اولادونه ، خپلوا ، آشنایان او دوستات خبر او راټول شي ، ژړا او انګو لاوې پیل شي . د هر مړی لپاره دودونه ، تیاری او دهغه پر سر ژړا او فریادونه توپیر لري لکه دلویانو (نارینه او ښځو او ماشومانو ......

۱- د لویانو مرګ او مړینه :

که د کورنۍ پلار یا مور مړه شي نو غم یې له ټولو زورو وي ، دا ځکه جې ټوله کورنۍ وربانديې را ټوله وي . ځینې نارینه او ان ښځینه مشران شته چې ټول قوم یې په مړینه خپګان ښکاره کوي . که څوک مخکې له مخکې ناروغ وي ، نو تکفین او د خیرات لوازم یې له مخکې برابر شوي وي ، سمدلاسه د کلي مشران په یوه خو له د خښولو او جنازې وخت ټاکې .

د قبر ویستل :

د کلي یا قوم څو تنه ځوانان یا با تجربه سپین ږیرې د قبل د کېندلو لپاره یو مان (بیلونه) او کلنګونه (کلندونه) را اخلي او په بیړه هدیرې ته ورځي ، کله چې قبر برابر شه ، نو کلي ته خبرو ورکوي . مولوي صاحب له نورو مشرانو سره مړی پورته کوي او اوه قدمه اخلي او بیا نور ورسره مرسته کوي . د مړي له خوا خښولو وروسته په ځینو ځایونو کې د قبر پر سر حلواویشل کیږي او ځیني نور یې ماښام د (غړي) په توګه ویشي . د قرانکریم ختم او د فاتحې مراسم په دریمه ورځ تر سره کیږي .

خیرات کول :

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې پښتانه قومونه شته چې په خپل منځ کې جلا جلا ترې لري . ځينې ځايونو کې د مړي کورنۍ له اولې ورځې بيا تر درېمي پورې هيڅ شي نه شي پخولای ، ټول کلي د ميلمنو ، مسافرو خرڅ ، خيرات او هر څه په غاړه لري ، خو ډير ځله په مختلفو سيمو کې له خپله د مړي د کورنۍ خپل باج په غاړه لري . خيرات ډير ځله په دريمه ورځ تر سره کيږي نايي يا هلکان خپل قوم او يا څو کلوته خير ورکوي و هغوي ښځې او نر ، ماشومان او لويان راځي ، ډوډۍ خوري دعا کوي او پورته کيږي .

اُووه جمعې :

جمګې ورته وايي که مړی ښځه وي ، نو پلارګنۍ يې هم ختم و خيرات کوي او با يوه جمعه ور پسې خيرات کوي . څلويښتي : له (اووه) جمعه ګيور وروسته د (څلويښتۍ) مراسم وي دغه وخت بيالوي خيرات کيږي ټول قوم او کلی خبريږي او ډوډۍ له دود سره سمه ورکول کيږي د خيرات په مراسمو کې ټول خلک په يو ډول برخه اخلي . تلين (کال) : د مړی له کال پوره کېد و وروسته دهغه تلين نيول کيږي تلين له يو کال وروسته په مړی پسې د لوی خيرات مراسم دی او له تلين وروسته کله نا کله (غړی) ورکلو کيږي چې (جاري صدقه) يا (صدقې جاري) هم ورته ويلای شي . يادونه : د ښځو او نرانو دود توپير لري ، کله چې نارينه مړشي (۷ جای نمازونه ، ۷ کلام الله (ج) مجيدونه او کله نا کله دمړي کالي خلکو ته ورکوي خو د مړي کالي چې کله په تخته بآسي نو ژر يې په پخوا او بو مينځي څو د مړي ډوډۍ پخې شي خو د ښځو لپاره (اووه قرانکريمونه ، جای نمازنه ، ۷ پوړي ستنې ، ۷ ګوتمۍ ، اوه کلچې صابون ، ۷ ائينې ، ۷ ګوتکه تارونه ، ۷ ګومنځې ) او .... هرې ښځې چې مړی پر يولی وي هماغه يې تقسيموي . په اوومه ورځ يا ډير ځله په پښتو کې د مړي ښځو خور ، لور ، مندې او ... د مړي کالي مستحقو ته ورکوي او ان پياله ، کاسه ، تورو شين چای او نور شيان سره ويشي .

۷- داونۍ دور خو دوديز نومونه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ولس ځانته ژبه لري او په هر ه ژبه کې د هر چا او د هرې ورځ لپاره بېل نوم شته دغه نومونه د ژوند په دوامدار بهير کې د تجربوي حال او صورت په له مخې ټاکل کيږي .

د پښتنو ژبې اونۍ دور ځو نومونه تر ټولو غوره او ښکلي دي او هر نوم د ځانګړو تربوي درکونو لهمخې ايښودل شوی دی ، له همدې املې هر نوم ، هر ه کلمه د ولس د تجربو پ بتيو کې پوخ شوی وي له همدې امله هر نوم جلا مانا هم لري د نوم ايښودلو نيته دقيقه څرګنده نه وي . اوس به داونۍ د ټولو ورځو نومونه راوړو :

الف – خالي (شنبه) Saturday :

دغې ورځې ته ځکه خالي وايي چې خلکو يوه ورځ کې عبادت کړی وي ، ورځ يې په هو سايي او ارامۍ اړولې وي ، روح يې ارامي موندلې وي او ذهن يې ارامتيا تر لاسه کړی وي ، د دغې ورځې ځانګړنې :

۱- خالي (شنبه) له ټولو ستونزو و څخه پاکه وي .

۲- که څوک د هر کار د کولو هوډ کوي په پوره ډاډه زړه يې تر سره کوي .

۳- دغه ورځ په پوره خوشالۍ بايد تيره شي .

۴- له ښوا خلکو سره خبرې او مجلس د نورو ورځو د ښيګڼې زيری ورکوي .

۵- د خير کار کول د دې ورځې ښکلا لاړياتوي .

ب – اتوار (يکشنبه) Sunday :

د کوزې پښتو نخوا د پښتنو له خولې (له هفته واره جوړ شوی دی ، مانا يې داده چې د ټولې اونۍ د ټولو په پام کې نيول شويو کارونو پوره معلومات لري او ځينې لاوايي چې په اونۍ کې شوي کارونه بيا تکرار شي ) ځانګرنې :

۱- ډير کار کول

۲- بيابيا تکرارول .

۳- نيکي کول

۴- د ټولې اونۍ د کارونو وړاندوينه او بيا له سره کول .

ج- ګل (دوشنبه) Monday :

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې لپاره دغې ورځې ته پښتانه (ګل) وايي چې حضرت محمد (ص) په دغه ورځ پيدا شوي دی ، ځکه نو دغه ورځ له ګل سره ورته (تشبه) شوې ده .
اصطلاحا (ګل کول) سر را پورته کول ، د غوټۍ غوړېدل دی ، په دغه ورځ .
۱- روژه نيول ثواب لري .
۲- تقوا او ډېر کار کول .
۳- له قهر ، غوصې او تولو نارو اوو څخه ځان ژغورل .

د- نهه (سه شنبه Tuesday) :
ددې لپاره دغې ورځې ته نهې (مانع) وايي چې ستونوز من کار تر سره نه شي ، کېدای شي په کار کې خنډا را منځته شي ځانګړنې .
۱- په هر کار کې له خدا را منځته شي ، ځانګړنې :
۲- د ناوړه او سخت کار نه کول .

و- شرو (چهار شنبه Wednesday ) :
د دې لپاره يې شرو بولي که کوم سخت کار چا پيل کړ ، نو هر ومرو يې سر ته ورسوي پدې ورځ .
۱- سفر به نه کوي ، ځکه سختي ورپيښيږي .
۲- د کار په کولو کې په فکر کوي .
۳- له خدايه مرسته غوښتل .
۴- داونۍ د مخکې کارو پای ته رسول .

هـ - زيارت (پنجشنبه Thursday ) :
پښتانه پدې ورځ زيارتونو ته ځې آن هغه مالونه چې (شاشه بند) وي هم غونډکۍ او هديرو ته بيايي او له شهيد څخه يې (۷) واره راتاووي ځانګړنې .
۱- خلک خيراتونه ورکوي .
۲- بدي نه کوي .
۳- د دوستانو احوال اخلي
۴- د روژې نيول په دغه ورځ ثواب لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



آدينه (جمعه) Friday :

دغه ورځ ډيره سپيڅلې ده ، نه يوازې په پښتنو ، بلکې په ټوله اسلامي نړۍ کې دغه ورځ خوشحال بابا په خپل شعر کې د ادينه په نوم کارولي ده .

خو له خوشحاله مخکې امام محمد غزالي (رح) په پنځمه پيړۍ کې هم کارولې ، ادينه ، د لرغونۍ په نامه يادېږي ، ځانگړنې :

۱- ډير عبادت کول .
۲- له خدايه (ج) ښه غوښتل .
۳- ښه کارونه کول .
۴- پاکې جامې اغوستل .
۵- ځان ولل .
۶- ښه خوراک کول .
۷- استراحت کول .
۸ – دوستانو سره کېښنا ستل .......

د بازار ورځ ، چې خلک له ډيرو ليرې ځايونو او کليو ورته راځي ، مالونه پلوري او د اړتيا و وړ مواد پيري ، د بل مخ انځور د بغلان ولايت د زاړه ښاربيان راکوي .



شکل(۱۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خرافات او اباطيل (ناوړه دودونه )

دغه دودونه د عوامو په اصطلاح د (هم چشمی) (منفي رقابت) په نتيجه کې قوت پيدا کوي ،. نه يوائې اقتصادي زيانونه لري ، بلکې ګډې ، ماتي او ژوبلي هم په کې را منځته کيږي . ملاماتونکې دودونه دي ، دغه ناوړه دودونه له فرد نه نيولي بيا تر ټولني پورې بدې اقتصادي او اجتماعي اغيزې ښندي . خرافات د افراط او تفريط په تله ، د فرد او ټولني د کرکتر تلل دي ، ملاتونکي بارونه او باجونه دي چې د ټولني د انسانانو په روحيه ناوړه اغيزې پرې باسي ، هغه وخت دغه دودونه قوت مومي چې د ټولني د خلکو معنوي قوتونه کمزوري شي ، يعني د خلکوتر منځ درانه مروج نرخونه مراعات تشي ، خدای مه کړه د ديني سپيځلتيا وو پر وړاندې بي پروايي وشي . هغه دودنه چې د خلکو د تجربو په بهير کې کامياب راوتلي وي ښه ، او نورو يي خرافي او اضافي شيان ګڼل کيږي ، لکه کوډې (جادو) ، شګون نيول او اخترونو او نوروز کې د زياتو کليو او جوړو اخيستل . په پښتني ژوند کې خرافات شت ، هو ډېر عام نه دي لکه د (ولور) ناوړه او ملاماتونکی دود ، يا واړه ماشوم ته دکونډي کينول .... چې په ځينو سيمو او لږکيو قومونو کې مروج وو او اوس هم شته ، دواده کولو بدبختنه باج لااوس په ټولو پښتنو کې په خرافي ، ناوړه او ملاماتونکي توګه ميدان ته راوتلي وي .

د خرافي دودونو در امنځته کېدو لاملونه :

دغه علتونه خورا زيات دي چې موږ به يي لنډ وګڼو :

١- له لرغونو زمانو را غزيدلی ناوړه عرف (دود) :

عرف په راتلونکو نسلونو ديو ډول رواني باج په شان بار وي ، يعني له پلرو او نيکو نو خپلو اولادونو ته پاتې شوي وي . وايي چې (مخکې دوروستيو پل وي ) دا ډولا ناوړه دودونه ملاماتونکي هم دي ، مګر له نيکه مرغه په ټولو پښتنو کې عموميت نه لري ، لکه (دکونډې ساتل او ماشوم ته د هغې کينول) ځينې خلک وايي ږ ( د پښتانه کونډه بايد د خسر کره کيني يا کونډه تون وکړي او يا د فلاني ماشوم (ليوره) تر ځلمي کېدو صبر وکړي) دغه ناوړه خرافي دود اوس هم ژوندي دی دا هغه دود دی چې ځينې پښتانه يې د خپل ننګ د پوره کولو لپاره لاتر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسه پالي د خلکو له پيغور ځان ور باندې ژغوري . يا ډير ځله ليدل شوي ، خوينديې او لور ګانې ، ددې لپاره وهل او وژل کيږي چې د هغوي يو هلک خوښيږي ، هلک هم مړ کيږي اويا په دوامداره د ښمنۍ کې سره لويږي .

۲- بېسوادي او له تعليم څخه لرې والی :
ځينې کورنې له سواده محرومې وي ، دوی نشي کولای د ژوند له نوي بهير سره هم ګامې شي ، په خپله ابتکار نه لري ، هغه څه چې په دوديزه توګه له پخوا (پلرو او نيکونو) ورته پاتې وي (که ښه وي او يا بد) دوی يې پالي ، د بيلګې په توګه :
په زوی يا لور ، تحصيل نه کول دغه روحيه له بده مرغه په ځينو کورنيو کې تر اوسه موجوده ده چې په ولادونو ابتدايي او لوړې زده کړې نه کوي ، نو له دې امله دا ډول ذهنيت د لرغونو ناوړه دودونو د پاللو لارې جارې هم برابر وي د بېسوادۍ او نا پوهۍ شته والی دی چې تر اسوه په ځينو کورنيو کې ( د ماشومو نجونو کوژده کولو) دود هم ژوندی دی . ديوه قوم يا دوه کورنيو دوه مشران يا مشرانې چې سره خپلوي ، دوستي او يا قومي لري ، د خپلو کورنيو (ماشومه نجلۍ او ماشوم هلک ) سره نامزاده وي او چې کله ځوانان شي نو بيا واده کوي دغه ډول ودونه هميشه ناکامه وي . بل مثال يې دادی چې خپل زوی او يا لور په خپلو کې ورکوي دغه کار او ناوړه دود له مرکزي پښتنو نيولي بيا تر لويو قومونو پورې ريښې لري .
۳- په ټولنه کې د ناوړه اقتصادي حالت دوام او د سياسي ثبات نشتوالی .
کله چې د يوې کورنۍ او يا په مجموعي ډول د کورنيو او ان هيواد په کچه اقتصادي حالت کمزوری وي ، نو دودنه هم (افراطي او يا تفريطي ) (لوړه او ژوره) بڼه پيدا کوي .
هغه چاچې په ناوړه توګه پيسې پيدا کړې وي ، هغوی په ډېر شان و شوکت سره واده کوي ، خپل مړي ښخوي او دغه کار په نور کم اقتصاده کورنيو ناوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغیزې کوي ، ښه مثال يې زموږ په ټولنه کې له (۱۳۶۰ هـ ل کلونو بيا تر ۱۳۸۶ کلونو دوده ده .

۴- د نورو خلکو د کلتور تر تاوره اغیزې لاندې راتلل .

دغه عامل هم ډېر زورور دی ، کلتورونه چې د امتزاج او يو ځای والي په نيتجه کې يو پر بل اغیزې پرې باسي . له بده مرغه د پښتنو کلتور هم د دغو اړيکو په پايله کې بدلون موندلی دی لکه :

۱- سالګره (کليزه) چې د لويد يځوا اغيزونه په لړ کې اوس زموږ په ځينو کورنيو کې مروجه شوې ده .

۲- تخت جمي يا ګيلم جمي . دغه ښځينه خرافي دودو په پښتنو کې هيڅ نه وخو اوس اوس ډير مروج شوی دی .

۳- په هوټل کې واده کول . چې ډير ځله ښاري دود دی خو اوس کليو ته هم غزيدلی دی . دغه دود هم ښه او هم بد دی ددې لپاره چې ډير لګښت په کې کيږي ناروا دود دی .

۴- اينه مصاف ، چې ښځه او نر دواده په وروستيو شپبو کې د هنداري تر مخ او د خلکو په مينځ کې په نازو نخرو جوړ شوی کيک يو بل ته خوله کې ورکوي .

۵- ماه عسل ته تلل او يا د دغو ورځو درناوی کيدای شي نور ډېر دغسې دودونه وي چې اباطيل ګڼل کيږي ، خو هر څه نسبي ښه لري .

آن دغه ناوړه دودونه د خلکو عقيدوي حريم ته هم ننوالي دي ، لکه د زيارت د خاورې خوړل او ....

۵- جغرافياوی خدود هم د دودونو په بدلون کې رولري .

د وروستيو مهاجرتونو لړۍ هم د خلکو د کلتور او دودنو په بدلون کې مثبتې او منفي اغيزې درودلي دي . هغه پښتانه چې په مرکزي سيمو کې اوسي ، ددوی په مينځ کې د قوميت لړۍ کمزورې شوې ده . ځکه دوی له نورو غير پښتني دودونو سره مخ دي ، د بيلګې په ډول د کابل ، بغلان ، بلخ ، هرات ، فراه ، لوګر او ننګرهار پښتانه په يو ځانګړي جغرافيوي موقعيت کې راګير دي ، دوی شپه او ورځ له نور عير پښتني قومونواو خلکو سره په ډيرو ټولنزو کارونو کې يو ځاي وي ، د دوی ژبه ، دود او .... د تماس په نتيجه کې بدلون موندلی دی . ان اقليم او خوراکي شيان د خلکو په څيرو او خويونو يو ډول اغيز لر لای شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میدان په جلریز کې د پښتنو او غیر پښتنو پر قبر له څلو پښتني وروسته د ښځو ورتګ ، غیر پښتني دود دی . د موي کورنۍ او دوستاني ښځي سره راټولېږي ، حلوا کوي ، میوه اخلي او د قبر پر سر یې ویشي ، یا (چله ګرېز) دا او داسې نور په لسګونو مثالونه شته چې چاپېریال او جغرافیاوي محیط او کولتوري اغیزو په نتیجه کې زموږ د کلتور په پراخه ورشو کې کور به شوي دي او زموږ د خلکو په ټولنیزو اړیکو او اقتصادي حالت یې ناوړه اغیزه پرې و پستلي ده .

شکل

۱۴- دغه انځور د هلکانو کلیوالي لوبو او خپل منځي مننۍ یوه بېلګه ده .
(ملګری غلجي غلام محي الدین پښتني ملي اتڼونه او نڅاوې : ۱۷ مخ)

لوبې : Lobe

لوبې او لوبه ښه دود دی . لوبې د ماشومانو د فکري ودې او فزیکي پیاوړتیا عامل کېږي ، لوبه د هر ماشوم د طبیعت فطري برخه ده ، ځکه فولکلور د دغو توکو رنګینه بوغچې ګڼل کېږي . یو وخت د المان جمهور رییس مارشال (هند نبرګ) ویلي وو : (په هغه هیواد او ملت کې چې سپورت او ورزش (لوبې) وي ، ټول کولای شي چې د اړتیا په وخت کې عسکر شي او خپله پاکه خاوره وساتي ) لوبې روغتیا ده ، درواني حالت پیاوړي کول دي ، د شخصیت نښه ده ،د ښه شهرت لامل ګرځي ، د شهواني سر کښه غریزې مغلوبول دي ، د ماشومانو ، ځلمیانو ، ځوانانو ، پخوا ، سپین ږیرو ، زړو . بوډاګانو او بالاخره د ټولو خلکو او ټولو انسانانو ترمینځ دمینې ، یووالي . سرلوړۍ . و یاړ هغه مضبوطه کړۍ ده چې خلک او ملتونه سره یو ځای کوي . اوس اوس دغه د ځوانانو او خلکو د مشهورولو او غني کېدلو یوه وسیله هم ده په اروپایي ، امریکایي ، اسیایي او نورو و چو کې سپورتونو او لوبو د خلکو د نږدیوالي او پیوستون لارې چارې برابرې کړي دي کله نا کله دغه لوبې منفي لوری هم پیدا کوي ، لکه په ځینو قومونو او هیواد و کې د نورو د مسخره کولو او مغلوبولو لپاره لوبې تر سره کېږي په اولمپیا کې د فوټبال لوبې په زړه پورې دي او د کیک بوکس لوبې ناوړه اغیزې لري . په پښتنو سیمو او پښتنو خلکو کې دغه لوبې طبیعي بڼه لري او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکو احساساتو پایله ګڼل کیږي . هغه ماشوم ، ځلمی او ځوان په پښتني سیمو کې سر لوړی او د ستایلو وړ وي چې د لوبو په ډګر کې ښه ځلیږي . شیلر باور درلود چې لوبې د ماشوم د برجسته کولو او فزیکي ودې لپاره ګټوره وسیله ده هغه به ویل : (لوبې د ژوندون د حوادثو څخه یو وړوکی تصویر دی ، خو منظمې لوبې د پرې ګټورې وي ) . سپنسر چې پو بل ارواپوه و ، ویلي ، (لوبې د کوچني دروحي هیجان ځرګندونکې وي ، ځکه سالم او قوي کوچنی تر نورو زیات مینه ناک وي ، هغه هلک چې لوبې کوي دده ذاتي لیاقت او استعداد پیاوړي وي )

## د پښتو ملي لوبې او دهغو اهمیت :

ځینې لوبې خاصې او سیمه ایزې وي ، خو ځینې نورې ملي روحیه لري د لوبو د ملي روحیې په بآب یو وخت په ۱۳۱۸ هـ ، ل کال کوچني اختر کې خدای ښښلي اعلیحضرت محمد ظاهر شاه ویلي وو .(هر څو نه چې په ملي تربیه او اخلاقو کې کوښښ کوو ، هغو مره به په شرافت سره ژوندون کوو!) د پښتنو لوبېز دونه د ټولنیز خصلت له مخې ځانګړې ښکلاوې لري .داروابښآد محمد ګل نوري په نظر : (څرنګه چې زموږ پښتون ملت هم ځانته اوصاف او خصوصیات او ښکلي عنعنات لري چې د دنیا نور ملتونه یې په دغه اوصافو او عنعناتو سره پېژني ، باید هر فرد خپل ملت ، ملیت ، ژبه ، عادات ، ملي او قومي ښه عنعنات وپېژني او په دې ټول شیانو سره ځان خبر او تربیه کړي یو له دغو عنعناتو او عاداتو څخه زموږ پښتني او ملي لوبې دي چې په پښتنو کې خورا د پخوانۍ زماني څخه په دوی کې جاري دي ، مثلا ملي اتڼ ، خوسي ، توپ ډنډه او نورې نورې لوبې ....) لوبې چې دورزش ښه غوره کړې ، په زړه پورې کیږي ،، د شهید نادر شاه په وینا : ( د لوبو او سپورت وخت په ځوانۍ کې دی ، د یو ورزشکار لپاره لازم دي، چې خپله ټوله قوه وساتي چې ددې قوې ذریعه سره د ورزش وانتها درجې ته ورسیږي ، نو هر کله چې دی د خپلو قوا وو په ساتلو سره مکلف شو ، نو لازمه ده چې د هر ډول افراط او اصراف څخه چې د اخلاقو د فساد سبب ګرځي پرهېز وکړي ، هر کله چې ځوان په ځوانۍ کې خپل ځان په ښه ډول سره وساتي ، نو دی به هم د صحت له امله او هم د اخلاقو له حیثه په اینده ژوند کې خوشحاله وي ) ، (ملي لوبې ، ۳ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لوبې ملي دي چې دپښتنو ټول قومونه او په تېره ځوانان ورسره مينه ولري دلوبو ډولونه :
لوبې ډول ډول دي چې دسن (عمر) جغرافيايي موقعيت او کلتوري اغيزو له امله د ارزښت وړ دي .

الف : دعمر له پلوه :
۱- د ماشومانو لوبې : (له دوه کلنۍ بياتر ۱۲-۱۰ کلونو پورې)
ماشومانو چې د خاپوړو شي ، نو د کوټې او کور په انګړ کې له ځان او نورو سره په لوبو کولو بوختيږي او چې کله د پښو شي نو بيا د کلي او کو څو چاپيريال ته ورځي او هلته همزولو سره په لوبو لګيا کيږي ماشومان د طبيعيت له پلوه له حرکت او لوبو سره مينه لري . د ماشوم والي دورې لوبې منظمې نه وي ، خو طبيعي او خوندورې وي .
۲- هلکتوب : (له ۱۲ کلنۍ د پورته عمر لوبې ) هلکان او نجونې د ځان لپاره ملګري ټاکي ، په ډله ايزو لوبو لاس پورې کوي او په ملګرو کې ځان ته موقعيت ټاکي او شخصيت جوړوي . دغه لوبې هم خوږې او هم له خاطرو ډکې وي .
۳- د ځلمي توب او نوې ځوانۍ دورې لوبې :
ددغې دورې لوبې دوجود د قوت او فکري سکون لپاره وي ، ځلميان او ځوانان د مينې وړ ، لوبو باندې لاس پورې کوي او د ځان پالنه کوي ، اجتماع ته لار پرانيزي ، شهرت تر لاسه کوي او مادي ژوند سمبالوي .
لنډه داچې لوبې د انسانانو په روغتيا ، ټولنيزې روزنې ، شخصيت جوړونې او مقام موندنې په برخه کې خورا زيات رول لري چې له ماشومتو به بيا تر زړښت پورې د انسان له طبيعت سره ملګرې وي .

ب : لوبې د جغرافيايي چاپيريال له پلوه :
هر پښتني کلی او سيمه د خپل ځانګړي موقعيت له پلوه داسې جوړښت لري چې دخلکو دودونه يې هم ځانګړي وي . ځينې لوبې کليوالي وي او لږ شمېر يې په ټولو سيمو پورې اړه لري لکه :


(c) ketabton.com: The Digital Library



خوسی ، توپ ډنډه ، اتڼ دډبرې يا تيږې اچول يا غور ځول ، تالل خوړل ،غيږې نيول او ... د پښتنو عامې او ملي لوبې دي ، خو ځينې نورې لکه : نيزه وهل ، نښان ويشتل ، تنډه خره او ډۍ (کيک ډنده) سيمه ايزه بڼه لري .
ج : هغه لوبې چې د کلتوري اغيزو له پلوه موږ منلي دي د ژوند په لوی ډګر کی (لوبې) د ملتونو او بيا پښتنو د کلتوري اغېزو او ټولنيزو اړيکو په درشل کې يو له بله اخيستې او منلې دي لکه : فوټبال ، واليبال او کرکټ) چې درې واړه يې اوس زموږ خپل مال ګرځيدلي دي . د ټولو سيمو د لوبو راوړل او راټولول ډېر سخت کار او لويه پروژه ده . زه به دډېرو لوبو نومونه واخلم او څو مشهورې به يې دلته راوړم .
د پخوانيو او اوسنيو لوبو نومونه :
اول : د مرکزي سيمو د ماشومانو او لويانو د لوبو نومونه :
(سيولی ، منګی مات – منګی روغ (وړی کانی) چندرې ، خوسی ، توشلې (مرده کی) توپ ډنده او دهغه ډولونه ، ډۍ او دهغه ډولونه ، خېز اچول او دهغه ډولونه ، ډبره يا تيږه اچول ، اټوس پټوس ، ټنډه خره ، پانډوسکي ، ړوند چرګ ، جنت و دوزخ او ....
دويم : د اطرافو او ولايتونو د ماشومانو او لويانو لوبې :
کلا ، اتڼ د نارينه او ښځينه آتڼونه ( د نارينه وو اتڼ او دهغه ډولونه ، د ښځينه و اتڼ او دهغه ډولونه (برګ او ....) د ګيندو

(c) ketabton.com: The Digital Library





شکل(۱۵)

(محمد گل نور ی ، ملي هنداره : ۷۷ مخ )

(توپ) لوبې ، (توپ ډنډه ، د ګیند اوږده بازي ، لاس کلپ وکلي ، شنبې ، خانې خانې ، کیدی ، خوسي مرغومکی ، الاداد ، ټنډه خره ، کلاشرنګ ، ګلی ، ړوند چرګ ، توره و ځکه ، په انګورو کې ، د انګورو اقسام ، دورینه خط ، ناستي دورینه خط ، د ولاړې .

دورینه خط ، ورت ورت ، غچ په پوسه کې ، غوځیدنګ ، دډبرې غوځول ، تر پړي دانګل دروند شی پورته کول ، دروینه شمال ، ارغونچکی ، خو په خرګر داته کې انډوغویی ، کرملاغ ،بانډ اسکي ، چغال غار ، اوږده میږیانه ،کاتي کړپ ،میږي ، لپانګې ، ټال او ټالیدل ، انګوړي بنګوړي ، جي ، حو در غله بیل ، سر تیره ، املوټو د ناستې لوبې (بربر ، ابرنج ، خسنکی ، بم ، تخ تخ ، پاجا وزیر ، اکو بکو ) د ښځو او نجونو لوبې (پټپټاني ، د پټپډو اناګۍ ، د کلي اناګۍ ، د خاشو اناکۍ ، هر کاره او چاره ، کش باکش ، زما د خور کوځۍ ، جنت او دوزخ ، شاه کوکۍ ، زړه ګرګه ، ولي ، ښونګی ، جګ جګی لوبتی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بانېچغ ، ديژدنګ لغته ، چونګړت ، د الکان ، انګۍ ، اندکاغۍ . چکوړی . کلاپرتاو ، سواره څپلۍ او نورې په لسګونو او سلګونو لوبې شته چې راټولول يې ستونزې لري . په پښتنو کليو کې ډېرې لوبې شته چې ځينې يې د کليو او ځانګړو سيمو او ځينې د ټولو مال دي ، دلته به د مرکزي سيمو او ټولو ولايتونو د خلکو د بېلو او مشترکو لوبو يوه يوه نمونه دروپېژنو .

## پسول (ګاڼې) (Jewerly) :

وښې مې وه ، په لاس مې نه – کړه = اوس ټوله نړۍ کې شهرت لري : په پښتنو کې خورا زيات دود لري او پښتني ښځي ډېر اهميت ورکوي له همدې امله بيلې ګاڼې کاروي او بيلا بيل نومونه ورنه لري .

د ګاڼو د کارونې وختونه :

۱- د ناوېتوب په وخت کې : هغه وخت د نجلۍ خسر ګنۍ او د نجلۍ مور او پلار خپلې لور او ناوې ته بيلابيلۍ ګاڼي اخلي او ناويانې يې کاروي .

د ناويانو د ځينو ګاڼو نومونه :

(کول ماخي . غبرک اميل ، د دواړه اوږو ټيک ، سره ، نته ، چاګول ، عطر ، غونډواري ، پيزوان و بنګړي ، يا با هوکان، غاړکۍ ، دلستونو پع سکنيي روپۍ ، پاولي ، لښتۍ ، ټيک ، ګوتې او د هغې ډولونه ، غوږ ولی ، ګرېوان ، چم چړۍ او .....

۲- د خپلوانو او دوستانو کره د تک په وخت کې :

کله چې کاکا يا ماما او يا نور مشران او دوستان يې ميلمه کوي ، نو نجونې او ښځي سينګار کوي ، خو دا سينګار دومره ګڼ نه وي او يوائې د پاکۍ او ښکلا مانا لرلی شي.

۳- په اخترونو او ناويانو او ودنو کې د ګاڼو کارول :

د هر انسان غوښتنه ده چې په هيڅ ډګر کې له نورو ببرته پاتې نه شي . پاتې شو د خودنمايي (ځان ښوونې )ډګر . ښځې د طبيعت او ظرافت ، د ځانګړي احساس او همدارنګه درخې (حسادت) دحکم له مخې له نورو ښځو ځان لوړ ګڼي . د نامتو اروپوه (هنري بورګ) د وينا له مخې ، ځان ښوونه (غرو) په ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسانانو کې شته خو اندازه او درجه يې توپير لري څوک په خپلې ښکلا وياړي و څوک په لياقت ، ځينې په پيسو ،لږ په قوت او .... ځکه نو د ځان ښوونې احساس نسبت نارينه وو ته ، ښځو کې زيات دى . او څرګنده خبره ده چې ټولې ښځې خو بيا پښتنې ښځې په خپلو دوديزو ګاڼو وياړي . نارينه هم دودى له ګاڼو خوند اخلي او خپلو ښځو ، لوڼو او د کورنيو غړو ته ګاڼې رانيسي ، په اخترونو ، ودونو او د خوښيو په مراسمو کې ښځې خپلې هر ډول ګاڼې کاروي .
د پخوانيو پسولونو د کارولو دود د ټولو پښتنو ښځو خو د کوچيانو او اوس لا دغير پښتنو او غير افغانانو ښځو لپاره ډېر خوند ور دى (بې پيشمنۍ (چرګ بانګه) خلک روژه نيسي خو بې ګاڼو واده نه کيږي . دغه دود که څه هم ډېر په زړه پورې ، غوره ، متبرک ، کلاسيک او لرغونى برېښي ، خو ډېر ملا ماتونکى هم دى او (هله به خبر شې تاروجبې (جبهې) له ورشې )

د پسول کلتوري او ادبي ارزښت :
پسول او ګاڼې د هر قوم د مادي فرهنګ برخه ده ، د پښتو ژبې حقدار ليکوال ښاغلي حبيب الله رفيع د (فولکلوري ګلونه) پر اثر باندې د تفريظ ليکلو په وخت کې ويلي وو:
(پسول او ګاڼه لکه څومره چې لرغوني دي او اوږد تاريخ لري همغو مره په پښتنو ښځمنو کې د ارزښت او اهميت وړ دي او لاتر اوسه يې په ډېره مينه ساتلي دي ... )
(د هر هېواد تاريخ په کلتوري ارزښتونه ښايسته برېښي ، هغه وخت کلتوري ارزښتونه غني او ساتل کيږي چې موږ خپل لرغوني فرهنګي ميراثونه (پات مړي) خوندي کړو .
پسول يا ګاڼه د مادي کلتور يوه ارزښتمنه او ښايسته برخه ده ، ځکه نو ديو منل شوي او نه زيانمن کيدونکي دود په توګه له پېړيو پېړيو را په دې خوا پاتې دي او ساتل کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې او پسول :

ستړګې دې بیا د ګل غوټۍ کړې
پیزوان په ورو ورو خوزوه چې مړ دې کړمه

ښځې د ښکلا او مینې ملایکې دي ، ښځه د الهي (ج) په لویه هستي کې هغه حتمي او ښایسته شتمني ده چې ژوند ته تلپاتي هویت ورکوي ، ځکه نو الله (ج) یواځې نارینه پیدا نه کړ او ښځه هم یې ورسره یو ځای پیدا کړه .

نجلۍ په خپله ښآیسته ده
سره باهوګان یې په زړه روي خیژوینه

ښځې ددې لپاره پسول او ګاڼه خوښوي چې نازک طبیعت او نری زړه لري ځومره چې دوی ښایسته او له ظرافته کې دي ، په هماغه اندازه یې ښکلا هم خوښیږي .

داروا پو ویلیم جمیز په وینا ، هر څوک د خپل طبیعت او فطرت له مخې په کایناتو کې خوښونې کوي .نو ښځو هم د خپل ښکلي طبیعت له مخې قیمتي توکي (ګاڼې) خوښې کړې دي او مینه ورسره لري .

لیچې مې ډکې د بنګړیو
بنګړو په سشرنګ به خپل آشنا را ویښومه
لېچې مې ډکې د بنګړیو
د خپل اشنا په سر به یو یو ماتومه
سر مې په ښۍ څنګل کې کیږده
په کینه لېچه کې بنګړي دي مات به شینه
دلېچې مې ډکې د بنګړیو موزي ګي په سر به یو یو ورکومه ....

(c) ketabton.com: The Digital Library





شکل(۱۶)
دغه ښايسته او ښکلي انځور په ماشومانه گاڼو او پسول پورې اړوند دي .
(علي محمد منگل : فولکلوري گيدۍ : ۸۷ مخ)
په پښتو ادب کې د ځينو گاڼو ځيره :
پښتنو ادب له ازله ښايسته دی ځکه چې د ټولو مادي ا معنوي ښکلاوو او ښيگڼو بيانونه ورکې شوي دي .
اول گامه: په لنډيو کې :
په لنډيو کې د هر ډول گانو ځيره ځليدلې ده لکه (ششت) شاشت)
د منگلو په پسول کې ځای لري ، کېدای شي په نورو پښتنو قومونو کې په نورو نومونو ونومول شي . په ډوله دي : ساده او ببر ، په ساه کې کم رنگه ااو واړه غمي کارول شوي وي خو په ببر کې ښه ، ښايسته او ډېر غمي کارول کيږي له گوتو سره يې توپير دادی چي ششت پلن وي ، خو گوتې کوچنۍ .
شاشت په شاشت گوت په گوته
داسره بوگون مکې په پورې گتلي دينه
ششت د گوتو روپۍ د ټنډې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنځيران د جلکۍ لاښايست لرينه

لښتۍ (Lasty) :

لښتۍ په غوږونو کې اچول کيږي ، ډول ډول دي ، ښځې خوځه جې آن نارينه يې هم غوږونو کوي .

لښتۍ کې وې په غوږ مې نه کړې
اوس مې يادېږي دروپيو کتارونه

اوږۍ (Ogay) :

اوږې ته (غاړه کۍ) هم وايي
ټيک په تندي پيزوان په شونډو
اوږۍ په غاړه د جلکۍ مزه کوينه
موې يې په کلي درويزې کړي
لور يې چارک اوږۍ په غاړه ګرزوينه

۲- په سندروکې د ځينو ګاڼو ځېره :

ډېرو شاعرانو او هنر مندانو په خپلو شعرونو او سندروکې ډول ډول ګاڼې ستايلي دي .

لکه :

تاويزونه Tawizuna :

داګاڼه د پښتني پسول په زړه پورې برخه ده ، د (ده شينوا او کوچيانو) پيغلې او ښځې يې ډېر خوښوي اواستعمالوي يې ، دغه ګاڼه په غاړه او ټټر کې د نورې ګاڼې سره يو ځاي د زيات ښايست لپاره کارول کيږي .

ستا دې قسم وي چې زرګر شي
زما خيالي وربل ته جوړ که تاويزونه

نتکۍ (Natkay) :

دا ګاڼه دومره په زړه پورې ده چې ډېرې کورنۍ په خپلو لوڼو باندې د (نتکۍ) نوم ږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتکۍ ډېره ښاسته ګاڼه ده ، د کلیوالو او بانډو ښځې د ټيک اوچارګل په څېر ددې ګاڼې لپاره پوزه سورۍ کوي او په پوزه کې يې اچوي .

نتکۍ دې چا له پوزې وښکه
په نتکۍ نه يم ستا په وچو شونډو يمه
زېړه نتکۍ سور يې چارګل دی
په کې پراته دي د سرو زرو ځنځيرونه
مخ ته دې سم کتلي نه شم
ستا دې نتکۍ ډنډر مې سترګې برېښوينه

۳- په پامونو کې :

پام په پکتيا کې هغه هم په منګلو کې د شعر يو ډول نو دی
ټيک په پام کې :

ټکنده غرمه ده عاشقان له تندي مرينه
ليلا او به په سپين چارګل کي ورکوينه
ټيک مې دارې وارې دا چارې د زرګر دينه
سرې سترګې خمارې باڼه د جلندر دينه
ددغو ټولو له ډلې به دوه درې يې راواخلو :

۱- تاويزونه :

بند که تاويزونه ليلی
سپينې روپۍ دي په وربل وهي ټالونه – ليلی
بند که تاويزونه ليلی

دزرو تاويزونه ، چې ښځې يې د ښکلا له پاره دوجود په بېلا بېلو برخو ځر وي او په استعمال يې وياړي . ( داګاڼه د پښتني پسول ډېره په زړه پورې برخه ده ، د کليو او بانډو پېغلې يې د ډول او سينګار د پاره په مينه سره استعمالوي ) تاويزونه له سپينو زرو (نقرې) څخه په ډېر هنري ډول جوړېږي ، نجونې او ښځې يې په لوړه بيه اخلي ، په غاړه او ټټرکې يې له نورو ګاڼو سره يو ځای د ښايست لپاره کاروي .

زما خيالي وربل ته جوړ که تاويزونه = وی وی زرګره ياره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدايه دې مر يې ورته پا کې = وی وی زرګره ياره
چې په لنډۍ زنه يې ووهي خالونه = وی وی زرګره ياره

## ۲- لونګين : Lawangin :

ټينګه مې مه نيسه په غيږ کې
سبا به بوی د لونګين در څخه ځينه

لونګين هغه ګاڼه ده چې پيغلې او ښځې يې د اخېل په شان په يوه ځانګړي مزي کې په ښايسته شان ترتيبوي ، د ښکلا او ښايست لپاره يې په غاړه کې په مينه اچوي .

(لونګ) يو ښايسته ، خوش بويه ټوټې دي ، چې کله ترې اخېل حوړ شي نو (لونګين) شي . په منګلو يا نورو سيمو کې يې پيغلې او ښځې را اخلي ، تار په ستنه اچوي او بيا يې دستنې په واسطه په تار کې اميلوي .

د لونګين په لړ راخيجه (راخيژه)
بيرته کوزيږه د پاولو په کتارونه
دا لونګين به دې تالاشي
ناداني مه غواړه بې وخته خيراتونه
سپينه سينه په لونګين مزه کوينه

## ۲- اوربۍ :

د ينبتني پسول په منځ کې (اوربۍ) يوه منل شوي او د ډېر استعمال وړ ګانه ده .
(زرګران دا ګاڼه (اوربۍ) له سرو او سپينو او نورو ارزانو فلزاتو څخه جوړوي ) .

ددې ګاڼې جوړښت : زرګران د سرو او سپينو زرو ټوټې را اخلي او پرمخ يې ښکلي رخې (ليکې) او ګلان انځوروي او د پسول په څنډو باندې يې ځای پرځای غمې هم لګوي ،

په کليو او بانډو کې يې ښځې د ډول او سنګار دپاره د (غاړکۍ) پر ځای په غاړه کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوړۍ د غـولي لمـن غيرانونـه او د زرو غـوټـي هـم لـري ، اوړۍ ، دوه ډولـه ده ، پاولي د اره او لمن داره او بي لمني ، ځينې يې ببره او بې لمني هم بـولي ، اوړۍ په غاړه کيږي ،

اوړۍ د غاړې بنديوانه

زه بنديوانه د آشنا د غاړې يمه



شکل(۱۷)

ځنځيرونه

ډ يوې ته سمه ودريږه

چې مسافر لالی دې ګز ګړي ځنځيرونه

ځنځيرونه به هغه مخصوصه ګاڼه ده چې ډېره قيمتي او يـوائې لـه سـپينو زرو جوړيږي ، دغـه ګاڼه مېروښې او ناويـانې کـارولی شي او د پيغلـو نجونـو لپـاره روايت لري چې ويې کاروي خو يوائې يې دواده په ورځو کې چې د هلک د کور له لوري د جلکۍ کورته د دوستوار و راباڼو په نوم ورځي نو يې خلوسه پيغلې او جلکۍ په سر کې ښکته په وليو او د متهو په سرو کې را اچوي . داګاڼه په اصل کې دواده ګانه ده او د واده په ورځ ناوې ته د نورې ګاڼې سره يو ځای کيږي ځکه يې پيغلې نه شي کارولی . ددې ګاڼې جوړښت زرګران يې د خالصو سپينو زرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه په ډیر مهارت او د خپل کسب او هنر په کمال سه جوړوي ارمن یې په ډیر قیمت سره اخلي . ځنځیرونه د لښتیو په شان په پاسني سر کې یو نری چنګک لري ، د جنګک سره ښېرمه د مثلث په ښېرو یو درې کونجه برخه لري چې ل سپینو زرو ښځه جوړېږي او پرمخ یې رنګینه غمي چې لوړه بیه لري ، ایښودل کیږي او د ځنځیر تخت ورته وایي ، له تخت وروسته د ځنځیر لښتۍ او بیل بیل نري شروع کیږي او سرو ته یې د زرو و غوټې ور اچول کیږي د غو مزیو او لښتو ته د ځنځیر مزي ویل کیږي سروته یې ګنګري ( واړه پاولي) او کوچنۍ روپۍ چې ښکلې جوړې شوې وي هم وراچوي . ځنځیرونه لږ لرونکي وي ، څو لړه وي په سرو (څو کو) کې یې غوټې او روپۍ د ښکلا لپاره په زیات مهارت وراچول کیږي په سر ، په وچولي ، په ولیو او د مټو په سرو کې ټومبلی شي .

سپین دي ځنځیرونه
خیال اوربل دي جوړ دی ولونه ولونه
ستا د دیدن په تمه تمه
خیال اوربل دي جوړ دی ولونه ولونه
له ډېر غمه لکه (دروې) وچه شومه
خیالي وربل دي جوړ دی ولونه ولونه
فولکلور چی ګلونه **۵۹** مخ

## بوګون

بوګون کې پاتې په کاله شو
د بیمارۍ لندون کې نه شي مړه به شمه

مروج نوم یې په ټولو پښتنو کې (باوو) (باهو) دی خو په پکتیا (منګلو) کې ورته (بوګون) وایي . دغه ګاڼه هلته هغه وخت ښځې استعمالولوي شي چې واده شوې وي تناوې ته د پلار ګنی له خوا له نورې ګاڼې سره ورکول کیږي .

د کاروني وخت او ځای :

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواده په ورځ کله چې ناوې د پلار له کور څخه د خسر کور ته دروانېدو د مخه په ډول ډول ګاڼه او کاليو سره ښکلې او سينګار کړي او باوو ګان هم دهغې متهو کې اچوي .
دګاڼه زرګران له سپينو زرو او مسونه په خاص هنري مهارت سره ډېر ښکلي جوړوي ، ښکلي هنري ليکې ورباندې کوي ، سره او شنه غمي هم ورباندې وي ، ډېره درنده ګاڼه ده ، په لاس کې اچول کيږي

نن مې د لاس باهو (بوګون) شرنګيږي
يار به مې راشي يا به اوس په لاره وينه

خوشحال بابا ويلي :

چې په هر زمان يې ونيسي ومخ ته
د ګلابو کل پيدا شي ستا په ششت کې
مرصع باهو په لاس ګوتې په ګوتو
ژرنګهار يې د پاوليو د څړې

د خوشحال خټک د پاره جې مې ، خور شو
په مغان مې وښي کيښودل باهو هم لا

کينه په انګړه کې مخامخ چې ورته ګورم
تور لونګين دواړه چندن ها ر په سينه ټال کړه

بخت دی چې يې اوس ستاله لبانو سره ښمنه
تامې ننه زړه په سره پېزواندچې وڅاټه

خوشحال خټک

د مينې او ښکلا پيژندونکی رحمان بابا (پسول) داسې ستايلی :

لاس وپښې دې بې زېور ښايسته دي
د اهلال دی چې ليده شي په شفق کې
که په لاس د ګل اندامې سپين وښی دی

نازک خياله ، ښکلا ستايونکی شاعر حميد مومند آن دعارفانه تجاهل په وخت کې هم ګانې يادې کړي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا د ښکليو د پاوليو شر نګهار دی
ياد عشق د ليونيو ، د ځنځير
عشق د عقل په تدبير چلاوه نه شي
په دې ناوې نه جوړيږي پسول دچا
په نګار د مکار (دهر) غلط مه شه
په بدر نګې ناوې پروت دی زري پسول
معزالله د پښتو ژبې يو بل شاعر ويلي :
صدف لاس په دعا ونيسي دا وايي
چې که ځای مې د ګوهر وستا پېزوان شي
اوپښتو ژبې د لرغوني دورې دويم قصيده ويونکی ښکلا خياله شاعر اروابښاد ښکارندوی غوري خو له ټولو مخکې فرمايلي وو او لا هغه وخت يې (پسول) ښه پېژانده لکه :
لکه ناوې چې سور ټيک په تندي وکا
هسې وګاڼل غټولو سره پسولونه
د سندرو پاچا او پښتني فولکلور پېژندونکی شاعر بهايي جان هم په مينه پېزوان پرسرو لبو ليدلي او نا ببره يې دا غږ له خولې وتلی دی چې :
اينه په لاس کې واخله سترګې تورې په کجل کا
پېزوان پر لبو سپور دواړې زلفې اولوول کا
الفت صاحب له پېزوان سره الفت کړی دی ، وايي چې :
مور دې مېچنې ګرزوي خور د منګې ډکوي
ته سور پېزوان غواړې د سرو زرو له هاره سره

(c) ketabton.com: The Digital Library





شکل(۱۸)



شکل(۱۹)

نرخونه ، جرګې او قومي لارې (اصول)

(له کلي وو څه ، له نرخه نه) (نرخ ) هغه ځانګړې لارې او اصول دي ، دلته د لارې ، تيرې او يو اصل نوم دی ، هغه (اصل) چې له لرغونو زمانو راپاتې دي ، د خلکو د بې دريغه تجربو محصول دی او د همدغه اصل له مخې ډېرې ګوډې او ماتې وربانديې سمې شوې دي . نرخونه ، جرګې او قومي لارې ، د ولسي درنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپيڅلو ، پوهو او نـامتو ازمويـل شـويو رامنځتـه شـوی وي ، نرخونـه د ولسـونو ازمويـل شـوي تجربـي دي چـې دوختونـو پـه اوږدو کـې راپـاتې دي او عقيـدوي سپيڅلتيا لري ، نرخونه داسې ولسي قانون دی چې د ژوند د درنښت او پايښت سبب کيـږي . هر نـرخ يـو ولسـي (سـنت) دی ، سـنتونه بايـد مـات نشـي ، لـه بـده مرغه پدې کلونو (۱۳۶۰- ۱۳۹۰) کې مات شول .

چيرې يو ځلی ورانېده
ماويل چې وران يې نه کړې
بيا جوړيدلی نه شي( اجمل ختټک )

د يو ليکوال په وينا : (په کليو او بانډو کې د قومونو تـر منـځ د نـرخ او ليـارې پـه نوم يو عمومي قـانون وجـود لـري، د کليـو او بانـډو ټـول خلـک پـه دې مجبـور دي چې د دغو نرخونو او ليارو چې د قام په منځ کې د يو قـانون بڼـه لـري .... نـرخ او ليارې يو غټ مفهموم لري چې د قبايلو د ژوندانه په چوکاټ کې د ټولو جرمونو حدود او جزاګـانو انـدازه وربانـدې معلوميـږي ) او ټـول حقـوقي تعـاملات ړرکـې مراعـاتيږي . جرګـې زمـوږ پـه پښـتني ټولنـه کـې هغـه غونـډې دي چـې د پښـتني نرخونـو پـه واسـطه شـکل او بڼـکلا پيـدا کـوي ، همـدا جرګـې دي چـې مـدني ،کليوالي او بشري نرخونه او پريکړې عملي کوي .

د جرګو خلک درانه وي ، پښتانه وي
په خبرو باندې پوه ، په خوی رانه وي

نرخونه ، قومي لارې دي چې په ټولو پښتنو کې شته ، خو په جنوبي ولايتونه کـې په تېره بيا په (احمدزيو ، منګلو ، ځدرانو ، ګزربزو ، وزيـرو ...) کـې لاتـر اوسـه دغه نرخونه ژوندي دي چې څو به يې دلته راوړو :

د نرخ پيدايښت :

دودونه او بيا (نرخ) د بشريت له پيدايښت سره تړاو لـري ، ځکـه يـواځې د الهـي سـنتونو دي چـې تـل پـاتې وي او نېټـې يـې څرګنـدې وي ، خـو د نرخونـو تـاريخ مشـخص نـه دی او خـورا لرغـونی تـاريخ لـري او پښـت پـه پښـت تـر نـن پـورې رارسيدلي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نرخ ارزښت :

نرخ يوه ولسي پريکړه ده . (نرخ د ارزښت په برخه کې د اټکی د غور وړ دی چې ځوک بايد په چا تيری ونه کړي ، د دې لپاره چې د تيري مخه ونيول شي او زياتو بديو ته لاس وانه چوي نو ددې ظالم د تيري د پاي ته رسولو لپاره د کلي او قام مرکه جوړيږي او په موضوع باندې هراړه خيز غور کوي ، د نرخ له مخې تيری کوونکی ملامتوي او د نرخ په اساس دې ته اړ کيږي چې مقابل لوري ته د خپلو بديو پور ورکړي .نرخ قومي پريکړه ده ، کله چې يوه پريکړه په ولس کې کاميابه راووځي نو هغه پريکړه د راتلونکي لپاره (نرخ) ګڼل کيږي نرخ ځوک ماتولی نه شي ، که يې مات کړي نو کبرجن ګڼل کيږي ، په پښتنو قومو په تيره په (منګلو ) قوم کې نرخونه هغه (تړې) دي چې د هر څه لپاره (ژوندي او مړي) لپاره شته . د خلکو تجربې که په طب او يا نورو برخو کې دي ، له هماغه پخواني ژوند څخه اوسني عصري طب او د ژوند نورو برخو ته راغزيدلي دي ،د يوليکوالل په وينا ، ( د توجه وړ خو داده چې په اکثرو مواردو کې د عاميانه طب اصول په اکثرو قديمو طبي متونو کې هم صدق کوي ، همدارنګه د نن ورځې پوهان د نارغيو په لرې کولو کې ددارو بوټو په موثريت او بهتروالي قايل دي او دغه دواوې له عصري کيمياوي دواوو څخه ښې ګڼي پښتنو هم د ژوند په پراخه برخو کې تجربې کړي لکه تجوم ، مالداري ، بزګري ، طبابت ، معماری ،.....موږ به د طب په برخه کې د هغو ناروغيو نومونه واخلو چې خلکو ورته د تجربو له مخې نومونه غوره کړي او بيايې د تجربو له مخې د درملو د تومنې لارې هم موندلې دي . دغه ناروغۍ : (شری ،کوي ، توره تبه ، دپښو تواښ ، د مغزو کمزوري ، دوينې لړوالی د ځان قوي کول ، بريښ ، باد ، د غاښ خوږ ، داغونه ، دهډکوماتېدل ، دسترګو تخنېدل . شنځی ، توخلې ، پړسوپ ، غولنګی ، شني ، د غوږ وخوږ ، خری ، ګېزان او ګوزار ، د وينې بهيدل ، مرګان ، په اور پاندې سوزيدل ، پمن کېدل و د تبې او خوږو ورکېدل ، د نوم وتل ، ژبې ، د لاسو او پښو چاوېدل ، د زيړي نيول ، د ژبې خوړنېدل ، د پوزې بنديدل ، د نوکانو لوېدل ، په مخ باندې د سپينو دانو ختل ، د ماشومانو د پوستکي چاودردل ، پړکه ړ د ټول وجود درد ، د سترګو درد ، د سترګې ګل ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوتې لګيدل ، کجيران ، قبضيت ، لـه لوړ ځايـه لويدل ، دسپي خوړل ، د زړه درد ، د مرۍ (غاړې) درد ، د هډو کې د پيوند وتل ، د ماشومانو د کلي وتـل ، د پوزې وينې کېدل ، د سر د ويښتانو تويـدل ، ګزکـي ، د غاښـو پـاکوالی و د زخـې ورکېـدل ، غتـه دانهـو د ګـولۍ زخـم ، د بـاه قـوت ، زېـړه تبـه ، د کمـزورې ورکـول ، د ګرميورکـول ، ويلـي ، د وينـې درول ، دغاښـو بـرښ ، پـټ خـوږ ، د ګيډې پړسوب ، په ژمي کې ځان تـور سـاتل ، د مـلا درد ، سر درد ، د ماشوم ټوخله ، د ماشوم چاغوالی ، د غالبوزې (غومبسې چيچل) نري رنځ (سل) پيچ ، ټکی بخار ، داشتها پيدا کېدل ، سوزاک ، دډوډۍ هضمول ، مرداري دانـې د کلمو درد ، د ګېډې چينجی ، دګيډې خوږ ، د سترګې وتل ، دلري او کلمو وتل ، د ملا درګونو وتا ، ماشره ، ستونی درد ، سپونی ، د ماشوم د غوږ درد ، سنه درد ، کانګه ديدونظر .... ډېرې نورې ناروغې هم شته چې د خلکو د تجربو پـه بهير کې تداوي کيږي . په حقيقت کې : (پخوانی د طب علم هم د نيمې مـادي فولکلور يـوه مهمـه برخـه ده ، طب او طبابت پـه نـړۍ کې ډېرې پخوانۍ زمـانې راهيسـې رواج لـري او د طبيعـي بوټـو او نـورو طبيعـي ځيزونـو څخـه يـې ګټـه اخيستله ....) هر کله چې رنځونه د انسان سره سم زيږيدلي دي په دې وجه هغـه ددې عـلاج د پـاره وخـت پـه وخـت د داروګـانو د جوړولـو اولټولـو زيـار باسـي د انساني ژوند په شروع کې بـه د بېلابېلو رنځونو عـلاج پـه جـادو او کـوډو کـاوه . زموږ کلي وال طب او علاج په دريو برخـو کې وېشـل کيـږي : يـو عـلاج د بوټـو ، حيـواني او مـدني مـوادو پـه ذريعـه کـولی شي ، بـل عـلاج دم ، تعـويز ، نـذر ، صـدقه ، خيـرات ، فـال ، نجـوم ، روايـات ، زيـارت او نـور دي . دربـيم عـلاج کليوال عمليات دي لکـه د مـلا بـآد : د ښـتنيوو درد ، قلـنج ، نـوم (نـو نيـول ) سرخوږی ، د هډو ماتېدل او داسې نورو د پـاره د ښـکر لګـول ، د جوکـو (ژورو) لګـول و د هـډو کـو وروسـتل ، د ګـډو پوسـتکي اچـول او داسـي نـور کليوالـل عالجونه شته ، خو زيات علاجونه به بوټو په ذريعه کولی شو ) خوشحال خان هم د خلکو اود خپلي دغـه تجربې ديـو مسـتقل کتـاب (طب نامـه) پـه نامـه وړانـدې کـړی دی او دغـه تجربـوي طبابـت يـې د نظـم پـه خـوږه ژبـه بيـان کـړی دی ، د هـر تجربه انداز کې تشريح او ومعرفي کـړی هم دی . داسې ولی شو چې خوشحال

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان ختک يو حاذق حکيم او مستند طبيب و نومورړي طب نامه په (۹۴۵) بيتونو کې وړاندې کړې ده او په پيل کې يې د بوټو د ارزښت په برخه کې فرمايلي دي .

په دوارو کې چې ښه نيت دی
دارو نه وي عبادت دی
عبادت په روغ صورت شي
ګڼه کله عبادت شي

خوشحال خان په دغه اثر کې ګڼې نسخې ښودلې دي ، لکه :

په لوی طب کې مې ليدلي
بيا په خود مې ازمايلي .....
چې اول سحر شي پاڅه
د مولاو درته خاصه
اودس وکړه خاص الخاص
ته چې نوې وضو وکړې
دوه رکعته لمونځ بۀ وکړې
مناجات وکړه مولاته
وشافي علم مولاته
اوبه واخله ته له شهر
په ګوشه له تمام شهره
اسم ولوله زرځله
په حضور د زړه په ځله
چې يا حي يا قيوم دی
و هر چاوته معلوم دی
وهر چاوته معلوم دی
دا اوبه ورباندې دم کړه
زر يې نوش په هغه دم کړه
بيا سبا وکړه دلبره
دارنګ کار دزړه له سره
بل سبا دې بيا هم وشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا صحت به په دانه شي .
(طب نامه ۴۳ – ۴۴ مخونه)
خوشحال بابا د بوټو د تجربو ترڅنګ ، آن د کال د هر د ښېګڼو او په انسان باندې د هغو د اغیزو تجربه هم کړې ده ، وایي .
په څلور ه کې ښه بهار دی
تابستان سړی غم خور کاندې لاغر
د هر نعمت په وخت د مني پیدا کیږي
لکه سیل ، تبه ، قولنج بلا بتر ...
که موږ وغواړو د بشریت د فولکلوري طب او بیا پښتنو د تجربوي طب په کیفیت ښه پوه شو ، نو لازمه ده طب نامه مطالعه کړو ، د نورو ګڼو نسخو له جملې به داشتها په برخه کې
یوه نسخه دلته راوړو :
اشتهال لره څو څیزه
مجرب دي له تمیزه
قرنقل څلور درمه
مستکي ورسره سمه
شل درمه سونډ هم بویه
واړه ښه میده ورسویه (وسولوه)
واړه ښه سره ګډوډ کړه
یو کف هر کله ناشته خوره
په طعام پسې یې ته خوره
اشتها به دې رسا وي
طبیعت به دې رسا وي
شودې پیې دوه درې لونګه
اوس پرې ګډ کړه له فرهنګه
که ناشتهیې هر صبا خوري
ښه اعلی دی که تل دا خوري

(c) ketabton.com: The Digital Library





شکل (۲۰)

## ۲- د خلکو انګېرنې :

انګېرل يو ډول احساسي نا څرګند درک دی چې له طبيعت او ژوند پيښو سره د مخامخ کېدو په وخت رامنځ ته کيږي د (ولسي او امي روايا تو دغه خواره واره موضوعات په دوی کې له يو نسل نه بل نسل ته په داسې حال کې رسيدلي چې ياې عملا ليدلي او ياې اوريدلی د کليو او بانډو په خلکو کې دغه روايات په بېلابېلو بڼو او ډول ډول رنګو سره د يوې تجربې له مخې اجرا کيږي ، په دې ولسي روايتونه باندې بانډوال (په تيره سپين ږيري او سپين سرې) ښځې ښې پوهيږي .

دغه انګېرنې د ژوند په ډزو ډګرونو کې شته ، لکه : (مذهبي ، روايتي ، تجربوي او ...)

موږ به په لنډ ډول سره په هر ه برخه کې معلومات وړاندې کړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library





شکل (۲۱)

## الف : مذهبي انګېرنې :

مذهبي انګیرنې د خلکو د عقیدو او تجربو له یو شوي (mix) باور څخه را منځته کیږي

دا ډول انګېرل هم مذهبي او هم تجربوي پوهنې دي چې د ژوند په اوږدو کې رامنځته شوي وي او دوام یې کړی وي . لکه :

(په شپه کې د نوکانو نیول ، دستوري یا ستورو لیدل ، د لمر او سپوږمۍ تندر نیول ، د پیشو (پیشکې) وژل ، د ډوډۍ یا دسترخوان پر سر د بسم الله ویل او نه ویل ، په کوټه کې د نوکانو اخیستل ، عکس یا تصویر (انځور) ته مخامخ لمونځ کول او نه کول ، د ډوډوۍ او دسترخوان خوربدل ، د لمانځه مخکې تېربدل ، پر لیکل شوي کاغذ پښه ه ایښودل نورې ، د یتیم نه ازارول یا ازارول ، د زلزلو په وخت کې اوه ګامونه اخیستل .... دا او داسې نورې ډېرې انګیرنې چې د خلکو د تجربو او باورونه په سمسور بڼ کې له ډېر پخوا راپاتې دي .

## د مذهبي انګېرنو د تجربې انګېرې :

پورته راوړل شوې انګېرنې که وګورو لومړی د خلکو په دود کې موجودې وي . بیا وروسته ددین او مذهبي تړاونو له امله لاډېرې پیاوړې شوي دي . که چیرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو (ښه يا بد کار) چې ټولنيز منفي يا مثبت ارزښت او اغېزو ولري په (يو ديني مذهبي) چوکات کې واچول شي نو پر خلکو يې اغېزې لا ډېرې لويږي ، ځکه نو د مذهبي انګېرنو تجربې انګېزې د خلکو له دوامداره تجربو سره تړاو لري . د (لمر او سپوږمۍ توربدل يا تندر يا د زلزلې پر وخت اووه ګامونه اوچتول او ...) هم په دوديزه فولکلوري تجربوي ژوند او هم علمي او مذهبي پوهنو کې جلاجلا مفهوم لو مضمون لري . د جغرافيې د علم له پلوه د (لمر نيولو ته (کسوف) لمر تندره) او د سپوږمۍ نيولو ته (خسوف) (سپوږمۍ تندر) ويل کيږي . خو د مذهبي او فولکلوريکو پوهنو له مخې ، د بندګانو د ګناهونو سزا لمر ته ورکول کيږي ، دغې فولکلوريکې پوهنې هغه وخت زور او قوت موندلی چې د مذهب له پلوه د انسان او مومن له عقيدو سره تړاو پيدا کړی دی . دغه انګيرنې کله ښې او کله بدې وي ، په لاندې ډول به دغه انګېرنې راواخلو :

- په دسترخوان ډېرې خبرې نه کول
- کوچنيانو ته د جنازې يا (مړي) نه ورښوول
- سپي په کور کې نه ساتل
- د پيشکې نه وژل
- په شپه کې د پيشکې نه وهل يا پيشتې نه ويل
- په شپه کې په هديره نه ګرځېدل او دلرګي ياميوګي نه ټکول .
- د لمر او سپوږمۍ تندر
- د لمانځه مخکې نه تېريدل
- له شاه د نورو په پښور ورختل
- دساه غوښتل (د نانځکو لپاره)
- د ځنکدن اوږدېدل او لنډېدل
- په هر کار او په تېره ډوډۍ باندې د بسم الله ويل او نه ويل
- قبلې ته پښې غزول
- پړمخې نه ويده کېدل
- د ماښام او مازديګر تر منځ نه ويده کېدل او .....

(c) ketabton.com: The Digital Library





شکل (۲۲)

د ځینو انګېر نو شننه :

په هره انګېرنه کې دانسانانو بیا پښتو (د تجربو ، عقیدو او پوهنو) قوت او متره موجوده ده او هره انګېرنه له همدغه درې اړخونه د پام او تجربې وړ هم دی ، یو ، دوه ، درې بیلګې به یې راوړو :

الف : ( دماښام او لماز دیګر ترمنځ نه ویده کېدل ) :

که چېرې د خلکو دغه انګېرنه د تجربو له مخې وګوور نو راته ثابته بهٔ شي چې په فولکلوري او نبوي او نني طب کې اوس دغه ټکي ته پوره پاملرنه کیږي ، له څوارو خونو:

۱) د عبادت وخت له منځه ځي ، ځکه لمازدیګر کې د عبادت ښه وخت دی .

۲) د کار او غریبۍ وخت ګډل کیږي .

۳) د هواخورۍ او سپورت شیبې له منځه ځي .

۴) له طبي پلوه دغه خلک کېدای شي لیوني هم شي .

۵) له اروایي پلوه غوسه ناک او ګوشه نشین وي .

۶) دشپې له خوبه پاتې کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷) د عمر د لنډوالي سبب کيږي .

ب : د ځنکدن اوږد پدل او لنډ پدل :
که ديو سړي ځنکدن ډېر اوږد شي نو داسې خلک وايي چې نوموړی ډېر ګنهګار دی او دبې ګناه سړي ځنګدن ډېر لنډ دغه جز د خلکو د تجربو محصول ده چې عقيدوي لوري هم لري او مثالونه يې په ژوند کې ليدل شوي دي .



شکل (۲۳)

ج : پښې قبلې ته نه غزول :
هغه څوک چې راستان ته او په په ښې اړخ ويده کيږي ، هغوي تل ښه او آرام خوب کوي، ځکه له طبي پلوه ښه ساه اخيستلای شي ، او له عقيدوي پلوه پيغمبر (ص) دا ډول خوب غوره بللی دی او قبله د مسلمانانو عبادت ځای دی ، ځکه نو د پښو غزول د درنښت وړ اشخاصو ، لويانو او عبادت ځايونو ته ښه نه دي . پښتو لنډۍ هر ډول مضمون لري : (په لنډيو کې لوی مفهوم پروت دی او د پښتنو د ژوندانه هنداره ګڼل کيږي ) (انګرني ، ۱۴۶ مخ )
لنډۍ د اوس هنر دی ، د اهنر داسې مثال لري لکه بلوه ډېوه جې ځای يې معلوم نه وي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې چېرې ده او وخت يې معلوم نه وي چې د کله راهيسې بله شوې ده ، خو پښتانه نسلونه يې په پېړيو پېړيو تـه سپاري . لنډۍ د ولسونه د ذهنيت ، کلتـور او تمـدن هنـداره او دهغـو د ذهنـي او خـارجي شـرايطو ، تصـوراتو ، اجتماعي روابطو او هر ډول ګډو خصوصيات انعکاس دی ... د ولس فکر ، هوښياري ، ملي تاريخ ،اجتماعي جوړښت او قوي ډول څرګند شوي دي ) ځکه نو دخلکو تجربې څه په هنر او فن ، څه په عملونو ، اړيکو ، ټولنيزو روابطو او ... کې څرګندېږي له همدې امله دغه تجربې د پښتنو په ولسي هنر ( لنډۍ) کې هم ځليدلي دي چې ددغو تجربو ننداره به د لنډيو په هنداره کې وګورو :

اجرو جزا د عمل حق ده .

څوک چې دنيکو عمل کړي نيکي به وړينه
نن مې د لاس باهو شرنګيږي
يا مې يار مړ دی يا په لار دی را به شنه
نن مې د لاس باهو شرنګيږي
ګومان مې کيږي مسافر آشنا راځينه
نن مې د غم سترګه رپيږی
بېګاه به راشي ګرد وهلی شک بريتونه
نن مې د يار سره وعده ده
سترګې رپيږي ښکلی يار به وګورمه
په سر دې توره کاغۍ ګرځي
د جانان شپې ورځې پوره دی را به شينه
لاس دې تر زنې لاندې مه ږده
ستا به عادت وي ما به ورک کړي له وطنه
ځپلۍ يې پر بل سپرې شوې
جانان مې نيت دد کن کړی رانه ځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب : د مرغـانو، څلوربولـو (حيوانـاتو) او خزنـده ګـانو پـه برخـه انګېرنې :

د مرغانو ، حيواناتو او خزندوو په بآب انګېرنې ، فکر کول او تـانګېرل پـه ټولـو خلکو کې شته ، آن په خوب کې د ځينو حيواناتو ليدل هم جلا جلا مفهمونـه او تغيرونه لري . د بيلګې په ډول : په خوب کې د سپين آس ليدل د انسـان د بخت او طالع بيدارېدلو مانا ورکوي ، همدارنګه د ځوربو او چاغو غوايانو ليدل د يو چا د دولتمندۍ زېری ورکوي . د چاکور کې سپيږې پيدا کېدل ( د بخت باز پـه اوږه کېناستل ، يا لاس توره پېشکه څټل) او نورې انګېرنې شته چې زموږ رابطه د ژيو له نړۍ سره ثابتوي .

انګېرنې :

۱) ښځه چرګه په اذان راتلل .
۲) جرګه د ماشوم په لاس کېنول .
۳) په سهارو ماسپښين او مازديګر کې د توتکې ليدل .
۴) شاپرک په سر تېرېدل .
۵) د سپيږې نه وژل
۶) پرمېږبانو ختل
۷) د ککوي (کونګ) بوم آواز .
۸) د سور لنډي يا چغال ناره .
۹) په کور کې  د سوی ساتلږ .
۱۰) په کور کې د کوترو ساتل او دهغو الوزولو بدې اغيږې .
۱۱) دغوا د سر خوزولو ناروغي .
۱۲) لنګه غوا تر اوو ورځو له کوره نه ويستل .
۱۳) بې اودسه غوا نه لوشل .
۱۴) په غوا يا غوايي ناولې او به نه اچول .
۱۵) د هګيو چرګې ته د تودې ډوډۍ ورکول .
۱۶) د مار او لړم د پوستکو سوزول .
۱۷) د ميږې وزرې کول او نورې انګېرنې ......

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج : دوختونو ، ورځو ، مياشتو او کلونو په برخه کې انګېرنې :
۱) په سهار کې د شوم مخ نه ليدل .
۲) په سهار کې د توري پيشکې نه ليدل .
۳) په سهار کې د ناولې مخ نه ليدل .
۴) د لمر په خوب ليدل .
۵) په مازيګر چاته اور نه ورکول .
۶) په مازديګر او شپه کې د کور نه جارو کول .
۷) د شپې يا مازديګر خوب نه کول .
۸) مازديګر ښېرا نه کول .
۹) د شپې سر تور سر (تشناب ته نه تلل) .
۱۰) د سه شنبې په ورځ سر نه مينځل .
۱۱) د سه شنبې په ورځ کالي نه نيول .
۱۲) چهار شنبه سفر نه کول .
۱۳) په چهارشنبه د نوکانو اخيستل .
۱۴) په شپه په کور کې د نو کانو اخيستل .
۱۵) چهارشنبه خال وهل .
۱۶) د جمعې په شپه د حيواناتو د غوجلې ښه پاکول .
۱۷) د جمعې په شپه نوی لوست نه اخيستل .
۱۸) د جمعې په ورځ کالي پرېولل .
مثالونه :
مازديګر کې په هنداره کې نه کتل :
د مازديګر وخت ډېر لنډ دی ، د مازديګر په وخت کې بايد په هنداره مخ ونه کتل شي ، دا ځکه چې عمر يې هم لنډېږي او له بلې خوا د مازديګر ژېړې وړانګې چې کله د هندارې په مخ لوېږي نو له اروايي (رواني) پلوه د انسان په روان هم منفي اغېزې لري .

د : په بدن کې د ځينو نښو نښانو په برخه کې انګېرنې :

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځينې نښې (خالونه) ، دانې او نښې شته چې خلک يې دنيمکمرغۍ او بد مرغۍ نښې بولي ، دروزي پراخوالی او کموالی هم ورپورې اړوندوي . لکه :

- پيوسته وروځې .
- د لاس د روغيو د ليکو ارتوالی .
- د ماشوم د ګوتو په باره کې .
- په سينه تور داغ .
- دبدن په کيڼ اړخ کې تور خال .
- په تندي باندې ګونځې .
- دسترګې په سر د زخې راختل .
- په مخ تور داغ ، تور خال يا تور ټکی او نورې ....



شکل (۲۴)

## د بېلا بېلې يا متفرقه انګېرنې :

انګېرنې په افسانو ، کيسو ، حکايتونو او د ژوند په ډېرو اړخونو کې شته آن د ژوند د خوشحالتيا په برخه کې ،لکه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوشحال سړي خبرې کول يا دهغه جامې اغوستل د خلکو په روان مثبتې اغيزې لري ، وايي د يو پاچازوی ډېر ناروغه شو ، د دنيا طبيان يې ورپسې ولټول ، ملايان يې ستړي کړل ، په زيار تونو يې وګرزاوه ، خو بيا هم دده زوی ښه نه شو ، او تل يې د خفګان څادر په مخ را غوړېدلی و ، يو با تجربه سړي ورته وويل ، پاچا صاحب که غواړې ستا زوی ښه او خوشحاله شي نو د يو خوشحال سړي (چوپان) جامې ور واغونده نو ستا زوي به ښه پاچا ټول ځايونه ولټول ، په پای کې يو شيون يې له لرې وليده چې له ځانه سره ناځي او خوشحالي کوي ، خو چې دوی ورغلل چې جامې يې راوړې نو که ګوري هغه جامې نه لري .

نور کالي او جامې نه اغوستل :

زموږ پښتنانه تور کالي اوجامې نه اغوندي ، په پکتيا کې داسې عقيده موجوده وه چې که څوک تورې جامې واغوندي نو هغه به حتما ناروغه کيږي ځکه نو دغه کرکه د تورو
جامو په برخ کې شته له اروايي پلوه هم غمجن خلک تورې جامې اغوندي په يوه لنډۍ کې راغلي تورې جامې به په تن نه کړم يو کال مې کړې وي درنخ کڅوره ومه .

تور رنګ نه خوښول :

تور رنګ ته ډېر خلک په کرکه ګوري اتو بيا د نجلۍ لپاره خو تور رنګ عيب ګڼي لکه :

هلک که تور وي پروانشته

نجلۍ چې توره شي بنګړي دې خر څوينه ..

په توره لته وهل ، د چا تر منځ د تورې کتهوې تيرول ، د اورې ايرې مخ ته نه غور ځول اوداسي پع لسګونو او آن په سلګونو ټوټکې ، کرکې او انګېرې شته چې د ژوند په بېلابېلو برخو کې د خلکو او نسلونو د اوږد و تجربو محصول دي د زياتو معلوماتو لپاره وګورئ :

✓ د سر محقق علي محمد منګل ( د پښتو ځينې فولکلوري روايات

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ د ډاکټر زيور (انګېرني ، کرکې او کړنې .
- ✓ علي محمد منګل (فولکلوري ګلونه .
- ✓ د عبدالکريم پتنګ ( د غرونو ښوکې ) او نور ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۴ – د شپږم څپرکي د موضوعات لنډيز:

۱) خرافات او ناوړه دودونه د خلکو (عوامو) د منفي رقابت په نتيجه کې را منځته کیږي .
۲) خرافات ملا ماتونکي دودونه دي .
۳) خرافات هغه ناوړه دودونه دي چې له فرد نه نيولې بيا تر اجتماع پورې بدې رواني ، ټولنيزې او اقتصادي ناوړه اغېزې لري .
۴) خرافات د افراط او تفريط په تله ، د فرد او ټولنې د کرکتر تلل دي .
۵) دغه دودونه ملا ماتونکي بارونه او باجونه دي جې د ټولنې د انسانانو په روحيه ناوړه اغېزې پرې باسي .
۶) هغه دودونه چې د خلکو د تجربو په بهير کې کامياب راوتلي وي ښه ، او نور يې خرافي او اضافي شيان ګڼل کيږي .
۷) په پښتني ژوند کې خرافات لږو ډېر شته لکه (ولور) او شګون ، جادو او ... يا کونډه واړه ته په نکاح کول .
د خرافي دودونو د رامنځته کېدو عوامل :
۱) له لرغونو زمانو راغزيدلي ناوړه عرف (دود)
۲) بېسوادي او له تعليمه لرېوالی .
۳) په ټولنه کې د ناوړه اقتصادي حالت دوام او دسياسي ثبات نشتوالی .
۴) د نورو خلکو د کلتور تر ناوړه اغېزو لاندې را تلل .
۵) جغرافيوي حدود هم د دودونو په بدلون کې رول لري .
۶) لوبې هم د ښو دودونو په توګه د ولسونو مال ګڼل کيږي ، د ماشومانو ، خلکو او ولسونو تر منځ د نږديوالي غوره لامل کېدای شي .
۷) د لوبو د دوام علتونه دوه دي:
الف : د انسان (ماشوم) د فطرت برخه ده .
ب : لوبې دسيمه ايزو دودونو د ساتلو په نتيجه کې دوام مومي .
۸) د لوبو ته (لوبې)، ليبې، (ټوکه) او ټوکې ، (مستې) او نور نومونه ورکړ شوي دي.
۹) د (فولکلوري ګلونه) ليکوال علي محمد منګل ليکي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې غذا ، اوبه ، موسيقي ، ښوونه او روزنه ، د بشر په ژوندانه کې په زړه پورې نقش او رول لري ، دغه شان لوبې او سپورت هم د انسان د ژوند يو ضروري جز دی
۱۰) هغه لوبې ډېرې په زړه پورې وي چې طبيعي بڼه ولري او د انسان له فطرت سره تړاو ولري ، لکه د ماشوم لوبې.
۱۱) لوبې رواني اغيزې لري ، يعني د ماشوم په ټولنيز کرکتر جوړه او خوشحالي کې مثبت رول لري.
۱۲) لوبې د بدن پالنه او دروح روزنه ده .
۱۳) (ژاک لوک) چې د ماشومانو ارواپوه و ، تل به ددوستانو کره ورته او د هغو کوچنيانو سره به يې ښۀ روغبړ او آن لوبې کولې.
۱۴) پخوانيو يونانيانو ، سپارتايانو ، آريايانو او نورو قومونو او پښتو به د ماشومانو د زړورتيا لپاره هغوي لوبو ته هڅول لکه همدا اوس هم د نښې ويشتلو د غيږو نيول په پښتنو کې د او لادنو دروحيې دلوړ ولو لپاره دي .
۱۵) د پښتنو ملي لوبې د سيمه ايز خصوصيت له درلودلو سره سره ملي ځانګړنې هم لري .
۱۶) اروابناد محمدظاهرشاه يو وخت د ماشومانو د ملي روزنې په برخه کې ويلي وو:
(هر ځونه جې په ملي تربيه او اخلاقو کې کوښښ کوو هغو مره به په شرافت سره ژوند کوو!)
۱۷) اروابنآد محمد ګل نوري چې يو ممتاز فولکورست و ، ويلي و : ... پښتني او ملي لوبې چې د پخوانۍ زمانې څخه په دوی کې جاري دي ، مثلا ملي اتڼ ، خوسيو توپ ډنډه او نورې نورې لوبې) ...
۱۸) نادرشاه شهيد ويلي وو: (دلوب او سپورت وخت په ځوانۍ کې دی ، د يو ورزشکار د پاره لازم دي چې خپله ټوله قوه وساتي چې ددې قوې په ذريعې سره د ورزش وانتها درجې ته ورسيږي ، نو هر کله چې دی د خپلو قواوو په ساتلو سره مکلف سو ، نو لازمه ده چې د هر ډول افراط او اصراف څخه چې د اخلاقو د فساد سبب ګرځي پرهېز وکي ، هر کله چې ځوان په ځوانۍ کې خبل ځان په ښه ډول سره وساتي ، نو دی به هم د صحت له امله او هم د اخلاقو له حيثه په آينده ژوند کې خوشحاله وي.)
۱۹) لوبې ډولونه لري جې د سن ، جغرافيوي موقعيت ، ځوانۍ او لويوالي په کلونو کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰) د عمر له پلوه په لاندې ډول دي:
a) د ماشوم والي لوبې
b) د هلکتوب دورې
c) د ځلمې توب
d) د ځوانې.
e) د لوی سن او آن سپين ږيري توب.
۲۱) پخوانۍ او اوسنۍ لوبې ډېر نومونه لري چې متن ته مراجعه وکړئ.
۲۲) لوبې ځينې سيمه ايزې او ځينې ملي او ګډې وي او په لاندې ډول دي:
a) الف د ټولو ګډې لوبې
b) ځانګړې يا د يوې سيمې لوبې
۲۳) پسول يا ګانې ډېر ډولونه لري چې نومونه يې ياد شوي دي.
۲۴) دګاڼو د کارونې وختونه هم ښودل شوي دي.
۲۵) پسول کلتوري يو ارزښتمنه او ښايسته يوه ښه وسيله ده.
۲۶) پسلو د ښځو د خوښونې او ښايست يوه ښه وسيله ده.
۲۷) پسول د ښځو د خوښونې او ښآيست يوه ښهٔ وسيله ده.
۲۸) په پښتو ادب کې ګاڼه ځانګړې ارزښت لري.
۲۹) ګانه يه لنډيو کې تر ټولو ځلانده ځېره لري.
۳۰) د ګاڼو نونونه ډېر ښکلي او خاص پښتو دي.
۳۱) په سندرو کې هم د ځينو ګاڼو ځېرې راغلي دي.
۳۲) د پښتني پسول نومونه ډېر ښکلي دي لکه باهوګان ، بنګري ، امېلو ټيک ، نته ، چارګول ، امېل ، ګول ماخۍ او ....
۳۳) نرخونه . جرګې او قومي لارې هم پښتني غوره دودونه دي.
۳۴) نرخ هغه ځانګړې لارې او اصول دي چې د يوکليوال منلي دود ارزښت لري.
۳۵) نرخونه ، داسې ولسي منلي قوانين دي چې دژوند د درنښت او پاينښت سبب کيږي لکه د جګړو مخنيوی.
۳۶) نرخ ولسي پريکړه ده.
۳۷) د نرخ پيدا ايښت د لرغونو زمانو خبرده ده.
۳۸) نرخ قومي پريکړه ده کله چې يوه پريکړه په ولس کې کاميابه راووځي نو هغه پريکړه در اتلونکي لپاره (نرخ) ګڼل کيږي.
۳۹) پريکړې د نرخيانو په واسطه تر سره کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۰) په پکتیا په تیره په منګلو کې د هر څه (وژول، یا نورو کارونو نرخونه بېل بېل باج او مصرف لري ).
۴۱) تېږه (ډبره) هغه قرارداد او بندیز دی چې د دواړو دښمنو ډلو ترمنځ ایښودل کیږي.
۴۲) ننواتې هم یو پښتني دود دی په فارسي کې وایي: ګردن نرمه شمشیر نه بره) په پښتو کې (ماته غاړه ستونزې کموي) .
۴۳) د خلکو تجربې هم یو ډول دود دی د ژوند په اوږدو کې دغه تجربې صورت نیسي.
۴۴) د خلکو په تجربو کې (ټوټکې ، د خلکو انګېرنې ، روایتونه او نورشامليږي) .
۴۵) انګیرنه یو ډول احساسي درک دی .
۴۶) انګېرنې ډېر ډولونه لري لکه مذهبي ، د حیواناتو د انسان اړیکې ، انګېرنې دوجود او نورو شیانو له طبیعت او موسم سره د خلکو ارتباط او نور.....
۴۷) ټوټکې ، د خلکو ډول ډول تجربې او انګېرنې په پښتو ادب کې هم ځان ښکاره کوي لکه :

نن مې د لاس باهو شرنګیږي
یا مې یار مړ دی یا په لار دی را به شینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵ – د شپږم څپرکي پوښتنې:

۱) د خرافي دودونو ناوړه اغيزې په ګوته کړی ؟
۲) خرافات څه ډول دودونه دي ؟
په پښتني ژوند کې د څو خرافي دودونو نوم واخلی ؟
د خرافي د۴) ودونو درامنځته کېدو لاملونه په ګوته کړی ؟
۵) په خپل کلتور او فرهنګ باندې د نورو اغيزې (مثبتې او منفي) څنګه څېړی؟
۶) لوبې، د خلکو غوره دود دی که نه ؟
۷) طبيعي او ښې لوبې کومې دي ؟
۸) د پښتنو ملي او ځانګړې لوبې کومې دي ؟
۹) څو ډوله لوبې پېژنی؟
۱۰) کومې لوبې زموږ اصلي لرغوني پښتني او کومې له نورو ولسونو راغلي دي؟
۱۱) توپ ډنډه او کرکيټ څه توپير لري؟
۱۲) د خوسي لوبه څه ډول لوبه ده؟
۱۳) ميلمه پالنه څه ډول لوبه ده؟
۱۴) په پښتنو کې ميلمه پالنه دود دی که فرض؟
۱۵) څه ډوله ګاڼه پيژنې؟
۱۶) د پسول کلتوري او ادبي ارزښت په ګوته کړی؟
۱۷) په لنډيو کې د ګاڼو څېره څنګه ځيلدلې ده؟
۱۸) پښتني پسول ځانګړني کومې دي؟
۱۹) کوم پسول خاص د پښتنو دی؟
۲۰) په سندرو کې د ځينو ګاڼو څېرمه کومه ده؟
۲۱) په ټپونو کې د ګاڼې څېره څه ډول ده؟
۲۲) اوربۍ څه ډول ګاڼه ده؟
۲۳) لونګين څه شي ته وايي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۵) الفت صاحب له پيزوان سره څه ډول مينه کړي؟
۲۶) نرخونه ، جرگې او قومي لارې څه ډول اصول دي؟
۲۷) نرخ څه وخت پيدا شوی دی؟
۲۸) په پښتنو قومونو کې په تيره منگلو کې نرخونه څه دول دي؟
۲۹) څوک مرکچيان وي؟
۳۰) آيا نرخونه په ټولو امورو کې يو شی دي؟
۳۱) توره سپينه څه ده؟
۳۲) خلوت څه ته وايي؟
۳۳) تېښه څه ډول ده؟
۳۴) د خلکو د تجربو په برخه کې څه پوهيږي؟
۳۵) د کليوالي طب ارزښت په گوته کړی؟
۳۶) خوشحال خان په نظر بوټي په طبابت کې څه ارزښت لري؟
۳۷) لومړنی سړی چې د فولکلور په برخه کې عملي هلې ځلې کړي څوک وو او د آثارو نوم يې څه وو؟
۳۸) دټوخلې ، قولنج ، گېډې درد ، اشتها نه لرلو سل او نورو ناروغيو لپاره کوم بوټي په کاريږي؟
۳۹) انگېرنې څه ته وايي؟
۴۰) څو ډوله انگېرنې پېژنی؟
۴۱) د څو ډوله انگېرنو نوم واخلی؟
۴۲) سپي په کور کې نه ساتل؟
۴۳) د لمر او سپوږمۍ تندره څه ډول انگېرنه ده؟
۴۴) له شاه د نورو په پښو ورختل څه ډول تعبير وي؟
۴۵) په لنډيو کې د انگېرنو څېره څنگه ځلول شوې ده؟
۴۶) د مرغانو ، څلوربولو او خزنده گانو په باب انگېرنې څه پوهيږي؟
۴۷) په کور کې د ځينو مرغانو ساتلو ارزښت څه دی؟
۴۸) ولې د هگيو چرگې ته توده ډوډۍ ورکوي؟
۴۹) په پښتو عرف کې دور څو نومونو واخلی؟
۵۰) دورځو دارزښت ، ښېگڼې او اغيزو په باب عرفي رايتونه کوم دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نيتجه

د پښــتنو فولکلـور پېژنـدنې کتـاب ، لکـه بـل هـر تدريســي اثـر لـه درې برخـو رغېدلی دې ، لکه :
( مقدماتي ، متن او موضوع ، نتيجه ، نومونې او ماخذونو برخې)
دغـه اثـر شـپږ ونو لـري ، پـه لومړيـو دوو نـو کـې د فولکلـوري او ولسـي پـانګې ، پـوهې او د فولکلـور د ارې او اصـل او پـس منظـر پـه برخـه کـې پـوره معلومـات وړاندې شوي دي .
په راتلونکو څلورو نـورو ونـو کـې پـه فولکلوريکـو صـنفونو او پـه ځـانګړې توګـه پښتو فولکلوريکو ژانرونو د حدود او هندسـي بڼی ..... پـه بـاره کـې لـه مثـالونو سره معلومات راوړل شوي دي په هر کې د مطالبو لنډيز د لاټينګار په ډول راوړل شوی او هر ته تمرين هم ورکړ شوی دی .
په اثر کې مهم اصطلاحات په پای کې تشـريح شـوي و د کتـاب ماخذونـه هـم پـه ګوته شوي دي .
کتــاب د محصــلينو لــه ســويې ســره ســم ليکــل شــوی دی او د هــرې موضــوع او مضــمون ســپيڅنه شــوې ده . د کلتــور ، فولکلــور او ټولــو فولکلــوري ژانرونــه تعريفونه او مثالونه په واضح ډول سره شوي دي .
لنډه دا چې ، دغه اثر د څو پر له پسې کلونو د تدريس په نتيجه کې راټول شوی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نومونو ( اصطلاحاتو) سپړنه

انټرپالوجي (Interpalogy) : کلتوري بشرپېژندنه .
استيتکي : ښکلا پېژندنه .
سايکالوجي : اروا پوهنه .
انتروپوس لوګوس : Anthropas lougus
کلتور پېژندندونکی انسان
اسطوره : مفرده بڼه (هغه کيسه چې د انسان په باورونو د عقيدو پورې تړاولري) او اسطورې يې جمع ده .
آرياناويجه : د هغو پخوانو آريايانو ژبه ده ، چې له کوچېدو د مخه په يوه ځای کې اوسېدل .
فولکلور سوسايټي (folklore Society) : هغه ټولنه چې په لومړي ځل انګريزانو د فولکلور د راټولو لپاره جوړه کړه .
فولکلور ريکارد : هم يوه مجله وه او له فولکلور سوسايټۍ څخه وروسته د فولکلور ټولنې موضوعاتو ته وقف شوه .
فولکلور ژورنال : هغه فرهنګي ټولنه ، چې د فولکلور د راټولو لو چارېې يې پر غاړه وې
(۱۸۴۶ – ۱۸۸۷ز کلونو) را وروسته (ملي هنداره) د محمد ګل نور فولکلور اثر .
ژانر : لرغونپېژندنه (باستان شناسي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وړانديزونه

پښتو فولکلور پېژندنه د دې هيواد د ګڼو ولسونو د کلتور او ولسي ژوند روښانه هنداره ده . ليکل شوی اثر د ډېرو کلونو د تدريس نتيجه ده .
د دغه اثر د بشپړولو او ښه ليکلو لپاره ډېرو ځای ونو ، خلکو ، ښځوا او نارينه وو ته مراجعه شوې ده . د اثر په ليکلو کې ما ډېروس کړی دی ، خو طبيعي خبره ده ، چې ډېرې نيمګړتياوې به لري . د لابشپړولو لپاره لاندې وړانديزونه لرم :
۱- د يوه هيواد په کلتور پوهېدل ، دهغه هېواد د خلکو په طبيعت او روان پوهېدل دي
۲- ولسي پوهه هر اړخيزه مطالعه غواړي .
۳- محصلينو ته ښايي ، چې د خپلې سيمې فولکلوري مرغلرې راټولې او خوندي کړي
۴- د محصلينو لپاره دې ولسونو ته د تګ لارې چارې برابرې شي ، چې څېړنې وکړي .
۵- د خلکو تجزيې ، پوهنې ، انګېرنې ، متلونه او د معنوي او مادي ارزښتونو د خونديتوب لپاره دې هڅې وشي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذونه


۱- ابن سینا ، تمع (اووم چاپ ) تهران ، خیابان فردوسي ، ۱۳۶۲ هـ کال – ۲۴۳ مخ .

۲- اثر عبدالحليم ، پښتو ادب ، پېښور : اداره اشاعت سرحد ۱۳۷- ۳۷۶ مخ .

۳- اثر عبدالحليم بآغ و بهار ، پښتو چاربيتی (قلمي) ، پېښور ، پښتو اکيډمۍ ، ۲۰۰۶ م کال ؤ، ۲۲۷ مخ .

۴- اڅکزی عبدالطيف ، پټه خزانه ، (دويم چاپ) کندهار ، د پوهني مطبعه ۱۳۳۹ – ۱۶۶ مخ

۵- احساس عبدالرحمان ، نری نری باران دی ، د کوچنيانو د فولکلوريکو سندرو ټولګه ړ پېښور : قصه خواني ۱۳۸۴ . ۷ مخ .

۶- اديب عبدالکافی ، اولس مجله ، کويټه : ۱۹۷۷ م کال . ۱۲مخ .

۷- ارين پور . ا . ج . جامعه شناسي هنر ، کابل : ګوندي مطبعه ۱۳۶۴ کال ۹۷- ۹۸ مخونه .

۸- الفنسټن – مونټ سټورانټ د کابل سلطنت بيان (لومړی ټوک ) د م . ج کاکړان او ن سوبمن (ژباړه) کابل : د پښتو څېړنو مرکز ۱۳۵۹- ۲۶۴ مخ .

۹- انصاري بايزيد ، خيرالبيان (دويم چاپ) پېښور : يونيورستټی ، ۱۳۸۰ کال ۷۷۰ مخ .

۱۰- بابا عبدالرحمان ، ديوان پېښور : صبا خپرندويه ټولنه ۱۳۸۰ کال ۷۷ مخ .

۱۱- بخاري سيد مير پادشاه قند مجله ، مردان : ۱۹۷۲ م کال ۱۸ مخ .

۱۲- بختانی ، عبد الله ، توربرېښ ، کابل : پښتو ټولنه ۱۳۴۷ هـ کال . د ج مخ .

۱۳- خوشحال خان او يو ثور فرهنګيالي خټک ، کابل : د مرستې او پيوستون ټولنه ۱۳۸۰ کال ، ۱۱۴- ۱۱۵ مخونه .

۱۴- بختاني عبدالله د فولکلور پوهنې سمپوزيم ( د مقالو مجموعه) کابل : د علومو اکاډيمی ۱۳۶۶ ، هـ ل کال ۸۱ مخ ،

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱۵- براګسنکی . ی . س . د تاجیکی ولسي نظم تاریخ ،مسکو : ۱۹۵۶ م کال ۲۴ مخ .
۱۶- برزین مهر عبدالعلي . ضرب الامثال و کنایات پېښور : قصه خوانی ، ۱۳۷۹ هـ ، ل کال ، الف مخ .
۱۷- بینوا عبدالروف پښتو متلونه کابل : د علومو اکاډیمی ، دولتي مطبعې چاپ ۱۳۵۸ ه کال ۷۷ مخ .
۱۸- پتنګ ، عبدالکریم ، د غرونو څوکې کابل : کابل پوهنتون مطّبعه – ۱۳۵۹ ه ، ل کال ۸ مخ .
۱۹- ترکان سید احمد ولسي سندرې (دویم ټوک) کابل : د قومونو او قبایلو وزارت نشرات ۱۳۶۶ هـ ، ل کال ، ۵۰ مخ .
۲۰- ترکي محمد قدیر (مردم شناسي) (جمله) کابل : پښتنو ټولنه دولتي مطبعه۱۳۱۵ هـ ، ل کال ، ۶۳ مخ .
۲۱- ترکی غلام محمد ، پښتو دودونه کابل : پښتو ټولنه دولتي مطبعه ۱۳۵۳ هـ ، ل کال ، لومړی مخ .
۲۲- جلال نایبي ، محمد رضا ، دریګویدا سرودنو غور چاڼ (ژباړه) تهران : دا میر کبیر خپرونه . ۱۳۴۸ کال ، ۳۷۸ مخ .
۲۳- جلالي غلام جیلاني . طلوع افغان (مقاله) کندهار : ۱۳۱۷ هـ ، ل کال ۴ مخ .
۲۴- حبیبي عبدالحی ، پښتو ادبیاتو تاریخ (دویم ټوک ( دویم چاپ) کابل : کابل پوهنتون د ادبیاتو خپرونه ، ۱۳۲۵ هـ ، ل کال ۱۵- ۱۶ مخونه .
۲۵- حبیبي عبد الحی د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړی او دویم ټوک (دویم چاپ) پېښور ږ دانش خپروندیه ټولنه ۱۳۸۴ هـ ، ل ۴۴۲ مخ .
۲۶- حبیبي عبدالحی د خلکو تجربې (تفریظ) کابل : کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی . ۱۳۵۶ هـ ، ل . کال لومړي مخ .
۲۷- خاورې غوتۍ . د پښتو شفاهي ادبیات (شکل و مضمون) کابل : پښتو ټولنه دولتي مطبعه ۱۳۶۶ هـ . ل . کال . لومړي مخ.
۲۸- ختک خوشحال ، کلیات پېښور : دانش خپرندویه ټولنه ، ۱۳۴۰ هـ ل کال ، ۴۳۱ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



٢٩- همیش خلیل طب نامه : لومړي چاپ (مقدمه) پېښور : یونیورستې . ۱۹۷۵ کال ، ۲۰ او ۲۱ مخونه .
٣٠- ختک عبدالقادر ، ګلدسته (ژباړه) کابل : د علومو اکاډیمی ، ۱۳۸۳ هـ ، ل کال ۲۷۲- ۳۳۲ مخونه .
٣١- داود- داورخان ،خوشحال او فولکلور ، پېښور اکاډیمی ۲۰۰۶ م کال ، ۶۰ مخ .
٣٢- دوست محمد ، فولکلوري ګېډۍ پښتو ټولنه ، دولتي مطبعه ۱۳۵۵ هـ ، ل کال ، ۶- ۷ مخونه .
٣٣- د پښتو ولسي ادب لارې ، کابل : پښتو ټولنه . دولتي مطبعه ۱۳۵۶ کال . ۱۴ مخ .
٣٤- د پښتو ولسي ادب لارې ، (دویم چاپ، پېښور : دانش خپرندویه ټولنه ۱۳۸۴ مخ .
٣٥- دورانۍ مومنه ، د ملنګ جان په اشعارو کې فولکلوري عنعنې . کابل : ۱۳۸۵ کال ۲۹ مخ .
٣٦- ډارمستتر جیم . د پښتو نخوا د شعر هاروبهار کابل : پښتو ټولنه ۱۳۵۶ هـ ل کال . ۱۶ مخ .
٣٧- رشاد عبدالشکور چسته او سسته قافیه (لکرنوټ) کابل : کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی . پښتو څانګه ، ۱۳۶۴ هـ ل کال . ۱۲ مخ .
٣٨- رښتین صدیق الله د پښتو ادبیاتو تاریخ کابل : پښتو ټولنه ۱۳۵۲ هـ ل کال ۳۰ او ۳۱ مخونه .
٣٩- رسا سید رسول . ارمغان خوشحال (سریزه) پېښور : یونیورستې ز ۱۹۶۴ هـ ل کال ۱۷ مخ .
٤٠- رسا سید رسول د ژوند سندره . (دوویم چاپ) پېښور : د پښتو چیړنو او پراختیا مرکز ۱۳۸۵ هـ ل کال ، ۱۲۶ مخ .
٤١- رفیع حبیب الله ژبپالنه کابل : پښتو ټولنه د ژبو او ادبیاتو مرکز ګوندي مطبعه ۱۳۶۱ هـ کال ۷۷ مخ .
٤٢- رفیع حبیب الله د خلکو سندرې . کابل : پښتو ټولنه دولتي مطبعه ۱۳۶۰ هـ ل کال ۸۰ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۳- روهي محمد صديق د ښيرڼي لاربنود . کابل : پښتو ټولنه دولتي مطبعه ۱۳۴۵ هـ کال ۱۰۳ مخ .
۴۴- روهي صديق ادبي څېړنې ننګرهار : د ننګرهار پوهنتون نشرات ۱۳۶۰ هـ ل کال . ۱۸۲ مخ .
۴۵- روهي محمد صديق فولکلور پيژندنه کابل : دعلومو اکاډيمی : دولتي مطبعه ۱۳۶۸ هـ ل کال ۱۷- ۱۸ او ۳۵ مخونه .
۴۶- زغم احمدشاه پښتو چاربېته کابل : کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځی .
۴۷- زلمی محمد ولي : د کندهار مشاهير (صوفيان ، عارفان او مزارات . کندهار ، اطلاعات او کلتور ، ۱۳۴۹ کال ۱۰۷ مخ .
۴۸- زيار مجاور احمد شاه پښتو شعر څنګه جوړيږي ؟ کابل : د اطلاعاتو او کلتور وزارت خپرونه ۱۳۶۹ کال . ۱۳۵ او ۳۶ مخ مخونه .
۴۹- زيور، زيورالدين ، انګېرنې ، کابل : د کابل پوهنتون مطبعه . ۱۳۶۴ ه کال . ۷ مخ .
۵۰- سيار وسيع الله ، به پښتو ادب کې ورنه ، کابل : کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځی ، پښتو څانګه . ۱۳۸۶ ه ل کال . ۳۱ مخ .
۵۱- سيال کاکړ ولي محمد ، فولکلوري سوغات کويټه ۱۹۷۸ . ۳ مخ .
۵۲- سيال کاکړ ، پښتني فولکلور ، کويټه : اسلاميه پريس .
۵۳- پښتو ادبي دنيا کويټه : تريتو چاپ ۱۹۷۰ م کال د ص مخ .
۵۴- شاکرنوراحمد ،بديع وبيان(دريم چاپ)کابل:کابل پوهنتون ۱۳۵۵هـ ل کال۱۲مخ .
۵۵- شاعرجمال،عقل تمام،پېښور:قصه خوانی.اسلاميه مطبعه۱۹۷۰ کال .۲۴ مخ.
۵۶- شعوراسدالله،چاربيتي هاي ولسي پشتوکابل:دولتي مطبعه۱۳۵۷ه ل ۱۱ مخ .
۵۷- صافي ضمير ، پښتني سندرى(دويم ټوک)کابل:پښتوټولنه ۱۳۵۵ه ل کال ۱۴ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۸- صاحبزاده حميدالله کاکړی لنډی ، پېښور : يونيورستي . ۱۹۶۷ م کال .
۱۴ مخ
۵۹- طاهر محمد نواز ، آدم خان او درخانۍ (سريزه) پېښور : پښتو اکيډمي .
۱۹۵۹ کال . ۷ مخ .
۶۰- روهي ادب (لومړی چاپ) پېښور : پښتو اکاډيمي . ۱۹۸۷ . ۶۴۰ مخ .
۶۱- پښتو ضرب الامثال ، پېښور : پښتو اکاډيمي . ۱۹۷۵ م کال . ۵۵ او ۶۷
مخونه
۶۲- ټپه او ژوند ،پيښور : پښتو اکاډيمي . ۱۹۸۰ کال ۳۱- ۳۵ مخونه .
۶۳- طالب احمد ين . چاربيتي او منتخب رباعيات پيښور : قصه خوانی
۱۹۹۸ کال ۶۰ مخ .
۶۴- عبدالقادر . د فکريون پېښور : قصه خوانی ۱۹۶۴ م کال ۲۰۵ مخ .
۶۵- عطاالله قاضي . د پښتو تاريخ لومړی ټوک . کابل : د دفاع وزارت مطبعه
۱۳۵۶ ه ل کال ۳۶۳ مخ .
۶۶- عطايي محمد ابراهيم د پښتو پر شفاهي داستان يوه تخليلي څېړنه . کابل
: دولتي مطبعه ۱۳۷۰ کال . ۵۱ مخ .
۶۷- فرهنګ مردم (مجله) کابل : د علومو اکاډيمی ۱۳۶۴ کال . ۱۲۳ مخ .
۶۸- عميد حسن . فرهنګ عميد (دويم ټوک) (۲۵ چاپ ) تهران : دامير کبير
انتشارات . ۱۳۸۱ ه ل کال . ۱۵۴ مخ .
۶۹- غلجی ملګری غلام محي الدين . پښتنې ملي اتڼونه او نڅاوې : کابل :
پښتو ټولنه . د فولکلور او ادب ټولنه . ۱۳۵۲ کال د الف مخ .
۷۰- غروال محمد عارف ، غرنۍ سندرې کابل : د علومو اکاډيمی ، دولتي
مطبعه ۱۳۶۰ کال . ۱۲۱ مخ .
۷۱- فردوسي ابوالقاسم از فردوسي بياموزيم . کابل : کابل پوهنتون . ادبياتو
پوهنځی خپرونه ۱۳۶۱ ه ل کال . ۹۸ مخ .
۷۲- فرهادي روان د خلکو تجربې (مقاله تقريظ) کابل : کابل پوهنتون د
ادبياتو او بشري علومو پوهنځی ۱۳۵۶ ه ل کال . ۹ مخ .
۷۳- ملنګ جان دملنګ جان خوږې نغمې (غورچاڼ) ننګرهار ، د ننګرهار
فرهنګي ټولنه ، ۱۳۷۶ ه ل کال . ۶۱ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۴- لايق سليمان پښتو لنډۍ (سريزه) کابل : د علومو اکاډيمی . ۱۳۶۴ ه ل کال . ۴ مخ .
۷۵- منګل علي محمد فولکلوري ګلونه : کابل : دعلومو اکاډيمی دولتي مطبعه ۱۳۶۰ ه ل کال . ۲ مخ .
۷۶- د ننګ کيسې کابل : د علومو اکاډيمی . ۱۳۸۴ کال . ۲۰۱مخ .
۷۷- منګل علي محمد ولسي پوهنه (کابل مجله) کابل : پښتو ټولنه . ۱۳۵۶ کال . ۳۷ مخ .
۷۸- منګل علي محمد ، فولکلوري ګيډۍ کابل : پښتو ټولنه . ۱۳۵۵ کال . ۱۲۹ مخ .
۷۹- منګل علي محمد ، فولکلوري ګلونه . کابل : د علومو اکاډيمی ، دولتي مطبعه ۱۳۶۰ کال . ۱۴۳- ۱۴۴ مخونه .
۸۰- منګل علي محمد . د پښتو فولکلوري روايت ، . پېښور : قصه خواني . ۲۰۰۷ کال لومړی مخ .
۸۱- مومند مجاور احمدشاه لنډۍ . کابل : د علومو اکاډيمی . ۱۳۶۴ کال . ۱۳ او ۱۴ مخونه .
۸۲- ناصر نصرالله . دپښتنی فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود کابل : د علومو اکاډيمی ۱۳۸۳ کال ۹۰- ۹۱ مخونه .
۸۳- نېژدې مصطفی : پښتني فولکلور کابل : د علومو اکاډيمی دولتي مطبعه ۱۳۶۵ کال ۱۰ مخ .
۸۴- نوري ګل محمد . ملي هنداره (لومړی چاپ)پېښور : قصه خوانی . ۱۹۷۱ کال . ۱ او ۲ مخونه .
۸۵- ملي سندري (سريزه ؟ ) کندهار : ۱۳۳۰ کال . لومړی مخ .
۸۶- ملي لوبې . کابل : پښتو ټولنه . ۱۳۲۳ کال . ۲۰ مخ .
۸۷- هدايت صادق . نيرنګستان (دريیم چاپ ) تهران :داميرکبيرخپرونه ۱۳۴۲ کال .۱۴مخ.
۸۸- هدايت صادق . نوشته هاي پراګنده ايران : تهران ، خيابان شهر ۱۹۹۱ م کال ۱۲۸ مخ .
۸۹- هوتک محمد بن داود . پټه خزانه . (دریيم چاپ) کندهار : د پوهنې مطبعه . ۱۳۳۹ کال ۶۶۰ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۰- هيوادمل زلمی . پښتو ولسي ادبيات لاهور : ملت پريس . ۱۳۷۶ ۱ او۲ مخونه.

۹۱- يون محمد اسماعيل . د پښتو شعر هندسي جوړښت . پېښور : دانش خپرونديه ټولنه . ۱۳۷۷ کال . ۳۵ – ۴۰ مخونه .

۹۲- soppy progress publicsher A : Dictionary of philo ۱۹۲۱ – ۱۳ .

۹۳- Folklore Encyclopedia Birtannica London: ۱۹۷۰ -۱۱۲.

۹۴- Panu marif, methodology a dictionary of philosophy ope it ۱۹۸۹ p-۲۸۹ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی


د افغانستان ملي تحريک له هېواد پال او فرهنګپال شخصيت ښاغلي (محمد زمان مموزي) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته يې اوږه ورکړه. ملي تحريک وياړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ يې پيل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هيله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

يو ځل بيا د دې اثر له ليکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د ليکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مينه

د افغانستان ملي تحريک

(c) ketabton.com: The Digital Library




د خپرونو لړ: ٦٢

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**